لومړی څپرکی

د افغانستان بیا را ژوندي کول

د څپرکي موخې

۱- د احمد شاه بابا واک ته د رسېدو څخه وړاندې د اقتصادي، سیاسي او ټولنیز حالت سره پېژندګلوي.

۲- د افغانستان بیاروغاونې سره پېژندګلوي.

۳- د احمد شاه بابا د شخصیت او د هغه د پوځي سوقیاتو په اړه معلومات لاس ته راوړل.

٤- د احمد شاه بابا د ځای ناستو او د هغوی د واکمنیو سره پېژندګلوي.

٥- د انګلیسانو د پالیسۍ په اړه معلومات او د هغوی پېژندګلوي.

٦- د خپل مینځي شخړو په اړه معلومات تر لاسه کول.

۷- د مشروطیت د خوځښت سره پېژندګلوي.

۸- د تاریخي نقشو د رسم کولو مهارت.

۹- په نقشو پوهېدل او د هغو پر مخ د پام وړ ځایونه ښودل.

۱۰- د سیاسي او کلتوري وضعیت تحلیل.

د احمد شاه بابا واک ته تر رسېدو څخه وړاندې د افغانستان سیاسي، اقتصادي او ټولنیز حالت



بایزید انصاري

په دې لوست کې به سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، خپلواکي غوښتونکي خوځښتونه او د خلکو په ویښونه کې د هغوی ونډه او همدارنګه د افغانستان د بیا رغاونې څخه مخکې معلومات درکړل شي.

د شپاړسمي پېړۍ په پیل کې د افغانستان په ننه او ګاونډیو هېوادونو کې سیاسي ناوړې پېښې رامنځ ته شوې، چې دغه ګډوډۍ د افغانستان په زیان تمامې شوې. د سلطان حسین بایقرا د مرګ ورسته په (۱۵۰۵میلادي کال) کې افغانانو خپل مرکزي دولت له لاسه ورکړ او تجزیه غوښتونکو په هر ګوډ کې پاڅونونه پیل او یو له بله سره په جګړو اخته شول. په (۱۵۰۱م.) کال شیباني دولت په ماوراالنهر کې جوړ شو. په (۱۵۰۲م.) کال کې په ایران کې صفوي دولت او په هند کې مغولي دولتونه منځ ته راغلل، درې واړو نوي دولتونو د افغانستان په ختیځ، لوېدیځ او شمال کې په یرغلونو پیل وکړ او افغانستان تجزیه شو. مرکزي دولت له منځه لاړ او پوځي سوقیاتو افغانستان د جګړو په ډګر بدل کړ. یرغلګرو دولتونو د ډېرو ځمکو د نیولو لپاره تل یو پر بل یرغلونه کول. د هغوي د حملو له کبله زمونږ لوی او ودان ښارونه په کنډوالو بدل شول، اشغالګرو به ډول ډول ظلمونه کول، ورځ په ورځ د خلکو کرکه له هغوی څخه ډېرېدله او خلکو په پټه د خپلواکۍ لپاره د استعمار پر ضد مبارزه پیل کړه. د لومړي ځل لپاره صفویان د هرات، اندخوی، کندهار او بلوچستان ولایتونو له پاڅونونو سره مخامخ شول او افغانانو ډېر مقاومت وکړ. جګړې دومره کلکې وې، چې کندهار څو ځله د صفویانو لاسونو ته لوېده او بېرته به افغاني مبارزینو نیوه. صفویانو ددې پاڅونونو د غلي کولو لپاره له ډله ییزې وژنې او د شتمنیو له لوټولو څخه کار اخیسته، خو د مبارزینو پاڅونونه په ټوله معنا غلي نه شول او کله چې به د خپلواکۍ د مبارزینو خوځښت په یوه ځای کې غلی شو، په بل ځای کې به یې بیا په مبارزه پیل وکړ همداوه چې د خپلواکۍ خوځښتونه یو په بل پیسې رامنځ ته شول.

د روښانيانو خوځښت: د دې خوځښت لارښود با يزيد انصاري چې په پير روښان مشهور او د شيخ عبدالله انصاري زوی و چې د وزيرستان په (کانې گرم) کې زېږېدلی دی. پيرروښان د مغلول د حکومت او د هغو خانانو د ظلم او استبداد پر ضد چې له مغولي دولت سره يې مرسته کوله، خلک يې مبارزې ته رابلل، پيرروښان يو متصوف او د طريقت خاوند و. لومړی يې د توچي په دره کې په تبليغ پيل وکړ او وروسته يې تيرا خپل مرکز وټاکه. مغولي حاکمانو د هغه پر ضد اخوند درويزه ننگرهاری تحريک کړ او اخوند د رويزه د هغه تعليمات، د اسلام د مبين دين پر ضد وبلل او هغه يې د (پير تاريک) په نامه يادکړ. په پای کې پير روښان له مغلو سره په يوه جگړه کې ووژل شو. د هغه تر مرگ وروسته يې زوی جلا الدين رهبري پر غاړه واخيسته په (١٦٠٠) ميلادي کې يې له مغلو سره ډېری جگړې وکړې.

په ختيځ کې له خيبر څخه تر تيرا او په سهيل کې يې کابل او غزنی ونيو. جلال الدين هم په جگړه کې ووژل شو. د جلال الدين تر مرگ وروسته د پير روښان لمسی (حداد) د رهبرۍ مقام ته ورسېده او نوموړی د تيرا د سيمې په يوه جگړه کې ووژل شو. وروسته (عبدالقادر) د مشرې لپاره و ټاکل شو.

(بي بي علايي) د خپل زوی عبدالقادر سره مرسته کوله او ډېر ژر يې پېښور ونيو، خو ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې د قبايلو ترمنځ بې اتفاقي پيدا شوه. په (١٦٣٦) ميلادي کال کې مغلو عبدالقادر او د هغه مور ونيوله او هندوستان ته يې تبعيد کړل او د روښان ملي خوځښت د مغلو او د سيمه ييزو حاکمانو د دسيسو له امله وټکول شو.

د خوشحال خان خټک تر مشرۍ لاندې خوځښت

د ١٦ م. پېړۍ په نيمايي کې د خټکو قبيله په تدريجي توگه د واک خاونده شوه او په سهيل کې يې د نورو قبايلو ترمنځ مهم ځای تر لاسه کړ. په (١٥٨٠) ميلادي کال کې جلا ل الدين محمد اکبر له اټک څخه تر پېښوره د سوداگريزې لارې د امنيت چارې د خټکو قبيلې ته وسپارلې او په بدل کې يې ورته له کاروانونو څخه د مالیې اخيستلو امتياز ورکړ، همدغه امتياز د خټکو او يوسفزو ترمنځ اختلاف رامنځ ته کړ. د شاه جهان د حکومت په وخت کې د خټکو د قوم مشري خوشحال خان ته ورکړل شوه، خوشحال خان د توري او سياست خاوند او هم غښتلي شاعر و. خوشحال خان له مغولي پاچاهانو سره په لومړيو کې نېکې اړيکې درلودې، خو وروسته يې اړيکې د مغولو له دربار سره خړې پړې شوې، اورنگزيب خوشحال خان ونيو او بندي يې کړ، څلور کاله وروسته له زندان څخه خوشې شو او بيرته يې د خوځښت مشري په غاړه واخسته، په ١٦٧٨ - ١٦٧٠م. کال کې ٤٠ زره مغولي پوځيان له افغانانو سره د تاتړې په جگړه کې ووژل شول تر دې ماتې وروسته مغولي حکمرانانو د خوشحال خان يو زوی هند ته تبعيد او وروسته مړ شو او تر دې دردوونکې پېښې وروسته



خوشحال خان خټک

خوشحال خان هم په (۱۷۸۸ته اویا) کلنۍ کې مړ او د ده له وصیت سره سم د ختګو په غرونو کې د دښمن له سیوري څخه لرې خاورته وسپارل شو.

د میرویس نیکه پاڅون


میرویس نیکه

په ۱۶ مه میلادي پیړۍ کې د بهرنیانو د یرغلوو په پایله کې افغانستان تجزیه شو، لوېدیزې او سهیلي برخې د ایران صفویانو، ختیځې برخې د هند مغولو او شمالي برخې د ماورالنهر شیبانیانو ونیولې، د مرکزي حکومت نشتوالي او د پردیو تسلط د ټولنې د اقتصادي ټیټوالي او نا اندولیو(نابرابري) سبب شو چې په خلکو کې بې کرکه او د خپلواکۍ سره مینه پیاوړې کړه، تر څو چې په (۱۷۰۹) میلادي کال کې بې د میرویس نیکه په مشرۍ خلکو په خپل پاڅون سره د صفویانو واکمنۍ او د کندهار د والي ګرګین ظلمونو ته د پای ټکی کېښود او په کندهار کې بې خپلواک دولت جوړ کړ، خو دغه دولت له ۳۰ کلونو څخه ډېر دوام ونه کړ، ترڅو په ۱۸ اتلسمه میلادي پیړۍ کې یو ملي دولت د افغانستان په نامه د لوی احمدشاه بابا په مشرۍ جوړ شو.

د احمد شاه بابا واک ته تر رسېدو څخه وړاندې د افغانستان ټولنیز حالت

تر دوه نیمو پیړیو پورې د افغانستان تجزیې او وېش نه یوازې دا چې په افغانستان کې د ودې اوپرمختګ بهیر ځنډمن کړ، بلکې د مادي او معنوي تنزل او انحطاط دوره یې په هېواد کې منځ ته راوړه. او هېواد له رکود سره مخامخ شو. د افغانستان تجزیه داسې یو لوی آفت و چې په تدریجي توګه یې هویت، وحدت او ملي خپلواکي له منځه وړله، په دې موده کې افغانستان مرکزي دولت او ملي خپلواکي او هم په کرنه او سوداګرۍ کې نسبتاً ښه اقتصاد له لاسه ورکړ. د هرات مکتب چې د تیموریانو په وخت کې یې په ادب، کلتور او د علومو په پراختیا کې ښه رول درلود، له منځه تللی و. مدرسې او روزنیز مرکزونه وترل شول، نو ځکه د استادانو او پوهانو لپاره کوم هځوونکی مرکز نه و، له دوی څخه ډېر شمېر نورو هېوادونو او په ځانګړې توګه هند ته ولاړل.

د احمدشاه بابا قدرت ته تر رسېدو څخه وړاندې د افغانستان اقتصادي حالت

مخکې له دې څخه چې افغانستان د صفویانو، شیبانیانو او د هند د مغولو تر حملو لاندې راشي، د افغانستان اقتصادي حالت په ټول هېواد کې نسبتاً ښه و، که څه هم خلکو ساده او بدوي ژوند درلود. کرنې، مالدارۍ او صنایع دري واړه د افغانستان د اقتصاد مهمې برخې وې. د افغانستان خاوره او اقلیم د نباتاتو د کر لپاره مناسبه وه. یو شمېر بزګرانو خپله ځمکه لرله خو ډېرو له ځمکه لرونکو څخه

ځمکه په اجاره او بزګرۍ اخیسته. د بندونو او ویالو په برخه کې ډېره پاملرنه کېدله، دولتونو د کرنې د پراختیا په برخه کې ځانګړې پاملرنه لرله، ځکه چې د دولت د عایداتو مهمه برخه د بزګرۍ له مالیاتو څخه جوړېدله.

مالداری: د مالدارۍ په برخه کې هم ډېره پاملرنه کېده او ډېرو خلکو په مالدارۍ پورې تړاو درلود او د ځارویو ډولونه د خلکو په وسیله تربیه او تکثیرېدل، د ځارویو محصولاتو د ملي اقتصاد مهمه برخه جوړوله.

صنایع: د صنایعو په برخه کې دولت تل صنعت کاران تشویقول، د سرو زرو، سپینو زرو، اوسپنې ، مسو او سربو غیر فني استخراج کېده او صنایعو یوه اندازه پرمختګ کړی و.

سوداګری: یو شمېر ځانګړو ولایاتو سوداګریز اهمیت درلود. مواصلاتي لارو سیمې یو له بله سره نښلولې او سوداګریز توکي د پېرودلو او پلورلو لپاره انتقالېدل. د هندوستان، چین ، ایران او ماورالنهر سره واردات او صادرات تر سره کېدل. یو وخت کندهار او هرات د افغانستان له غوره سوداګریزو مرکزونو څخه ګڼل کېدل. د (۱۶مې)میلادي پېړۍ په لومړیو کې هر کال ۳۰ زره بار اوښان له کندهاره تېرېدل او ګمرکي عواید یې دولت ته ورکول کېدل. د کندهار سوداګریز ارزښت له ستراتېژیک اهمیت څخه لږ نه و.

یو وخت کندهار د هند د دروازې په نامه یادېده ، په خواشینۍ سره د افغانستان تر تجزیې او نیولو وروسته اقتصادي حالات کړکیچن شول. د خلکو ستونزې ورځ په ورځ ډېرېدلې.

د پوځیانو د لښکر ایستنې لګښتونه او ملاماتونکې مالیې چې د هغوی له خوا وضع شوې وې خلکو یې د ورکړې توان نه درلود. دغې وضعې تر اتلسمې میلادي پېړۍ د احمد شاه بابا د مرکزي دولت د جوړېدو تر مهاله دوام درلود.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړنۍ ډله دې د احمد شاه بابا واک ته رسیدو د مخه پر ټولنیز حالت او دویمه ډله دې پر سیاسي حالت یو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱. د پیر روښان د خوځښت موخې کومې وې؟
۲. د پیر روښان تر وژلو وروسته د روښاني خوځښت مشرې چا کوله؟
۳. خوشحال خان خټک چا زنداني کړ؟
٤. د میرویس خان هوتک پاڅون په کوم کال کې بریالی شو او کومې پایلې درلودې؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې د احمدشاه بابا واک ته تر رسیدو څخه وراندی د افغانستان د اقتصادي حالت په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وویي.

احمدشاه بابا او د مرکزي دولت ټينګښت



احمد شاه بابا

د احمد شاه بابا واک ته د رسېدو څرنګوالی، د هغه اداري نظام او مهمي کړنې په دې لوست کې تر بحث لاندې نيول شوي دي.

کله چې ابدالي احمدخان د يو مرکزي دولت د ټينګښت لپاره هڅه کوله افغانستان په لاندې وضعيت کې پروت و. د پردیو قواو په وسيله د افغانستان نيول او تجزيه، د مرکزي حکومت نشتوالی، د اقتصاد رکود، ناوړه ټولنيز حالت او په ګاونډيو دولتونو کې سياسي بدلونونو په افغانستان کې د يوه مرکزي دولت د جوړولو لپاره لار هواره کړې وه، د نادر افشار تر وژلو وروسته د هغه په لوی پوځ کې ګډوډي پيدا شوه. د يادونې وړ ده چې د نادر افشار د پوځ يوه برخه له افغانانو جوړه وه. د هغوی شمېر څلور زره غلجيانو، دولس زره سدوزيانو او ازبکو ته رسېده چې د عمومي قوماندان نورمحمد خان غلجي او احمدخان په وړاندیز افغاني قطعات کندهار ته راستانه شول. وروسته نورمحمد خان د غلجيو ، ازبکو، ابداليو او هزاره ګانو له مشرانو څخه د يوې قومي لويې جرګې د جوړولو غوښتنه وکړه، تر څو د جرګې له غړيو څخه يو کس د مشر يا پاچا په توګه وټاکي او د افغانستان د چارو د اداري لپاره يو حکومت جوړ کړي، د داسې جرګې جوړولو ته د قومونو ټولو مشرانو غاړه کېښوده.

د شير سرخ د مزار جرګه دکندهار د نادر آباد په نظامي کلا کې جوړه شوه او نهه ورځې يې دوام وکړه.

د جرګې غړي وروستۍ پرېکړې ته نه رسېدل، ځکه چې هر مقتدر خان سلطنت غوښت او یوازې هغه څوک چې غلی و، ابدالي احمدخان و او دا ځکه چې احمدخان د ابدالي قبیلې څخه و او د شمېر په لحاظ له نورو څخه کم وو. په پای کې په نهمه ورځ د جرګې غړیو داسې پرېکړه وکړه، چې د جرګې غړي دې یو څوک د حکم په توګه معرفي کړي، تر څو یو تن د مشر یا پاچا په توګه وټاکي. یاد شوی کس یو روحاني سړی و، چې په یوې قبیلې پورې یې تړاو نه درلود او ان د کندهار اوسېدونکی هم نه و. دا هماغه کابلی صابر شاه د نامتو صوفي (لایخوار) زوی و، چې د کندهار ټولو خلکو پر هغه باور او هغه ته یې ارادت درلود. دغه صوفي سیاستوال له خپله ځایه پاڅېد، ابدالي احمدخان یې معرفي کړ او د غنمو څو وړې یې د شاهي تاج پر ځای د هغه په پګړۍ کې وټومبل. لویو خانانو له ناچارۍ احمد خان ته بیعت وکړ او هغه یې د افغانستان د پاچا په توګه قبول کړ.

احمد خان د زمان خان ابدالي زوی او د دولت خان سدوزي لمسی و مور یې د عبدالغني خان الکوزي خور وه، چې د نادر افشار په وخت کې د کندهار پخواني والی و. ابدالي احمد خان په ۱۷۲۲ میلادي کال په هرات کې وزېرېد، که څه هم د هغه د زېرېدو د ځای په برخه کې اختلاف شته او هغه داسې چې یو شمېر تاریخ پوهان د هغه د زېرېدو ځای هرات او یو شمېر یې ملتان ګڼي، ځکه له ډېرو وختونو راهیسې په ملتان کې یو کور دی، چې سدوزیان یې هغه د احمد خان د زېرېدو ځای ګڼي.

احمد خان ابدالي د ځوانۍ پر وخت د نادر افشار په پوځ کې داخل شو. ډېر ژر نادر افشار ته د هغه پوهه او وړتیا معلومه شوه او هغه یې د افغاني او ازبکي قطعاتو مشر وټاکه. د نادر افشار تر وژلو وروسته د ایران وضع ګډوډه شوه. په شمال کې د جنیدي دولت مخ په زوال شو او په هند کې د مرهټه دولت د "سواجي" په مشرۍ منځ ته راغی، چې د اورنګزیب تر مرګ وروسته د هند بابري دولت ددې توان نه درلود، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله وکړي، یاد شوي بدلونونه ددې سبب شول، چې احمد شاه بابا ډاډمن او خاطر جمع کړي او وېې کړای شول چې له دغو حالتونو څخه د دولت په جوړولو او د افغانستان له لاسه تللو سیمو د لاس ته راوړلو په برخه کې ډېره ګټه پورته کړي. احمد شاه بابا په دې پوهېده چې د خپلو ګټو د خوندېتوب لپاره د لویو ملاکینو او قبایلي رئیسانو شتون د یوه با ثباته دولت د ټینګښت لپاره ښایي هغه ته ستونزې جوړې کړي، ددې لپاره چې پر دغو ستونزو بریالي شي، هغوي یې په دولتي او پوځي چارو کې داخل او په جرګو کې یې غړېتوب ورکړ، د هغوي نظرونو ته یې ارزښت ورکړ او په سفرونو کې یې هم مصروف کړل. وروسته له هغه چې احمد شاه بابا سلطنت ته ورسېد لاندې ټکې یې د یوه ټینګ نظام د جوړولو لپاره د مهمو موخو په توګه وټاکل. لومړنۍ موخه یې د یوه مرکزي حکومت د



د احمد شاه بابا د وخت يوه ودانۍ

جوړولو لپاره د ملي وحدت رامنځ ته کول و. دويمه يې دا وه، د افغانستان طبيعي سرحدونه چې د آمو له سيند څخه د سند تر سينده پورې وو تامين کړي او درېيمه موخه يې د ګاونډيو هېوادونو پر وړاندې د دفاع ټاکل و. ددې لپاره چې داخلي اختلافات له منځه يوسي او په دولتي چارو کې له خلکو مشوره واخلي، د لومړي ځل لپاره يې يوه دايمي جرګه جوړه کړه چې د شير سرخ د مزار د جرګې ځينې غړي يې په کې هم شامل کړل.

د يوې ښې اداري د لرلو لپاره يې لومړی اداري او پوځي تشکيلات رامنځ ته کړل او ياد شوي تشکيلات يې د ميرويس نيکه د تشکيلاتو اقتباس و چې غوښتل يې د هغه ناتمامه طرح بشپړه کړي.

احمد شاه بابا د ټولو اداري، قضايي او نظامي تشکيلاتو په سر کې د قاطع نظر واک درلود. په دې معنا چې پخپله پاچا د ټولو چارو اداره په لاس کې درلوده او په مرکز او ولايتونو کې يې هم اداري او پوځي تشکيلات جوړ کړل. که څه هم احمد شاه بابا د خپل ۲۶ کلن سلطنت په موده کې د مرکزي حکومت د ټينګښت، اداري اصلاحاتو. او همدارنګه پوځي سفرونو د هيواد په د ننه او بهر کې دومره مصروف کړی و چې ويې نه شو کړای چې د اقتصاد د پرمختيا، ښوونې او روزنې او کلتور په برخه کې ځانګړې پاملرنه وکړي، خو له دې سره سره د هغه د سلطنت په وخت کې ځينې کارونه لکه د

کندهار او تاشقرغان د ښارونو جوړونه او د ده خپله مقبره په کندهار کې د مبارکي خرقې په خواکې چې د هغه وخت د معماری د سبک استازېتوب کوي، تر سره شول. احمد شاه بابا له عرفان او ثقافت سره ډېره مینه درلوده چې یو شمېر کتابونه د هغه د سلطنت پر وخت ولیکل شول چې کولای شو د کتابونو او لیکوالو نومونه یې یاد کړو: تاریخ احمد شاهي په دوه ټوکه کې ، د هغه د در بار د منشي محمود الحسیني په وسیله، "تواریخ حافظ رحمت خاني" د میر محمد فاضل په وسیله طبي کتاب "بحر الفواید" چې قاضي دل محمد افغان لیکلی او "خلاصۀ الانساب" د پښتنو د نسب په برخه کې چې حافظ رحمت خان برېخ لیکلی او همدارنګه لومړنی موزیم د "بیت الاشرف" په نامه په کندهار کې جوړ شو. احمد شاه بابا په کندهار، هرات او پېښور کې لوېې مدرسې جوړې کړې چې تر ټولو مشهوره یې د "کندهار زړه جامع مدرسه" وه او همدا شان د احمد شاه بابا دیوان ددې استازېتوب کوي چې هغه له عرفان او تصوف سره مینه درلوده.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې قدرت ته د رسېدو په خرنګوالي او دویمه ډله دې د مرکزي حکومت پر ټینګښت یو له بل سره خبرې وکړي.


پوښتنې

۱. احمدشاه بابا په کومه جرګه کې د مشر په توګه وټاکل شو؟
۲. احمدشاه بابا د دندو په سرته رسولو کې کوم اصل په پام کې نیوه؟
۳. د احمدشاه بابا د معماری د یو څو بېلګو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د احمدشاه بابا د فرهنګي وضعیت په اړه له فرهنګي شخصیتونو او خپلو ښوونکو څخه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

د احمد شاه بابا پوځي سوقيات



په دې لوست کې به د احمد شاه بابا د واکمنۍ په وخت کې د هغه د پوځي سوقياتو او د هغو د پايلو او لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندې کېږئ.

کله چې احمدشاه بابا واک ته ورسېد، له هغه څخه وړاندې افغانستان د پردیو قواو په وسیله تجزیه او نیول شوی و. ځکه نو احمد شاه بابا د پخوانیو له لاسه تللو سیمو د لاسته راوړلو او د طبعي سرحدونو د ټاکلو لپاره یو لړ سفرونه او پوځي سوقیات پیل کړل چې په دې لوست کې به په لنډه توګه معلومات ترلاسه کړئ.

لومړی سفر (۱۷۴۷ - ۱۷۴۸ ميلادي)

سپاه سالار خان جهان خان د غزني، کابل، جلال آباد له لارې د سند تر سواحلو پورې ورسېد. ناصر خان د کابل او پېښور والي چې لا په قدرت کې و، غوښتل يې چې د ايماقو او هزاره قواوو په مرسته له افغاني قواوو سره وجنګېږي، خو ايماق او هزاره قواوو دا کار ونه کړ. احمد شاه بابا هم د ختيځ په لور حرکت وکړ او د لارې په اوږدو کې د خلکو له هر کلي سره مخامخ شو. د پنجاب والي له احمد شاه بابا سره په جګړه کې مقاومت ونه کړای شو او لاهور ته وتښتېد. احمد شاه بابا لاهور ونيو، د هند

شاهنشاه د افغانانو د پر مختک څخه په وبره کې ولويده او مغولي احمدشاه خپل وليعهد, صدر اعظم قمرالدين د ډيرو قواو سره د مقابلې لپاره ولېږه او افغاني قواوې د هندي تويخانې تر اور لاندې راغلې ، چې ډېر تلفات يې افغانانو ته واړول. احمد شاه بابا اړه شو چې پنجاب «مېرمنو» او ملتان زاهد خان ته وسپاري او پخپله د هغه شورش د غلي کولو لپاره چې د هغه د وراره لقمان خان ابدالي په وسيله رامنځ ته شوی و، کندهار ته ستون شو.

دويم سفر

د ۱۷٤۹م کال په لومړيو کې احمد شاه بابا هرات ته سفر وکړ. درې کسه نادرې حاکمان احمد شاه بابا ته تسليم نه شول او د هغوی له ډلې څخه دروېش خان هزاره خپله پلوي له احمدشاه بابا څخه اعلان کړه او هرات د احمد شاه بابا په وسيله ونيول شو. احمد شاه بابا دروېش خان د هرات والي وټاکه. احمد شاه بابا خپل صدراعظم شاه ولي خان ته حکم وکړ چې شمالي سيمو ته سفر وکړي، د جنيدي د حکومت تر انحطاط وروسته مرو، فارياب، جوزجان، بلخ، خلم، بدخشان او تخارستان خپلواکه شوي وو او شاه ولی خان يادې شوې سيمې يو په بل پسې ونيولې او له مرکزي حکومت سره يې يو ځای کړي.

دريم سفر

د ۱۷۵۰ ميلادي کال په پسرلي کې «عباس قلي بيات» په نيشاپور کې بغاوت وکړ او احمدشاه بابا نېشاپور ته مخه وکړه. عباس قلی بيات د احمدشاه بابا له پوځ سره په جګړه کې ماتې وخوړه او بندي شو. وروسته احمد شاه بابا هغه وبانبه او د دويم ځل لپاره يې د نېشاپور حاکم وټاکه ،کله چې احمد شاه بابا هرات ته ورسېد، خبر شو چې مير علم خزيمه پر مشهد يرغل کړې ده «ړوند شاهرخ» د نادر افشار کړوسی چې احمد شاه بابا د مشهد والي ټاکلی و، د مير علم خزيمه په وسيله بې واکه شوی و. احمدشاه بابا مشهد ته ولاړ، مير علم ته يې ماتې ورکړه او د شاهرخ امنيت يې بيا تامين کړ.

څلورم سفر

په (۱۷۵۱) ميلادي کال کې د پنجاب والي مېرمنو چې مخکې د مالياتو په ورکړه ژمن شوی و، انکار وکړ او احمد شاه بابا خپل استازی هغه ته واستاوه، خو د پنجاب والي د مالیې له ورکړې څخه ډډه وکړه، احمد شاه بابا خټيځ ته سفر وکړ، د پنجاب والي مېرمنو سپاه سالار «ګورامل» د احمد شاه بابا سره د

جگړې د مقابلې لپاره ولېږه. جگړه چې د «شاه درې» په سیمه کې پېښه شوه ، گورامل په کې ووژل شو او لښکر يې ماتې وخوړه. مېرمنو له احمدشاه بابا څخه ښښنه وغوښته او احمد شاه بابا هغه وبښه او بیا يې مېرمنو د پنجاب والي وټاکه. مېرمنو ژمنه وکړه چې د پنجاب او ملتان ولایتونه به د افغانستان یوه برخه وي. وروسته احمد شاه بابا یاد شوی ژمنلیک د خپل استازې په وسیله د مهر او تأیید لپاره د ډهلي دربار ته واستاوه او په دې ترتیب پنجاب، ملتان او سند په افغانستان پورې وترل شول. د ۱۷۵۱ میلادي کال په پای کې احمد شاه بابا یو لښکر د خواجه عبدالله په مشرۍ د «اټک او حسن ابدال» له لارې دکشمیر د یو ځای کولو لپاره هغې سیمې ته واستاوه، تر څو دکشمیر خواجه خپل مناسبات د هند له دولت څخه پرې او خپل یو ځایوالي له افغانستان سره اعلان کړي.

د ختیځ سفر ۱۷۵۶ - ۱۷۵۷ میلادي

په (۱۷۵۳) میلادي کال کې د پنجاب والي مېرمنو مړ شو. احمد شاه بابا پنجاب ته سفر وکړ، د مېرمنو نابالغه زوی محمد امین يې د والي په توګه وټاکه. د محمد امین مور (بېګم مغلاني) د زوی پر ځای ولایتي چارې پرمخ وړلې. په همدې وخت کې د ډهلي دربار د هند د صدراعظم (عماد الملک غازي الدین) د لاس اله شوی و او غازي الدین د هند پاچا احمد شاه د محمد شاه زوی لرې او پر ځای يې دویم عالمگیر د ډهلي پر تخت کښاوه. بېګم مغلاني يې بندۍ کړه او د پنجاب ولایت يې ادینه بېګ ته وسپاره. عالمگیر (نجیب الدوله) د سهارنپور د والي په مشرۍ لښکر د احمدشاه د مقابلې لپاره واستاوه، خو نجیب الدوله پرته له جگړې له احمد شاه بابا سره یو ځای او عالمگیر اړ شو چې له ډهلي سره نږدې له احمد شاه بابا څخه هر کلی وکړي. احمدشاه بابا د اړیکو د ساتنې لپاره د عالمگیر وربره شهزاده تیمور ته په نکاح کړه او وروسته هېواد ته ستون شو.

سویل ته شپږم سفر

کله چې احمد شابابا له هند څخه افغانستان ته راغی، افغاني سردارانو د ابدالي دولت د غرور او قدرت په مټ د پنجاب پر بزګرانو درنې مالیې کېښودې چې په دغه کار سره پاڅونونه رامنځ ته شول او ډېر ژر سیکانو ددې شورشونو مشري په غاړه واخیسته. په امرتسر کې يې په تشکیلاتو پیل وکړ چې په پای کې د افغانانو او سیکانو ترمنځ جگړه رامنځ ته شوه.

د هند سپاه سالار نجیب الله یوسف زی وتښتېد، جټانو او راجپوټانو له مرهټه وو سره اتحاد وکړ.

د هند پخواني صدراعظم غازي الدین په پنجاب کې سیکان د افغانانو پر ضد تحریک کړل، ادینه بېګ

د سیکانو په اتفاق په (جلندر) کې ډېر افغانان ووژل. د ۱۷۵۸ م. کال د اپریل په میاشت کې افغاني قواوې له ماتې سره مخامخ او عبدالصمد یې بندي کړ. شهزاده تیمور او سپاه سالار سردار جهان خان مقاومت ونه شو کړای، تر اتک پورې شاتګ یې وکړ. پاڅون کوونکو پرته د (اودی) د ټول هند حکمراني یې ترلاسه کړه. احمد شاه بابا په ببرنۍ توګه د هند قضیه راتلونکي ته پرېښوده. ځکه چې پخپله د بلوچستان په نا آرامیو کې مصروف و. د شاه ولي خان په مشرۍ یې پوځ بلوچستان ته ولېږه او وروسته له جګړې د شورشیانو مشر نصیر خان بلوچ ماتې وخوړه او د سولې غوښتنه یې وکړه چې احمدشاه بابا وبانبه او بلوچستان د پخوا په څېر د افغانستان یوه برخه شوه. احمدشاه بابا د نورالدین په مشرۍ لښکر پنجاب ته ولېږه او پخپله کندهار ته راغی، تر څو سیکانو او مرهټه وو سره د حساب لپاره خپلې قواوې راټولې کړي.

اووم سفر- د پاني پت جګړه ۱۷۶۰- ۱۷۶۱ میلادي

په ختیځ کې د احمدشاه بابا دا سفر د ډېر اهمیت وړ دی، ځکه په ۱۷۵۸ میلادي کال په هند کې ډېرې مهمې پېښې رامنځ ته شوې. لومړی د پنجاب سیکانو پاڅون وکړ. ور پسې مرهټیان د هند مرکزي او شمالي برخو ته داخل شول او دریم دا چې اسلامي حکومت چې مسلمانانو جوړ کړی و، له منځه لاړ. په هغه وخت کې چې احمدشاه بابا د نصیرخان بلوچ په ټکولو مصروف و، د مرهټیانو مشر (سند یا) مرکزي هند ته ورسېد. راجپوټانو او جټانو سره یې اتحاد وکړ او سندیا د پنجاب لوري ته حرکت وکړ. ادینه بېګ هم ور سره یو ځای شو او پنجاب یې ونیو. شهزاده تیمور او سردارجهان خان پېښور ته شاتګ وکړ.

کله چې احمدشاه بابا له بلوچستان څخه ډاډمن شو، د دېرش زره پوځیانو سره د بولان د درې له لارې سند ته ورسېد او له شهزاده تیمور او جهان خان سره یو ځای شو. د پنجاب لوري ته یې حرکت وکړ ، سندیا او غازي الدین چې څنګه د احمدشاه بابا له حرکت څخه خبر شول، له نجیب الدوله سره یې سوله وکړه او د ډهلي لوري ته روان شول. په ډهلي کې یې دویم عالمګیر وواژه او کړوسی یې پاچا کړ. په دغه وخت کې احمدشاه بابا له درېو قواو سره مخامخ شو. لومړنۍ د سندیا قوا، د ډهلي د لارې په اوږدو کې، دویمې قوې په (هولګر) پورې اړه درلوده د جمنا په کېن لوري کې ځای پر ځای وه او درېیمه قوه د (جنګورا) او غازي الدین وه.

څنګه چې جګړه پیل شوه، درې ګونه قوا وې د احمدشاهي ځواک پر وړاندې ماتې وخوړه، کله چې غازي الدین او جنګورا د سندیا له ماتې خبر شول ډهلی یې پرېښود او وتښتېدل.

د مرهټیانو مشر(بالا باجي) د مرهټه وو ټولو مشرانو ته خبر ورکړ چې نوي لښکر ترتیب کړي او راجپوټانو له مرهټه وو سره اتحاد وکړ چې شمېر یې دوو لکو ته رسېده، په داسې حا ل کې چې د احمد شاه بابا د پوځیانو شمېر ٦٠ زره وو. د پاني پت په ډګر کې ډېره لویه جګړه ونښته. افغانان فاتح او مخالفو قواو ماتې وخوړه. احمدشاه بابا ډهلي ته داخل شو. د ډهلي تخت یې شهزاده علي ګوهر، سیاسي او اداري چارې یې شجاع الدوله او پوځي چارې یې نجیب الدوله ته وسپارلې او پخپله کندهار ته راستون شو.

اتم سفر- ۱۷۶۲-۱۷۶۳ میلادي

په ۱۷٦۲ م کال کې د پنجاب سیکانو د «جیاسینګ» په مشرۍ د دویم ځل لپاره په شورش لاس پورې او امرتسر یې په یوه پوځي مرکز تبدیل کړ. په کشمیر کې یې افغاني ضد تبلیغات پیل کړل او د لاهور ښار یې ونیوه. احمدشاه بابا د پنجاب لوري ته حرکت وکړ، د سیکانو اویا زره لښکر یې تارومار کړل او سردار نجیب الدوله ته یې لارښوونه وکړه چې د «سر هند» او کشمیر امنیت ټینګ کړي.

نهم سفر - ۱۷۶۳ میلادي کال

د سیکانو ترماتې وروسته احمدشاه بابا کندهار ته راستون شو. د هغې ناروغتیا له امله چې ور پېښه شوې وه، د نوموړي کال تر پایه یې د هېواد د ننه او بهر ته سفر ونه کړ، په دې موده کې سیکانو له جټانو او مرهټه وو سره اتحاد وکړ. په پنجاب او سر هند یې د ٤٠ زره پوځیانو په وسیله یې حملې پیل کړې او د ډهلي د نیولو نیت یې درلود. احمدشاه بابا په ۱۷٦۳ م. کا ل کې پنجاب ته لښکر ولېږه او شورشیانو ته یې ماتې ورکړه او په غرونو کې یې خپاره کړل.

د ۱۷٦۳ م. کال په پای کې احمدشاه بابا خپل صدراعظم شاه ولي خان بلخ ته ولېږه تر څو د جنیدي سلسلې له اخرني پاچا عبدالعزیز خان سره خبرې وکړي. په مذاکراتو کې داسې یو ټرون لاسلیک شو چې د آمو سیند د پخوا په څېر د افغانستان او بخارا په منځ کې سرحدي کرښه وټاکل شوه. وروسته شاه ولي خان بدخشان ته ستون شو. خرقه مبارکه یا د حضرت پیغمبر(ﷺ) کالي یې د فیض آباد له ښار څخه له ځانه سره کندهار ته راوړه.

لسم سفر- ۱۷۶۹ میلادي کال

د ۱۷٦۹ م. کال په نیمایي کې د نصرالله میرزا او نادر میرزا د نابینا شاهرخ د زامنو ترمنځ د قدرت د لاس ته راوړلو پر سر اختلاف پیدا شو او په خراسان کې حالت د خرابۍ لور ته روان شو. احمدشاه بابا

مشهد ته سفر وکړ. نصر الله میرزا د ایران له پاچا کریم خان زند سره اړیکې ټینګې کړې وې. د (تون او طبس) حاکم علیمراد شورش او سرکشي وکړه. احمدشاه بابا مشهد محاصره کړ او سپاه سالار جهان خان او د بلوچستان والي نصیر خان یې د علیمراد د ټکولو لپاره مؤظف کړل او علیمراد په جګړه کې ووژل شو. نصرالله میرزا تسلیم شو او شاهرخ خپله لور د احمدشاه بابا زوی ته په نکاح کړه.

احمدشاه بابا د نادر افشار په درناوي خراسان شاهرخ ته وسپاره او پخپله کندهار ته راغی او دا د احمدشاه بابا آخرنی سفر و.

احمدشاه بابا تر ۲۶ کاله پاچاهۍ وروسته د سرطان په ناروغۍ اخته شو او په پنځوس کلنۍ کې یې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې. له وصیت سره سم په ۱۷۷۳ میلادي کال کې د خرقې مبارکې ترځنګ خاورو ته وسپارل شو. احمد شاه بابا د افغانستان خاوره یو موټي او متحده کړه او خلکو د نېکو اخلاقو، تقوی، مهربانۍ او د هغه د نېکو خدمتونو له امله ورته د (بابا) لقب ورکړ.

احمدشاه بابا په خپل سیاسي او پوځي ژوند کې له لسو ځلوډېر هند، خراسان او د افغانستان شمال ته سفرونه وکړل ، کله چې په ۱۷۷۳ میلادي کا ل کې یې له نړۍ سترګې پټې کړې نو لویه امپراتوري یې په میراث پرېښوده چې په ختیځ کې تر سرهند، لوېدیځ کې تر سبزار او مشهد په شمال کې د آمو تر سینده او په سویل کې یې د عربو تر سمندرګي پورې پراخوالی درلود.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړنۍ ډله دې د پوځي موخو او دویمه ډله دې د احمدشاه بابا د پوځي سوقیاتو د پایلو په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱. د احمدشاه بابا لومړنی سفر په کوم کال پیل او کومې پایلې یې درلودې؟

۲. احمدشاه بابا د هیواد لوېدیځ ته څو ځله سفر کړی، لاس ته راوړنې یې وویاست؟

۳. د احمدشاه بابا هند ته پوځي سفر تر ټولو مشهور سفر څه نومېده او هم وویاست چې کومې پایلې یې درلودئ؟

له ټولګي څخه دباندې فعالیت

زده کوونکي دې له مشرانو او فرهنګیانو څخه د احمدشاه بابا د ژوند د پای په وختونو کې د افغانستان د جغرافیوي قلمرو په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وویاي.

د احمد شاه بابا ځايناستي
د تيمورشاه پاچاهي (۱۷۷۳-۱۷۹۳ ميلادي)



د احمد شاه بابا څخه وروسته د هغه ځای ناستو او ورثې وکولای شول هغه لويه امپراتوري چې له هغه څخه په ميراث پاتې وه وساتې په دې لوست کې به يې په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

تيمورشاه د احمد شاه بابا زوی په ۱۷۴۲ميلادي کال په مشهد کې زېږېدلی دی. هغه د زده کړو خاوند او د دري ژبې شاعر و. د احمدشاه بابا د مړينې پر وخت کې يې د هرات د والي په توګه دنده درلوده. احمدشاه بابا هغه په خپل ژوند کې وليعهد يا ځايناستی ټاکلی و . د احمدشاه بابا تر مړينې وروسته شهزاده سلېمان د خپل خسر صدراعظم شاه ولي خان په مرسته د پاچاهي اعلان وکړ. کله چې شهزاده تيمور له هراته کندهار ته راغی، شهزاده سليمان يې بندي او شاه وليخان يې وواژه. په دې توګه تيمورشاه پاچاهي ته ورسېد. تيمورشاه د خپلې پاچاهۍ په لومړي کال پايتخت له کندهاره کابل ته انتقال کړ .

تيمور شاه څو داخلي او بهرني پاڅونونه په بريالیتوب سره له منځه يووړل. تيمورشاه د خپلې پاچاهۍ په ۲۰ کلنه موده کې وکړای شول چې هغه سيمې چې له پلاره يې ورته په ميراث پاتې وې وساتي. د هغه تر مرګ وروسته د هغه د زامنو بې اتفاقي، د ايران لاسوهنې او د روسانو او انګليسانو سيالۍ د افغاني لوېې امپراطورۍ د سقوط سبب شوې، تيمورشاه په ۱۷۹۳م. کال کې مړ او د کابل په چهارباغ کې خاورو ته وسپارل شو.

د زمان شاه پاچاهي (۱۷۹۳ - ۱۸۰۱ میلادي)

د تیمورشاه د زامنو ترمنځ د بې اتفاقۍ یو علت دا ګڼل کېږي چې تیمورشاه ولیعهد نه و ټاکلی. شاه زمان چې د نورو ورونو په پرتله پلار ته نږدې و، لایقه او با کفایته ځایناستي یې ځان ګاڼه. شاه زمان له ټولو شهزاده ګانو او مشرانو څخه غوښتنه وکړه چې د نوي پاچا د ټاکلو په جرګه کې ګډون وکړي. جرګې شهزاده زمان د پاچا په توګه وټاکه. نوموړي د دې لپاره چې پر حالاتو واکمن شي، د لنډې مودې لپاره یې د جرګې غړي په بالاحصار کې نظر بند کړل او یوازې محمود او همایون چې په جرګه کې یې ګډون نه درلود، د هغه پاچاهي یې ونه منله. په دوو ښپلاښلو جګړو کې محمود او همایون ماتې وخوړه. محمود ایران ته وتښتېد او همایون بندي او رونده کړای شو.


زمان شاه

وروسته یې سردار پاینده محمد خان له وزارته څخه لرې کړ، په دې سره هغه له نورو سردارانو سره یو ځای شو او په دې هڅه کې شو چې شاه زمان له پاچاهۍ څخه لرې کړي. کله چې شاه زمان د پاینده محمد خان له طرحې خبر شو، هغه یې ونیو او ویې واژه او وزیر فتح خان د خپل پلار د مرګ په سبب له شاه محمود سره نږدې شو.

شاه زمان هیله درلوده چې د افغانستان حالت ښه، سوله او آرامي راشي. خو شاه د هېواد په دننه کې د خپلو ورونو او قومي سردارانو له مخالفت او په بهر کې د انګلیس د تحرکاتو او د ایران د لاسوهنو سره مخامخ شو.

په همدې وخت کې ناپیلیون بناپارت خپل استازی شاه زمان ته، د ایران له لارې راولېږه. د ناپیلیون طرحه دا وه چې او یا زره فرانسوي او روسي قواوې د افغانستان له لارې پر هندوستان یرغل وکړي، تر څو په هند کې د انګلیسانو د پرمختګ مخه ونیسي، په داسې حال کې چې شاه زمان یو لک او پنځوس زره پوځیان درلودل او غوښتل یې چې هند له انګلیسانو ونیسي. هغه د ناپیلیون طرحې ته اعتنا ونه کړه او د هند خلکو د انګلیس څخه د خلاصون لپاره له شاه زمان څخه همدا هیله درلوده.

محمود د ایران د قاجاري قواوو او تښتېدلو سردارانو په مرسته پرته له جګړې خراسان او هرات ونیول، پر سیستان او فراه یې یرغل وکړ او تر کندهاره ورسېدل، خو د شاه زمان قواوو د کندهار پر

لور حرکت وکړ. د لارې په اوږدو کې جنـرال احمد شاه نورزي له خپلو لس زرو پوځيانو سره له محمود سره يو ځای شو او محمود غزني ته راورسېد. شاه زمان د دې وضع په ليدو سره له کابل څخه د پښور په لور شاتګ وکړ چې وروسته د ملا عاشق شينواري لخوا ونيول شو او د خپل ورور محمود په وسيله ړوند شو. زمان شاه د ړوندتوب څخه مخکې د کوه نور الماس د ملا عاشق شينواري په کلاه کې پټ کړ. نو په دې توګه محمود د افغانستان اداره تر لاسه کړه. د انګليس د استعماري سياست، د ايران د لاس وهنې، د محمود او د يو شمېر سياسي شخصيتونو بې کفايتۍ په پايله کې افغانستان يو وار بيا په سياسي او اقتصادي انحطاط کې ډوب شو.

د شاه محمود ابدالي پاچاهي (۱۸۰۱- ۱۸۰۴ ميلادي)

د شاه زمان له خلع کېدو وروسته شهزاده محمود د وزير فتح خان په مرسته واک ته ورسېد او د هغو خدمتونو له امله چې کړي يې وو، د «شاه دوست» لقب يې ورکړ، خو د محمود د بې کفايتۍ له امله د هېواد په اداره کې سياسي بحران رامنځ ته شو. همدارنګه د انګليسانو استعماري فعاليتونو ټول افغانستان ونيو، د ايران قاجاري دولت د انګليسانو د لاس اله شوه، د خراسان د ولايت د تجزيې په لټه کې شو او د پنجاب ولايت چې پخوا د افغانستان د قلمرو يوه برخه وه، سيکانو په کې د خپلواکۍ اعلان وکړ. کله چې شاه شجاع د شاه زمان له ړنډېدو او بندي کېدو او د شاه محمود له پاچاکېدو څخه خبر شو، نو څرنګه چې شاه زمان يې سکه ورور و، نو د شاه زمان غچ اخيستل يې با نه کړل او د افغانستان د تخت و تاج د نيولو اقدام يې وکړ. که څه هم په لومړيو وختونو کې انګرېزانو شاه محمود د شاه زمان په مقابل حمايه کاوه، مګر وروسته د خپلو استعماري غرضونو د پرمخ وړلو او د شاه زمان په وسيله پر هندوستان د ناپيليون د يرغل د خنثي کولو لپاره يې تر هغه شاه شجاع ښه څېره پيدا کړه او هغه يې د شاه محمود پر ضد لمساوه.


شاه محمود

شاه محمود د بالاحصار په ارګ کې په عيش و عشرت اخته و او دولتي چارې د داسې خلکو په لاس کې وې چې د قدرت د لاس ته راوړنې پر سر يو له بله سره په سيالۍ اخته وو، لکه فتح خان»شاه دوست» شيرمحمد خان (مختار الدوله) او صدراعظم محمد اکرم خان، کله چې وزير فتح خان د مالياتو د لاس راوړنې لپاره پېښور ، کوهاټ او بنو ته سفر وکړ. د مالياتو تر لاسه کولو

وروسته يې شهزاده کامران ته چې په کندهار کې و ولاړ او له کندهاره کابل ته راوګرځېد او د محمد اکرم خان پر ځای د صدراعظم په توګه ټاکل شوی و. په همدې وخت کې يو شمېر لوړ دولتي خلک له کابل څخه وتښتېدل او له شاه شجاع سره يو ځای شول. د کابل خلک چې د شاه محمود د اداري له لاسه په تنګ شوي وو د هغه پر ضد يې پاڅون وکړ او هغه يې په بالاحصار کې محاصره کړ. د شاه محمود قواوو مقاومت ته دوام ورکړ تر څو چې د کوهدامن او کوهستان خلک د کابل د خلکو مرستې ته را ورسېدل. شاه محمود يې د کابل په بالاحصار کې محاصره او وزير فتح خان ته يې په قلعه قاضي کې ماتې ورکړه او په دې توګه د محمود لومړۍ واکمني پای ته ورسېده.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وويشل شي. لومړنۍ ډله دې له کندهاره کابل ته د پايتخت د انتقال پر لاملو او دويمه ډله دې د زمان شاه د وخت د نړيوالو مهمو پېښو په اړه يو له بل سره خبرې وکړي او پايله دې يې په ټولګي کې ووايي.

پوښتنې

۱. د تيمورشاه د شخصيت په اړه معلومات وړاندې کړئ.
۲. تيمورشاه په کوم کال کې پلازمينه له کندهاره کابل ته راوړه؟
۳. قدرت ته د زمان شاه د رسيدو په اړه معلومات ورکړئ.
٤. د زمان شاه د سلطنت مهمې ستونزې ليست کړئ.
٥. شاه محمود څرنګه واک ته ورسيد؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي د منابعو او ماخذو په لړلو سره د زمان شاه د حکومت او د ده په وړاندې د انګليسانو د پاليسۍ په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې ووايي.

د شاه شجاع لومړنۍ پاچاهي ۱۸۰۴-۱۸۰۹ میلادي



هغه تمه او توقع چې د افغانستان خلکو له شاه شجاع څخه در لوده د هغه له جلوس څخه وروسته تر سره شوه. په لاندی متن کې معلومات در کول کیږي.

د شاه زمان ړندېدو د شاه محمود د اداري کمزورتیا او له هغه څخه د خلکو کرکه د شاه شجاع د پاچاهۍ لپاره زمینه مساعده کړې وه. په ۱۸۰٤ میلادي کې شاه شجاع د کابل د خلکو په غوښتنه د زرمت او لوګر له لارې کابل ته ننوت او په بابر بن کې دېره شوه او خپله دوستي يې له انګرېزانو سره ښکاره کړه. وزیر فتح خان د مالیاتو د راغونډولو لپاره بامیانو ته تللی و. کله چې کابل ته راورسېد، غوښتل يې چې شاه محمود له محاصرې خلاص او د شاه شجاع حکومت پای ته ورسوي، نو د قلعه قاضي په سیمه کې د وزیر فتح خان او شاه شجاع د قواو ترمنځ جګړه ونښته، چې په پایله کې وزیر فتح خان ماتې وخوړه او شهزاده کامران د کندهار والي ته وتښتېد.وروسته شاه شجاع خپل ځواکونه بالاحصار ته د ننه کړل او سلطنت يې اعلان کړ. د شاه شجاع کسانو تر جلوس وروسته ملا عاشق الله شینواری کابل ته راوست لومړی يې تري د کوه نور الماس واخیست او بیا

يې ووژه. شاه شجاع د خپل حکومت د ټينګښت په برخه کې له وزير فتح خان او د هغه له ورونو څخه وېره درلوده او هڅه يې وکړه چې له وزير فتح خان سره خپلې اړيکې ښې کړي، دښمني او تاوتريخوالی پرېږدي. هغه و چې وزير فتح خان يې په ډېر درناوي کابل ته راوغوښت، شاه شجاع د دوست محمد خان لور د وزير فتح خان ورېره ځان ته په نکاح کړه، خو له دې سره يې پر يو بل باور نه درلود. ځکه چې د دښمنۍ اصلي ريښه يې د شاه زمان په وسيله د سردار پاينده محمد خان اعدامول وو چې د وزير فتح خان د پلار قاتل ګڼل کېده نو وزير فتح خان هڅه کوله چې شاه محمود د دويم ځل لپاره پاچاهۍ ته ورسوي. په همدې وخت کې شاه محمود د کابل د بالا حصار له زندانه وتښتېد. هغه جګړه چې د شاه شجاع او د شاه محمود د قواوو ترمنځ ونښته، په پايله کې يې شاه شجاع ماتې وخوړه او شاه محمود د دويم ځل لپاره پاچاهۍ ته ورسېد.

د شاه محمود دويم ځل پاچاهي ۱۸۰۹- ۱۸۱۸ ميلادي

شاه محمود د وزير فتح خان په مرسته دويم ځل پاچاهۍ ته ورسېد او يو شمېر لوړ رتبه مامورين لکه محمد اکرم خان امين الدوله، شيرمحمد خان ، مختار الدوله او مير علم اعدام شول، ځکه چې دوی د شاه محمود د لومړي حکومت پر وخت شاه شجاع ته تښتېدلې وو، د شاه شجاع د پاچاهۍ پر وخت يې له هغه سره مرسته کړې وه.

وزير فتح خان له خپلو ورونو سره پر دولتي چارو مسلط شول او د ډېر واک د لاس ته راوړنې لپاره يې خپل ورونه پر مهمو دولتي دندو وګومارل چې د وزير فتح خان ورځ په ورځ ډېرېدونکي واک شهزاده کامران اندېښمن او کينه کښ کړ. شاه په داسي يو حالت کې د مزو په تېرولو لګيا، له دولتي چارو نا خبره و او د اقتدار ساحه يې يوازې کابل او کندهار وه ، پېښور د شاه شجاع د نفوذ تر ساحې لاندې و او کشمير عطا محمد خان اداره کاوه چې د مرکزي دولت اطاعت يې نه کاوه. په هرات

کې د شاه محمود سکه ورور فیروز الدین حکمراني کوله او شاه محمود د خپلې دویمې پاچاهۍ له پیله ډېر وخت په پایتخت کې اوسېده. هغه وخت چې افغاني قواوې په ختیځ کې په جګړه اخته وې، ایرانیانو غورات ونیول، فیروز الدین له مرکزه مرسته وغوښته، تر څو د ایرانیانو د پرمختګ مخه ونیسي چې په پایله کې وزیر فتح خان له دېرش زره پوځیانو سره د هغه د ملاتړ په موخه له کابل څخه حرکت وکړ. وزیر فتح خان لومړی شهزاده فیروز الدین له خپلې کورنۍ سره کندهار ته ولېږه چې د کورنۍ ټوله شتمنی او ګانې یې د دوست محمد خان د سړیو په وسیله لوټ شوله وروسته وزیر فتح خان له ایرانیانو سره جګړه پیل کړه چې په پایله کې ایراني قواوو ماتې وخوړه او شاتګ یې وکړ. شاه محمود چې د شهزاده فیروزالدین د کورنۍ له سپکاوۍ خبر شو، شهزاده کامران یې د دوست محمد خان د ټکولو لپاره هرات ته ولېږه. دوست محمد خان وتښتېد او کامران وزیر فتح خان ونیو او ړوند یې کړ. د وزیر فتح خان ورونه چې د هغه له ړندېدو څخه خبر شول، په ټول افغانستان کې له کشمیره تر هراته یې په اله ګوله لاس پورې کړ.



وزیر فتح خان

دوست محمد خان له کشمیر څخه راغی او کابل یې ونیو. وزیر فتح خان چې له شاه محمود سره بندي و، شاه محمود هڅه وکړه، چې وزیر فتح خان راضي کړي چې ورونه یې له جګړې څخه لاس واخلي، خو د فتح خان ورونو جګړه غوره وګڼله. څرنګه چې د شاه محمود غوښتنه تر سره نه

شوه، نو وزير فتح خان يې وواژه، په هرات کې يې جلا حکومت جوړ کړ، خو دې حکومت تر ۱۸۴۲ ميلادي پورې دوام وکړ او بيا افغانستان د سدوزيو، بارکزيو ورونو او د انګليس د استعماري سياست د سيالۍ ډګر وګرځېد.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو جلا ډلو وويشل شي. لومړنۍ ډله دې د شاه شجاع قدرت ته د رسيدو په څرنګوالي او دويمه ډله دې دشاه محمود د وخت د مهمو پېښو په اړه په خپل منځ کې بحث وکړي او پايلي دې په ټولګي کې وړاندي کړي.

پوښتنې

۱- د شاه محمود د سلطنت په اعاده کولو کې د وزير فتح خان ونډه بيان کړئ.

۲- شاه محمود دويم څل لپاره څرنګه واک ته ورسيد؟

۳- شاه شجاع د خپل سلطنت په لومړۍ څل کې کومې کړنې وکړې؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د زمانشاه دلري کيدو وروسته د انګريزانو د نفوذ په اړوند له مشرانو او فرهنګي څېرو څخه معلومات تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې وړاندي کړي.

د سیالیو او اختلافاتو منځ ته راتګ

ولې د سدوزیو او بارکزیو کورنیو تر منځ سیالي او اختلافات را پیدا شوې. لاملونه یې څه وو او څه پایلې یې درلودې؟ په دې لوست کې به په دې اړه معلومات وراندې شي.

محمدزي د کندهار د بارکزیو ریښې پورې تړاو لري. محمد بن عمر د دارو او بارک له قوم څخه وو. ځکه نو بارکزي او محمدزي په یو قوم پورې اړه لري. حاجي جمال بن حاجي یوسف بن یارو بن محمد د شپږ سرخ د مزار د جرګې غړی او د احمد شاه بابا د دربار سلاکار و.

سردار پاینده محمدخان د زمان شاه د سلطنت پر وخت د زمان شاه پر ضد د یوې سیاسي توطیې له امله ووژل شو او وزیر فتح خان د پلار د غچ اخیستلو او د زمان شاه د سلطنت په پرځولو کې فعاله ونده درلوده. شاه محمود د هغه په مرسته سلطنت ته ورسېد. هغه لومړی ړوند او بیا یې وواژه. کله چې شاه محمود او شهزاده کامران هرات ته ولاړل، نو د لنډې مودې لپاره یې هلته پاچاهي وکړه.

وزیر فتح خان د شلو په شاوخوا کې ورونه درلودل، چې هر یو یې په ځانګړې توګه سردارمحمد

عظیم خان او سردار دوست محمد خان د واک د تر لاسه کولو هڅه کول د مرکزي دولت تر سقوط وروسته د وزیر فتح خان د ورونو تر منځ بي اتفاقۍ او ځان غوښتنې د دې سبب شوې چې تر منځ يې جګړې رامنځ ته شي. هغوی ونه شو کړای چې د افغانستان ملي وحدت او مرکزي دولت وژغوري. د هغوی پر له پسې جګړو تر شلو کلونو پورې افغانستان د ګډوډیو او بې نظمیو لور ته یووړ او د افغانستان خلکو ته يې بېوزلي او بدبختي په ارمغان راوړه، چې همدې کار د هېواد مرکزي دولت له منځه یووړ او اقتصاد او کلتور يې کمزوری کړ.

سردار دوست محمد خان چې څنګه کابل ونیو، خپل ورور امیر محمد خان يې د غزني والي وټاکه. خو کابل ته د کشمیر د والي محمد عظیم خان په راتګ سره د هغوی تر منځ اختلاف ډېر شو. هر یوه غوښتل چې د سدوزیو له شهزادګانو څخه یو سلطنت ته ورسوي او پخپله د وزیر په توګه کار وکړي. چې په دې توګه سردار محمد عظیم خان (ایوب شاه) او سردار دوست محمد خان (سلطان علي شاه) سلطنت ته ورسول او دوی د پاچاهانو په نامه وو. واک او صلاحیت له دواړو ورونو سره و چې هم مهاله په کابل کې دوو پاچاهانو او دوو وزیرانو واکمني کوله.

په **۱۸۱۹** میلادي کال کې سردار محمد عظیم خان سلطان علي شاه له سلطنته لرې او دوست محمد خان يې له وزارته معزول کړ.

کابل يې سردار محمد عظیم خان، غزني يې سردار دوست محمد خان، پېښور يې سردار یار محمد خان، کشمیر يې سردار نواب عبدالجبار خان او دیره جات يې (دېره اسماعیل خان او دېره غازي خان) نواب محمد زمان خان ته ورکړل. شمالي او مرکزي ولایتونه، بدخشان، تخار، بلخ، میمنه او جوزجان د ځایې حاکمانو له خوا اداره کېدل او ملوک الطوایفي په کې واکمنه وه. د هرات ولایت د شاه محمود په وسیله اداره کېده. په دې توګه افغانستان د موروثي ملکیت په توګه د وزیر فتح خان د ورونو تر منځ وېشل شوی و.

څرنګه چې د افغانستان بهرنيو دښمنانو او د پنجاب سيکانو؛ د افغانستان له بريو او سفرونو څخه ترخه خاطره درلوده، د افغانستان له ناوړه حالت او د وزير فتح خان د ورونو د خپلمنځي بې اتفاقيو څخه يې ګټه واخيسته. رنجيت سينګ د هغه قرارداد له امله چې له انګليسانو سره يې لاسليک کړی و، نه شو کولای چې د ستلج له سيند څخه راتېر شي او نورو سيمو ته لاسرسی پيدا کړي، نو ځکه د افغانستان ختيځو سيمو ته متوجه شول. لکه چې په ځان کې يې دا توان ليده، لومړی يې ملتان، کشمير او بيا يې پېښور تر اټکه ونيول. سردار محمد عظيم خان او امير دوست محمد خان د افغانستان د لاسه تللو سيمو د نيولو لپاره سند ته ولاړل، خو امير دوست محمد خان ناڅاپه کابل ته راستون شو او د قومي مشرانو سره تر موافقې وروسته يې له سردار محمد عظيم خان سره مخالفت ښکاره کړ او په داسې حال کې چې مخالفت دوام درلود، له کابل څخه غزني ته روان شو؛ سره له دې هم د دوی مخالفتونو دوام درلود.

سردار محمد عظيم خان پرته له جګړې کابل ته راغی، په دې وخت کې رنجيت سينګ ځينې نورې سيمې هم ونيولې او سردار محمد عظيم خان د دويم ځل لپاره د رنجيت سينګ د مقابلې لپاره خپل قوتونه ولېږل او پرته له کومې لاسته راوړنې چې غوښتل يې کابل ته راشي، د لارې په اوږدو کې ناروغ او مړ شو، چې د عاشقانو او عارفانو په زيارت کې خاورو ته وسپارل شو. وروسته له دې سردار دوست محمد خان د محمد عظيم خان د زوی سردار حبيب الله خان له مخالفت سره مخامخ شو.

امير دوست محمد خان د يوه حکومت د جوړولو سريزه جوړه کړه، په داسې حا ل کې چې د سيکانو پرمختګ دوام درلود. له دې سره جوخت شاه شجاع د انګليسانو په لمسون د کندهار د نيولو تياری ونيو. امير دوست محمد خان لومړی جلال آباد ته سفر وکړ او هغه يې ونيو او وروسته يې خپلې قواوې کندهار ته ولېږلې. د امير دوست محمد خان او د انګليسي جنرالانو او شاشجاع د قواو تر منځ تر سختی جګړې وروسته د دښمن قواو ماتې وخوړه او کندهار فتح شو. شاه شجاع

او ملګري يې وتښتېدل. شاه شجاع د خټکو په غرونو کې پټ شو.

امير دوست محمد خان چې کله په کندهار کې و، د رنجيت سينګ د ټکولو لپاره يې اقدام وکړ، خو د کندهار سردارانو يې مرسته ونه کړه، هغه ناهيلی کابل ته ستون شو. کله چې د خيبر درې له نيولو څخه خبر شو، خپل زوی سردار محمد اکبر خان يې له لږو قواو سره هلته واستاوه وزير محمد اکبرخان يوازې دفاع کوله او نه يې غوښتل چې تعرض وکړي، ځکه چې له کابله يې مرستندويه قواو ته انتظار کاوه. نوي راغلي ځواک له رنجيت سنګ څخه وغوښتل، چې پېښور خالي کړي، خوهغه ورته ارزښت ور نه کړ.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وويشل شي. لومړنۍ ډله دې د سدوزيو او بارکزيو د خپل منځي اختلافاتو د عواملو په اړه او دويمه ډله دې د انګليسانو د لمسون او د اختلافاتو په زياتوالي کې خپل معلومات د خپلو ټولګيوالو په وړاندې ووايي.

پوښتنې

۱. وزير فتح خان کومې کورنۍ پورې اړه درلوده؟


۲. د سدوزيو او بارکزيو د سيالیو لاملونه څه وو؟

۳. د سيمې ځواکونو په ځانګړې توګه انګليسانو د وزير فتح خان د ورونو د بې اتفاقيو په ډيرولو کې کوم نقش ولوباوه؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت

زده کوونکي دې د منابعو او ماخذو په لړلو سره د سردار دوست محمد خان او سردار عظيم خان دسيالیو د اصلی لاملونو په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګی کی دې ووايې.

د واک لیږد او لاسوهنې (۱۸۱۸-۱۸۳۴میلادي)



امیر دوست محمد خان

د واک لیږد څرنګه له سدوزایانو څخه بارکزایانو ته سرته ورسید؟ انګلیسانو څه غبرګون وښود او د افغانستان د خلکو لپاره یې کومې پایلې درلودې؟ په دې لوست کې به د دې پوښتنو ځوبونه ترلاسه کړئ.

د سدوزیو سلطنت د احمدشاه بابا په مشرۍ په کال (۱۷۴۷م.) کې پیل او د ایوب شاه سدوزي په سلطنت سره پای ته رسېږي. یوشمېرکورنۍ او بهرني لاملونه د سدوزیانو د سقوط سبب شول چې په لاندې توګه د یادونې وړ دي:

د افغانستان په کورنیو چارو کې د انګلیسانو او ایرانیانو مستقیمې مداخلې او توطیې، د تیمور شاه د زامنو او لمسیانو زیاتوالی او پر خپلو رقیبانو باندې د بریالیتوب لپاره خپل ځانونه د انګلیسانو او ایرانیانو په لمنو کې اچول او همدارنګه د بارکزیو سردارانو لکه د سردار پاینده محمد خان او وزیر فتح خان وژنه د سدوزیو د سقوط له لاملونو څخه ګڼل کېږي.

مخکې له دې چې سردار دوست محمد خان واک ته ورسېږي، هغه له سیکانو څخه د افغانستان له لاسه تللیو سیمو په برخه کې د خلکو د فشار لاندې و او پرته له دې چې له دیني عالمانو او قومي

مشرانو څخه د جهاد فتوی واخلي، بله لاره يې نه درلوده. ځکه نو ديني عالمانو هغه ته مشوره ورکړه چې خپل ځان امير المومنين اعلان کړي، تر څو د شرعي جهاد د اعلان صلاحيت تر لاسه کړي. په ۱۸۳۵م. کې امير دوست محمد خان د خپلو يو شمېر باوري کسانو سره د عيدګاه جومات ته لاړ(په هغه وخت کې عيدګاه د بګرامیو سره نږدې و). په دې وخت کې مير حاجي د مير واعظ زوی چې د کابل مشهور عالم او مبارز و، د هغه په وسيله چې د عالمانو مشر و، د ساده مراسمو په ترڅ کې امير المومنين وټاکل شو او د هغه په نامه لومړنۍ خطبه وويل شوه.

امير دوست محمد خان د جهاد امر اعلان کړ او خلکو يې پلوي وکړه. د ده پوځ پنځوس زره کسييز پلی ځواک او لس زره يې داوطلب سپاره وو، په ۱۸۳۵م. کې د پېښور حوزې ته داخل شو او د خيبر درې په (شېخانو) کې ځای پر ځای شو. ورور يې سردار سلطان محمد خان د لس زره باجوړي مبارزو ځوانانو مشري پر غاړه درلوده، چې دا هم د همدې ځواک يوه برخه وه. د پنجاب حکومت ته وېره پيدا شوه، ويې غوښتل چې د سولې له لارې رامخکې شي. انګليسانو يو هييت د (هارلان) په مشرۍ د امير دربار ته واستاوه او هارلان دا دنده درلوده، چې د افغاني قواو په منځ کې بې اتفاقي واچوي. سلطان محمد خان ته يې د پېښور د حکومت ورکولو وعده ورکړه. سلطان محمد خان خپل لس زره کسيز ځواک له افغاني قواو څخه بېل کړ. امير دوست محمد خان پرته له ځنډه کابل ته راغی، چې د امير دې پرېکړې ټول خلک حيران کړل.

په تېر څېرکي کې مو يادونه کړې وه، چې د افغانستان له لارې د ناپليون احتمالي يرغل انګليسان په وېره کې اچولي وو. په همدې وخت کې په روسيه کې ورته پېښې رامنځ ته شوې، ځکه نو انګليسانو په افغانستان کې دلچسپي وښوده. انګليسانو له امير دوست محمد خان څخه وغوښتل چې ناپليون ته اجازه ور نه کړي، چې د افغانستان له لارې هند ته داخل شي. امير دوست محمد خان د پېښور د تر لاسه کولو په صورت کې د انګليسانو شرط ومانه. خو انګليسانو کابل ته د روسيې د هييت راتګ بانه

کړه او له امیر سره یې اړیکې پرې کړې. په لاهور کې د انګلیسانو، شاه شجاع او رنجیت سینګ تر منځ په ۱۸۳۸ م. کې د مثلث په نامه معاهده لاسلیک شوه، چې د دې ترون ځینې مواد په لاندې ډول دي:

۱- شاه شجاع د افغانستان د ټولو حقوقو څخه د افغاني ولایت د اندوس د لویدیځې غاړې څخه لکه پشاور او دیره جات د سیک د دولت په ګټه تیر شي.

۲- د پنجاب امیر وعده کوي چې د خپلو ځواکونو په مرسته شجاع الملک بیرته د افغانستان د تخت او تاج څښتن کړي.

۳- د بریتانیه دولت د خیر غوښتونکي په توګه د موخو د سر ته رسولو لپاره د دوی تر منځ مرسته کوي.

د یادې شوې معاهدې او د سلمې د اعلامیې پر بنسټ انګلیسي پوځ د سند له سیند څخه راتېر شول او له شاشجاع سره یو ځای د بولان درې ته نږدې شول او کندهار یې ونیو. د شاشجاع د پاچاهۍ اعلان په رسمي توګه وشو او شاشجاع په قندهار کې دا ژمنه وکړه، چې انګلیسي پوځ دې په افغانستان کې په دایمي توګه پاتې شي. د انګلیسانو نورې قواوې جلال اباد ته نږدې شوې. د امیر دوست محمد خان د خراب حالت سره سره غازي وزیر محمد اکبر خان او سردار غلام حیدر خان د غزني والي ته امر وکړ، چې د دښمن په وړاندې په ټول ځواک سره مقاومت وکړي. هغوی مقاومت ونه شو کړای او انګلیسانو غزني ونیو او کابل ته نږدې شول. امیر دوست محمد خان بخارا ته پناه یووړه. که څه هم په ښکاره شاشجاع پاچا و، خو ټول واک د مکناټن او انګلیسانو په لاس کې و.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړنۍ ډله دې د ۱۸۱۸ او ۱۸۳٤ کلونو ترمنځ د سیاسي او ټولنیز وضعیت په اړه او دویمه ډله دې د انګلیسانو د تیری د لاملونو په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

پوښتنې

۱- امیر دوست محمد خان څرنګه واک ته ورسید؟

۲- د امیر دوست محمد خان خطي مشي څرنګه ارزوئ ؟

۳- امیر دوست محمد خان ولي ځان ته د امیرالمومنین لقب ورکړ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د منابعو او ماخذو په لړلو سره د افغانستان په اړه د رنجیت سنګ د پالیسۍ په برخه کې معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

شاه شجاع او ملي پاڅون



پوهيږئ چې شاه شجاع دوهم ځل د کومو قوتونو په مرسته واک ته ورسيد، د خلکو غبرګون، ملي پاڅون او د انګليسانو تلفات او ماتې هغه مطالب دي چې په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

له هماغې ورځې څخه چې شاه شجاع سلطنت ته ورسېد، خلک يې له ټيټ فطرت څخه خبر شول، د هغه او د انګليسانو له منځه وړل يې له خپلو ديني او ملي وجايبو څخه وګڼل او د خلکو په منځ کې د خپلواکۍ، ننګ او ناموس د ساتنې احساس پياوړی شو. لومړی يې له خطبې څخه د شاه شجاع نوم لرې کړ او له انګليسانو څخه يې خپله سخته کرکه څرګنده کړه. د انګليسانو هغه خزانې چې له کندهاره کابل ته انتقالېدې، غازيانو غنيمت ونيولې. د کابل- کندهار لاره وترل شوه او په مشرقي کې د سيد جمال الدين افغان د کورنۍ د خلکو له خوا پاڅون پيل شو. دې حالت انګليسان وارخطا کړل، په ځانګړې توګه کله چې روسانو امير دوست محمد خان له ډېرو وسلو سره کابل ته راولېږه او د امير ډېر شمېر پلويان له هغه سره يو ځای شول. په کندهار او سوبلي کې انګليسي ضد شورشونه پيل شول. په ټول هېواد کې سر تا سري ناخوښي پيل شوه او نوره دا شونې نه وه چې شاه شجاع خلق وغولوي.

امیر دوست محمد خان له بخارا څخه راووت او د جګړې د تیاري لپاره له تاشقرغان څخه کوهستان ته لاړ. د کوهستان خلکو د میر مسجدي خان په مشرۍ پر انګلیسانو یرغل کړی و. د یوشمېر خاینینو د خیانت له امله نوموړی یرغل خنثی شو، نو ځکه امیر دوست محمد خان کابل ته راغی او ځان یې انګلیسانو ته تسلیم کړ او مکناټن دا ټینګار وکړ چې د شاه شجاع د وزیر په توګه دنده تر سره کړي، خو امیر دوست محمد خان دا ونه منله او دا یې غوره وګڼله چې له افغانستانه ووځي. انګلیسانو هغه له خپلې کورنۍ سره کلکتې ته ولېږه.


وزیر اکبر خان

انګلیسانو دا فکر کاوه چې د مخالفینو مشر یې له منځه یووړ، خو له دې سره هم جهاد د انګلیسانو د شړلو او د شاه شجاع د سلطنت د پرځولو زمزمه غلې نه شوه. د خلکو اتحاد او ملي پاڅون ثمر ته ورسېد.

دغه ملي پاڅون له کابله پیل شو د قومي مشرانو لکه نایب امین الله خان لوګري او عبدالله خان اچکزي تر منځ د ټرون تر عقد وروسته، نورو مجاهدینو د جهاد جنډه پورته کړه. لومړی یې (برنس) په خپل کور کې وواژه او وروسته یې د انګلیسانو ټولې خزانې او د وسلو ذخیرې ونیولې. ټول وګړي، لکه: د کوهستان خلک، لوګر او وردګ له هغوی سره یو ځای شول چې انګلیسي قواو ته یې ډېر تلفات ورکړل او پاتې یې په شېرپور کې کلابند شول. په همدې وخت کې وزیر محمد اکبرخان د بخارا له بنده خوشې شو او ځان یې کابل ته راورساوه. د هغه په راتلو سره د مجاهدینو روحیه لا پیاوړې شوه. مکناټن له چل څخه کار واخیست او له کابل څخه یې د انګلیسانو د وتنې د ټرون وړاندیز وکړ، ترڅو مجاهدین مصروف او له هند څخه نورې قواوې راوغواړي. مکناټن له وزیر محمد اکبر خان سره دوکه کوله په مجلس کې یې وغوښتل چې هغه ووژني، خو وزیر محمد اکبرخان مکناټن په هغه تومانچه چې یې ورته ډالۍ کړې وه وویشت او په دې توګه د انګلیسانو سیاسي استازی او مختار وزیر

(ولیام مکناټن) له منځه یووړل شول. له دې وروسته د انګلیسي قواو په منځ کې عجیب وحشت رامنځ ته شو. خوراکي مواد یې پای ته ورسېدل. قواوې یې چې شپاړس زره او پنځه سوه کسو ته رسېدې، له لوړې سره مخامخ شوې. سوړ ژمی و چې انګلیسانو له کابل څخه د وتلو شرایط د مجبوریت له امله ومنل.

د کابل د پرېښودو شرایط

د افغانستان د ټولو سیمو پرېښودل د دې لپاره چې بیا وسلې ته لاس نه کړي، پرته له شپږو توپونو څخه د ټولې وسلې تسلیمول، خو سره له دې انګلیسانو هڅه وکړه چې له خپلو قواو سره چې په جلال آباد کې وې، اړیکې ټینګې کړي. ځکه نو د جلال آباد د لارې په اوږدو کې پرې د مجاهدینو یرغلونه پیل شول او ډېر سخت ځاني او مالي زیانونه یې وزغمل. له شپاړس زره پنځه سوه پوځیانو څخه یې یوازې یو کس ډاکتر برایډن په نیم ژوندي حالت کې پېښور ته ورسېد. د لندن په سیاسي کړیو کې دې پېښې حیرانوونکي غبرګونونه رامنځ ته کړل. د هند وایسرای (لارډ اکلنډ) تبدیل او پر ځای یې (لارد لټن برون) وټاکل شو.

انګرېزان د دې لپاره چې خپل بایللی حیثیت بېرته تر لاسه کړي، خپلې دوه ډلې قواوې یې د افغانستان لوري ته راولېږلې. د جنرال (پالک) په مشرۍ شل زره قواو لومړی له شاه شجاع سره اړیکې ټینګې کړې. څرنګه چې شاه شجاع خپل ځان د مجاهدینو په منځ کې محاصره لیده، نو د مجبوریت له مخې یې د انګرېزانو پر ضد جهاد اعلان کړ، خو له بلې خوا یې ورځینې اطلاعات یې له افغانستان څخه انګلیسانو ته ورکول. د جنرال پالک تر رسېدو دمخه خلکو شاه شجاع ووژه او د شاه شجاع زوی (فتح جنګ) واک ته ورسېد خو هغه هم د امیر دوست محمد خان د ورونو له مخالفت سره مخامخ شو، انګلیسانو ته یې پناه یووړه. تر فتح جنګ وروسته ورور یې شهزاده شاهپور سلطنت ته ورسېد.

د انګلیسانو د قواو دویمه ډله د جنرال (ناټ) په مشرۍ کندهار ته ورسېده او په همدې وخت

کې امیر دوست محمد خان له کلکتې څخه کابل ته راغی او د حکومت چارې یې په لاس کې واخیستې. انګرېزانو د امیر دولت سمدستي په رسمیت وپېژانده او درې اړخیز (مثلث) ټرون چې د انګرېزانو، شاه شجاع او رنجیت سینګ تر مینځ لاس لیک شوی و. پخپله له منځه لاړ. د دې سره سره انګلیسانو د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوله او د افغانستان د سیاسي یوالي لپاره یې د پېښور، کندهار او هرات یو ځای کېدل له کابل سره د خپل استعماري سیاست په وړاندې ضد کار ګاڼه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړنۍ ډله دې پر افغانستان باندې د انګلیسانو د لومړي یرغل په اړه او دویمه ډله دې د لاهور د معاهدې په برخه کې معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

پوښتنې

۱. پر افغانستان باندې د انګلیس لومړی یرغل په کوم کال کې او څرنګه وشو؟

۳. د افغان انګلیس د لومړۍ جګړې د مبارزینو نومونه لیست کړئ.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې پر افغانستان باندې د انګلیس د لومړني یرغل د پایلې په اړه د خپلو ښوونکو په مرسته معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

د امیر دوست محمد خان دویمه پاچاهي

امیر دوست محمد خان دوهم ځل ځرنګه هېواد ته راستون شو، په کومو کړنو یې لاس پورې کړ او کومه معاهده یې د انګلیسانو سره لاسلیک کړه؟ په دې لوست کې به د دې پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړئ.

امیر دوست محمد خان په ۱۸۴۲م.کال کې د دویم ځل لپاره سلطنت ته ورسېد. لومړی یې د هېواد د کورنیو اوضاعو په اصلاح لاس پورې کړ، ځکه د ملوک الطوایفی له امله داخلي حالت خراب او بې نظمه شوی و. د سیاسي او مرکزي دولت د ټینګښت لپاره یې ډېرې هلې ځلې وکړې او ځینې هغه سیمې چې له مرکزي دولته، لکه: بامیان، مزار شریف او ټول هزاره جات جلا شوې وې، ونیولې او له مرکزي دولت سره یې یو ځای کړې.

د تګاب، نجراب او خوګیانیو بغاوتونه غلي کړی شول. اتل غازي محمد اکبرخان د امیر دوست محمد خان زوی د یوه سرښندونکي او وطنپرست په توګه د افغانستان د ملي وحدت لپاره ډېر زیارونه وګالل، خو د ۲۹ کلنۍ په عمر کې چې یو هندي طبیب یې معالجه کوله، زهرجنې ګولۍ یې ورکړې او شهید کړای شو چې دحضرت علي(رض) په روضه کې خاورو ته وسپارل شو. امیر دوست محمد خان د پښور د نیولو ډېره هڅه وکړه، خو بریالی نه شو او نور یې نه غوښتل چې له انګلیسانو سره یې

اړیکې خرابې شي. خو په داخل کې يې ټولې سيمې د مرکزي حکومت تر ولکې لاندې راوستې. که څه هم د لوی احمد شاه بابا په سرحداتو کې بدلون راغی، خو مرکزي حکومت تر يو وخت وروسته جوړ شو.

امير دوست محمد خان د خپلې دويم ځل واکمنۍ کې د انګليسانو او د ختيځې هندي کمپنۍ سره يو شمير ټرونونه لاسليک کړل چې په لاندې ډول ورځخه يادونه کيږي:

د جمرود ټرونونه

انګليسانو د جمرود د ټرونونو وروسته له امير دوست محمد خان څخه دوه امتيازه غوښتل، لومړی د هغو سيمو په رسميت پېژندنه چې پخوا د سيکانو تر ولکې لاندې وو چې وروسته انګليسانو ونيولې. دويم دا چې روسانو د ايرانيانو په مرسته غوښتل چې د هرات ولايت په خپله ولکه ونيسي، ځکه نو د روسانو د پرمختګ له امله يې خپلې ګټې په خطر کې ليدلې. نو دا خطر بايد رفع شوي واى.

لومړی ټرون: د هند د ګورنر جنرا ل لارد الهزی په هدايت د پنجاب والي سرجان لارنس د دې ټرون کولو ته موظف شوي وو، خو خپله امير دوست محمد خان په دې خبرواترو کې ګډون و نه کړ او په خپل ځای يې سردار غلام حيدر خان په کا ل ۱۸۵۵م. کې جمرود ته چې د پېښور ښار ته نژدې پروت دی ولېږه. له مذکرو وروسته د درې فقري ټرون (معاهده) د همدې کال د مارچ په ۳۰ د دواړو لورو ترمنځ لاسليک شو.

۱- امير دوست محمد خان د کابل حاکم او د ختيځ هندي کمپنۍ تر منځ، هغه سيمې چې د ده په کنټرول کې دي له هغه وروسته د ده د ورثې او د ختيځ هندي کمپنۍ تر منځ به دايمی سوله او دوستي ټينګه وي.

۲- ختيځه هندي کمپنۍ ژمنه کوي هغه سيمې چې اوس د امير په تصرف کې دي احترام وکړي.

۳- امیر دوست محمد خان د کابل حاکم او د افغانستان هغه سیمې چې دده په واک کې دي د خپل ځان او خپلې ورځې لخوا ژمنه کوي د ختیځې هندي کمپنۍ د سیمو احترام وکړي او هیڅ کله د هغوی په کورنیو چارو کې لاس وهنه و نه کړي. د هندي کمپنۍ د دوستانو سره دوست او د دښمنانو سره دښمن اوسي.

دویم ټرون

کله چې انګلیسان د هرات ولایت له تجزیې څخه تیر شول په دې لټه کې شول چې امیر دوست محمد خان سره خبرې اتری پیل کړي. امیر په هند کې خبرې اتري قبول نه کړې نو دا خبرې اترې په جمرود کې د امیر دوست محمد خان او سرجان لارنس تر مینځ وشوې او دغه ټرون د محمد اعظم خان له خوا لاسلیک شو. چې مواد یې په لاندې ډول دي.

۱- ایران د خپلو ژمنو بر عکس هرات ونیوه او انګلیسان به جګړې ته د ایرانیانو پر خلاف دوام ور کړي تر څو امیر وکولای شي د نورو ولایاتو څخه دفاع وکړي د جګړې تر پای پورې به انګلستان به هره میاشت سل زره روپۍ ((لس زره پونده)) امیر ته ورکوي.

۲- انګلیسان، امیر دوست محمد خان ته سربېره په اوسني پوځ یو دیارلس زریز سواره او اتلس زریز پلي پوځ مجهز کړي.

۳- د پیسو اخیستنه او لېږدیدنه په امیر دوست محمد خان پورې اړه لري.

٤- د انګلیستان نور استازي به د افغانستان په دریو ولایاتو (کابل، قندهار او بلخ) کې د ځارنې او جګړیزو راپورونو چمتو کولو په موخه استوګن شي. دوی به په کورنیو چارو کې د لاس وهنې حق نه لري خو د دوی ساتنه به د امیر دوست محمد خان په غاړه وي.

۵- د کابل یو استازی به په پېښور کې استوګن شي.

٦- د ایران سره د جګړې له پای وروسته به د لومړۍ مادې مطابق پیسې قطع شي.

۷- د پیسو د قطع کولو وروسته به انګریزي منصبداران له افغانستان څخه ووځي که چیرې غوښتنه وشي یو مسلمان استازي به په کابل کې استوګن شي.

۸- امیر دوست محمد خان به افغانستان ته د انګریزي افسرانو د راتلو او وتلو په وخت کې د پوره

ساتوونکو په وسیله د دوی محافظت او ساتنه کوي.

۹- د پیسو ورکول به د جنوري د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه پیل کیږي.

۱۰- درې سوه زره روپۍ په قندهار او دوه سوه زره په کابل کې ورکول له دې ټرون څخه جلا دي. هغه د ختیځې هندي کمپنۍ یوه ډالۍ ده. د شپږ سوه زره روپیو ورکړه په کابل کې د نورو موخو لپاره ده او په بل ټرون پوري اړه لري.

۱۱- دغه ټرون د مخکیني ټرون ناقض نشي کېدلی. امیر دوست محمد خان به د سولې او جګړې په حالت کي د ایران او د هغه د متفیقینو وړاندیزونه انګلیسانو ته رسوي.

۱۲- سربېره پر څلور زره ټوپکو نور څلور زره ټوپکه به د انګلیس د حکومت له خوا د ټل په سیمه کې د امیر دوست محمد خان مامورینو ته وسپارل شي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وویشل شي لومړۍ ډله دې د اتل او پیاوړې څیرې وزیر محمد اکبر خان او د هغه ونډه د امیر دوست محمد خان د نظام په ټینګښت کې او دویمه ډله دې د امیر دوست محمد خان د کورنۍ سیاست په اړه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې پرې مباحثه او مشاجره وکړي.

پوښتنې

۱- د جمرود د لومړي ټرون مواد معرفي کړئ.

۲- د جمرود دویم ټرون د کومو شخصیتونو تر منځ لاسلیک او د دغه ټرون درې مادې بیان کړئ؟

۳- د جمرود د ټرونونو لاملونه توضیح کړئ.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د مشرانو او فرهنګي څیرو څخه د امیر دوست محمد خان د خدمتونو په اړه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې بیان کړي.

د امیر شېر علي خان لومړنی سلطنت (۱۸۶۳ـ۱۸۶۶ میلادي)



امیر شیر علي خان

سردار شیر علی خان څرنګه واک ته ورسید. د کومو مخالفتونو سره مخامخ شو او اداري یې ولې سقوط وکړ؟ د دې مطلب څواب به په دې لوست کې ترلاسه کړئ.

د افغانستان خلک د وزیر فتح خان د ورونو د تسلط په دوره کې کابو نیمه پېړۍ له جګړو او ناخوالو سره لاس او ګرېوان وو. ځکه چې په دې بې نظمیو کې د انګلیسانو استعماري سیاست دخیل و. د امیر شېر علي خان له سلطنت څخه مخکې پر امیر دوست محمد خان باندی یو شمېر معاهدې تحمیل شوې چې دغو معاهدو له مخې ترانزیتي او مواصلاتي لارې د افغانستان د خلکو پر مخ وترڼ شوې او افغانستان یې په اقتصادي او سیاسي محاصره کې ښکېل کړ.

امیر شېر علي خان د خپل پلار په ژوند کې ولیعهد ټاکل شوی و چې د پلار له مرګ څخه وروسته یې د ۱۸۶۳ کال د جون په ۱۲مه د ۴۱ کلنۍ په عمر خپل سلطنت اعلان کړ. ورونو یې ظاهراً هغه ته بیعت وکړ، خو په پټه کې یې د هغه په وړاندې مخالفت پیل کړ.

امیر شېر علي خان د هرات ولایت د تنظیم لپاره خپل زوی شهزاده محمد یعقوب خان پرېښود او پخپله له محمد اعظم خان سره کابل ته روان شو، خو د سبزوار(شینډنډ) په برخه کې محمد اعظم

خان له امیر څخه ببل شو او د مرکزي سیمو له لارې د خپل سکه ورور سردار محمد حسین خان ته چې د هزاره جاتو حکمران و؛ ورغی او غوښتل یې چې د هزاره خلکو په مرسته پر کابل یرغل وکړي، خو د هزاره جاتو خلکو خپله وفاداري له امیر شېر علي خان څخه اعلان کړه. وروسته محمد اعظم خان له خپلو نورو ورونو څخه مرسته وغوښته او د یوې حملې تیاری یې ونیو، خو د امیر شېر علي خان د ځواکونو په وړاندې یې مقاومت ونه شو کړای، د انګلیسانو دولت ته یې پناه یووړه. په یوه بلې جګړې کې سردار عبدالرحمن خان او محمد افضل خان د هندوکش د درې د باجګاه په سیمه کې د امیر شېر علي خان د قواو په وړاندې ماتې وخوړه. محمد افضل خان تسلیم او عبدالرحمن خان بخارا ته تیښته وکړه.

امیر شیر علی خان په ۱۸۶۵ م کال کې د کندهار د تصفیې لپاره د یو شمېر ډېرو قواو سره حرکت وکړ او له سردار محمد امین خان سره یې مقابله پیل کړه، او د هغې جګړې په ترڅ کې چې د دواړو لوریو تر منځ ونښته، د هغه زوی سردار محمد علي خان او تره یې محمد امین خان سره له اتو زرو عسکرو سره ووژل شول. امیر په دې پېښه ډېر غمجن شو. پر روحیاتو یې بده اغېزه وشوه، د اعصابو کنترول یې له لاسه ورکړ او په کندهار کې یې جلا والی غوره کړ. چې دغه انزوا د امیر شیر علی خان د سلطنت د سقوط لامل وګرځیده.

د امیر محمد افضل خان سلطنت (۱۸۶۶-۱۸۶۷ میلادي)


سردار محمد افضل خان

د امیر شېر علي خان ګوښه والی د دې سبب شو، چې سردار محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن خان کابل ونیسي، چې د کابل تر نیولو وروسته محمد افضل خان سلطنت ته ورسېد او څنګه چې انګلیسان په هند کې د امیر محمد افضل خان له پاچاهۍ خبر شول، نو سمدستي یې د هغه سلطنت به رسمیت وپېژانده. وروسته یې خپل سیاسي استازی کابل ته واستاوه، په داسې حال کې چې د افغانستان رسمي پاچا شتون درلود او خلکو یې ملاتړ کاوه.

د امیر شېر علي خان قواوو د محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان د قواوو په وړاندې ماتې وخوړه او په هرات کې د خپل زوی محمد یعقوب خان سره دېره شو. وروسته د اقچې پخواني حاکم فیض محمد خان امیر شېر علي خان ته خبر واستاوه او د مرستې وړاندیز یې وکړ. امیر شېر علي خان د میمنې او مزار شریف له لارې له هغه سره یو ځای شو. په ۱۸۶۷میلادي کال کې عبدالرحمن خان د پنجشېر په بازارک کې د امیر شېر علي خان د قواوو مخه ونیوله او فیض محمد په جګړه کې ووژل شو او امیر شېر علي خان بیا هرات ته ستون شو. په همدې وخت کې امیر محمد افضل خان د ناروغۍ له امله مړ شو او جسد یې په قلعه حشمت خان کې له شهدا صالحین (ع) سره نژدې خاورو ته وسپارل شو. د هغه د سلطنت موده ډېره لنډه وه او کوم مهم کار د هغه په وخت کې ونه شو.

د امیر محمد اعظم خان سلطنت (۱۸۶۷- ۱۸۶۸ میلادي)


سردار محمد اعظم خان

د امیر محمد افضل خان له مرګ څخه وروسته سردار محمد اعظم خان د عبدالرحمن خان په موافقه سلطنت ته ورسېد. امیر محمد اعظم خان یو نوښتګر سړی و، غوښتل یې چې یو شمېر اصلاحات په افغانستان کې رامنځ ته کړي، خو وخت ورته پیدا نه شو. امیر شېر علي خان له هراته کندهار ته ورسېد او د کندهار خلک چې د امیر محمد اعظم خان د زامنو د ظلم له لاسه ډېر تنګ شوي وو، نو د امیر شېر علي خان هر کلی یې وکړ. په دې وخت کې امیر عبدالرحمن خان د شمالي ولایتونو په ایلولو بوخت و. امیر شېر علي خان د کابل د نیولو تکل وکړ، مخکې له دې چې کابل ته ورسېږي، د کابل خلکو د امیر محمد اعظم خان

په وړاندې احتجاج او له امیر شېر علي خان څخه یې ملاتړ وکړ. امیر محمد اعظم خان ولیدل چې اوضاع د امیر شېر علي خان په ګټه ده، روحیه یې کمزورې شوه او امیر عبدالرحمن خان ته چې په تخار کې و، ورغی. په ۱۸۶۸ میلادي کال کې امیر عبدالرحمن خان او امیر محمد اعظم خان قواوې ترتیب کړې او د غزني د ششګاو په سیمه کې د امیر شېرعلي خان د لښکرو سره مخامخ شول خو ماتې یې وخوړه. او دواړه وتښتېدل. انګلیسانو هغوی ته په هندوستان کې د اوسېدو بلنه ورکړه، خو هغوی تهران ته د سیستان له لارې روان شول امیر محمد اعظم خان د لارې په اوږدو کې ناروغ او مړ شو او په بسطام کې خښ شو او سردار عبدالرحمن خان بخارا ته پناه یووړه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د امیر شېر علي خان د شخصیت او دویمه ډله دې د امیر د کورنیو اختلافونو په اړه خبرې اترې وکړي.

پوښتنې

۱ـ امیر شېر علي خان څنګه واک ته ورسېد؟

۲ـ د امیر شېر علي خان داخلي ستونزې د هغه د لومړي سلطنت پر وخت ولیکئ.

۳ـ محمد افضل خان څنګه قدرت ته ورسېد؟

۴ـ امیر محمد اعظم خان څنګه واک ته ورسید؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د امیر شېر علي خان د لومړي سلطنت د ماتې د عواملو په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

د امير شېر علي خان دويمه پاچاهي (۱۸۶۸ـ ۱۸۷۹ ميلادي)

په کومو برخو کې اصلاحات رامنځ ته شول، پايلې يې څه وې او د انګلسانو د دويم تيري لاملونه او اړوندې موضوعګانې به په دې لوست کې ولولئ.



سيد جمال الدين افغان

امير شېر علي خان د ۱۸۶۸ ميلادي کال په پای کې په ششګاو کې د سردار محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن خان تر ماتې وروسته کابل ته داخل او د دويم ځل لپاره سلطنت ته ورسېد. هغه لومړی مرکزي حکومت ټينګ کړ.

امير شېر علي خان يو روښانفکره او نوښتګر سړی و. نوموړی په افغانستان کې د نوي تمدن بنسټ اېښودونکی دی. افغانستان ته د نوي تمدن راتګ د اروپا له صنعتي انقلابه پيلېږي. امير شېر علي خان د مشهور فيلسوف او پوه افغان سيد جمال الدين لارښوونې په پام کې ونيولې او په اصلاحاتو کې يې ترې ګټه واخيسته.

امير شېر علي خان له روسيې او ايران سره خپلې سياسي اړيکې د دوستۍ پر بنسټ پيل کړې او عطا محمد سدوزی يې د افغانستان د رسميت پېژندلو لپاره برتانوي هند ته واستاوه. وروسته يې پخپله له برتانوي هند څخه ليدنه وکړه. په برتانوي هند کې تکنالوژۍ او تمدن دی يو شمېر اصلاحاتو (Reform) ته وهڅاوه.

الف ـ اداري برخه: حکومت یا اجرائیه قوه رامنځ ته شوه. په راس کې یې سید نورمحمد شاه فوشنجي صدراعظم، سپاه سالار حسین علي د دفاع وزیر، ارسلا خان د بهرنیو چارو وزیر، عصمت الله خان د داخلې وزیر، حبیب الله وردک د مالیې وزیر او محمد حسین خان د خزانو وزیر وټاکل شو او کابینه د صدراعظم تر مشرۍ لاندې جوړه او پر دولتي چارو به خبرې او پریکړې کېدې.

ب ـ پوځي برخه: امیر شېر علي خان د هېواد د خاورې او خپلواکۍ د ساتلو لپاره یو لک کسیز منظم پوځ جوړ کړ د یاد شوي پوځ غړیو ته به تر پوځي زده کړې وروسته د هماغه وخت وسله ورکول کېده او یونیفورم به یې اغوسته او په اتو پوځي مرکزونو کې ځای پر ځای شوي وو.

د وسلو جوړولو صنعت پرمختګ وکړ. توپ، ټوپک، کریچ او باروت تولیدېدل. همدارنګه پوځي اصطلاحات او قوماندې په پښتو ژبه جوړې او په پوځي نظام کې رایجې شوې.

ج ـ اقتصادي برخه: د مالدارۍ او کرنې په برخه کې ډېره پاملرنه وشوه او اصلاحات رامنځ ته شول. پخوا مالیات ډېر درانه وو، بزګرانو او مالکانو نه شوای کولای چې هغه ورکړي. هغوی مجبور وو چې د کا ل په لومړیو درېو میاشتو کې د حاصلاتو تر اخیستو دمخه د پېښکۍ په توګه ورکړي هغه صنایع چې خلکو ورته اړتیا درلوده، صنعتګران یې هڅول کېدل، تر څو کیفیت او کمیت یې پورته لاړ شي.

د- فرهنګي برخه: عنعنوي ښوونه او روزنه چې پخوا به په جوماتونو او کورونو کې تر سره کېده، د ښوونځیو په جوړولو سره په عصري ښوونې او روزنې بدله شوه. ملکي او پوځي ښوونځي جوړ شول، د کابل په بالاحصار کې مطبعه تأسیس شوه.د لومړي ځل لپاره د شمس النهار په نامه جریده په میاشت کې په شپاړسو مخونو کې دوه ځلې چاپېده او یو شمېر معلوماتي رسالې او اصولنامې هم چاپېدې. پوستې ټکټ چاپ شو او د پوستې خدمتونو لپاره هر ځای کې پوسته خانې فعالې شوې. د امیر شېر علي خان د وخت اصلاحات د دولتي چارو پر ټینګښت او د اقتصاد په ودې ډېر اغېز وکړ او د خلکو پر ژوند یې د پام وړ تغیر راوست.

په مخکې لوست کې یادونه وشوه چې امېر شیرعلي خان د ځینو دلایلو له مخې په ولایتونو کې د انګلیس دایمي استازی منلی نه وو او تر دې وروسته د انګلیسانو سره په سیاسي اړیکو کې محتاط و، خو د انګلیسانو لپاره د افغانستان او روسیې دوستي ښه پلمه وه چې پر افغانستان تېری وکړي.

سربېره په دې د ولیعهد په توګه د شهزاده عبدالله ټاکل، شهزاده محمد یعقوب خان یې دې ته اړ کړ چې د پلار په مقابل کې بغاوت وکړي، ځکه چې هغه د امیر په سلطنت کې مهم رول درلود. بله مهمه موضوع دا وه چې د سیستان (د هلمند د اوبو د وېش) او د افغانستان د شمالي سرحدونو د ټاکلو په برخه کې د انګلیسانو قضاوت امیر ته د منلو وړ نه و. ځکه نو د امیر اړیکې له انګلیسانو سره خړې شوې. د پورته ستونزو سره سره، انګلیسانو وغوښتل چې له امیر شیرعلی خان سره خبرې وکړي، خو امیر د انګلیس استازی ونه مانه، خو د سلطنت په وروستیو کې حاضر شو چې له انګلیسانو سره خبرې وکړي، خو د ولیعهد عبدالله جان مړینه او سوګ خبرې وځنډولې، انګلیسانو د خبرو ځنډېتیا د روسانو سره د دوستۍ له امله پلمه وګڼله. په همدې وخت کې روسانو (خپله او مرو) ونیوله او انګلیسانو پر بلوچستان حمله وکړه او هغه یې ونیوه. امیر شیرعلي خان مجبور شو چې مزار شریف ته لاړ شي، ترڅو له روسانو څخه مرسته واخلي، خو هلته ناروغ او په ۵۸ کلنۍ کې مړ او هملته خښ شو.

پر افغانستان باندې د انګلیسانو دویم یرغل
(۱۸۷۸ کال نوامبر- ۱۸۸۰ میلادي کال اګست)

په هند کې د انګلیسانو اوږدې خبرې د افغانستان له استازي صدراعظم سیدنور محمدشاه سره کومې پایلې ته ونه رسیدې، ځکه چې انګلیسانو په افغانستان کې پر خپلو تلپاتې استازیو ټینګار کاوه چې مخکې د امیر شیرعلي خان له خوا نه وو منل شوی او یاد شوي صدراعظم هم دا وړاندیز ونه مانه، تر دې وروسته انګلیسي ځواکونو جلال آباد او کندهار ونیول او امیر له ناچارۍ څخه مزارشریف ته ولاړ، ترڅو له روسانو څخه مرسته وغواړي. امیر محمدیعقوب خان د پلار پر ضد د بغاوت له امله چې زندان ته اچول شوی و. امیر شیر علی خان مزارشریف ته تر تګ دمخه د هغه د خلاصون فرمان صادر کړ. چې وکولای شي د هېواد د چارو څخه سرپرستي وکړي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړنۍ ډله دې د امیر شیرعلي خان پر فرهنګي شخصیت او دویمه ډله دې د سلطنت د نیولو په اړه د یعقوب خان د ونډې په برخه کې معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وویي.

پوښتنې:

۱. د افغان سید جمال الدین اصلاحي برنامه چې امیر شیرعلي خان ته یې وړاندې کړې، کوم مطالب یې درلودل؟

۲. د شمس النهار جریدې څه وخت په خپریدو پیل وکړ؟

۳. د امیر شیرعلي خان پر وخت د هغه نوي تمدن بېلګې بیان کړئ چې افغانستان ته یې لاره پیدا کړه.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې پر افغانستان باندې د انګلیس د دویم یرغل د لاملونو په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وویي.

د امیر محمد یعقوب خان سلطنت (مارچ - اکتوبر ۱۸۷۹ میلادي)



محمد یعقوب خان

شهزاده یعقوب څرنګه واک ته ورسید. د ګندمک تړون کومې پایلې درلودې، په دې لوست کې به ور سره آشنا شئ.

شهزاده محمد یعقوب خان د خپل پلار د پاچاهۍ پر وخت د نیک نوم خاوند او د پلار د دویمې پاچاهۍ پر وخت د هرات او کندهار په خلاصون کې مهم رول درلود. د افغانستان خلک د هغه په زنداني کېدو او د ولیعهد په توګه د شهزاده عبدالله پر ټاکل کېدو خواشیني وو، ځکه چې شهزاده یعقوب خان یې خوښاوه. سردار محمدیعقوب خان د زندان تر خلاصېدو وروسته په روحي او عصبي ناروغۍ اخته شوی و.

انګلیسانو د افغانستان د نیولو او اشغال لپاره عملاً لاس په کار شوی وو او خلکو یوه پاچا یا مشر ته اړتیا درلوده، ترڅو پر هغه راټول او د انګلیس د یرغلونو مخه ونیسي. ځکه نو امیر محمد یعقوب خان د ۱۸۷۹م کا ل د مارچ په میاشت کې سلطنت ته ورسېد. د سلطنت له پیله یې یوشمېر نومیالي وزیران لکه حبیب الله خان صدراعظم، مرزا محمد خان د بهرنیو چارو وزیر او داوود شاه خان

سپه سالار د انګلیسانو د یوشمېر اجیرانو په وسیله تر ځارنې لاندې نیول شوي وو.

خو محمد (لاتي) په کابل کې د امیر پر ضد فعالیت کاوه او غوښتل یې چې افغانستان انګلیسانو ته تسلیم کړي او د انګلیسانو په مرسته سلطنت ته ورسیږي او د کندهار حاکم سردار شیرعلي خان او د جلال آباد حاکم محمدحسین له انګلیسانو سره د دې لپاره چې په قدرت کې پاتې شي، همکاري درلوده.

انګلیسانو له افغانانو سره له جګړې وېره درلوده، غوښتل یې چې له امیر سره خبرې وکړي ځکه یې نو د امیر خسر سردار یحیی خان چې د امیر د بند پر وخت کې یې کشمیر ته تېښته کړې وه، د هندي منشي بختیار سره د خبرو لپاره کابل ته راغی. انګلیسانو له دوو مطلبونو سره علاقه درلوده، یو د درې ګونو لارو کنترول (کُرم، بولان، خیبر) او بله دا چې د افغانستان پر بهرني سیاست نفوذ او اغیز ولري. هندي منشي بختیار او امیر ته نږدې یوشمېر سردارانو امیر دې ته اړ کړ چې د ټرون د لاسلیک لپاره ګندمک ته سفر وکړي.

په ۱۸۷۹ میلادي کې د (ګندمک) شرموونکې معاهده د انګلیس د استازي(لیوکیوناري) او امیر محمد یعقوب خان ترمنځ لاسلیک شوه. د دې معاهدې پر بنسټ (کُرم، لنډي کوتل تر خیبردرې پورې، سیالکوټ او ځینې نور ځایونه) د برتانوي هند برخه وګرځېدلې او د انګلیس استازي د افغانستان په مهمو ښارونو کې ځای پر ځای شول او کیوناري له خپلو ساتونکو سره کابل ته داخل شو. د کابل خلکو یوځل بیا په هیواد کې د پردیو لاسوهنه ولیده. د انګلیسانو پر ضد یې پاڅون خپله دیني او ملي فریضه وګڼله او په ولسي بڼه یې د کیوناري پر کور حمله وکړه او هغه یې ووژله او یوځل بیا د انګلیسانو د مخکې تلنې سیاست (Forward Policy) په افغانستان کې له ناکامۍ سره مخامخ شوه.

د مجاهدینو او مبارزینو مشرانو لکه محمد جان خان وردک، ملا دین محمد مشک عالم، صاحب جان تره کې، سردار محمد ایوب خان او محمد عثمان خان صافي په نورو سیمو کې د انګلیسانو پر ضد یرغلو نه پیل کړل. د دغو مشهورو جګړو څخه یوه هم په کندهار کې د میوند جګړه ده، چې د امیر شیرعلي خان د زوی سردار غازي محمد ایوب خان په سرښندنه د ۱۸۷۹م. کال د جولایي پر ۲۷مه پکې انګلیسانو د میوند په دښته کې سخته ماتې وخوړه او درانه تلفات یې ولیدل چې زموږ په تاریخ کې د افغانانو د ویاړ او انګلیسانو د شرمندګۍ په نامه ثبت شوي ده.


محمد جان خان وردک

د یادونې وړه ده افغانستان د تاریخ په اوږدوکي افغاني پیغلو او ښځو په ټولو ټولنیزو چاروکي جوخت له نارینه وو سره سمه ونډه اخیستلې ده. څرنګه چې د ځوانې ملالې مشهوره حماسه چې د میوند په جګړه کې د پام وړ ګډون در لود, کله چې د جګړې په ډګر کې افغان بیرغ لرونکی په شهادت ورسید ملي بیرغ یې په لاس کې ونیو او نه یې پرښوده چې د غازیانو روحیه ضعیفه شي او دا لنډۍ یې په اوچت غږ د جګړې په ډګر کې وویله. چې د غازیانو جنګي روحیې یې پیاوړې کړې، جګړې شدت وموند او پایله کې مجاهدین بریالي شول.


سردار محمد ایوب خان د میوند د جګړې فاتح

خـــال به ديـــار دوينو كړدم چې شنكي باغ كې گل گلاب و شرموينه

كه په ميوند كې شهيد نه شوې خدايږو لاليه بې ننگۍ تـــه دې ســاتينه

همدارنگه د كابل خلكو د انگليسانو ځواكونه د شيرپور په قرارگاه كې محاصره كړل. ترڅو سردار عبدالرحمن خان له بخارا څخه چاريكارو ته راورسيد او انگليسان په ډير سخت حالت كې وو. سردار عبدالرحمن خان د خپل سلطنت اعلان وكړ. انگليسانو د ناچارۍ له مخې د امير عبدالرحمن خان سلطنت په رسميت و پيژانده او انگليسي جنرا ل (رابرتس) كابل يې د امير عبدالرحمن خان لپاره پريښود او دويم ځل په افغانستان كې يو مقتدر مركزي دولت جوړ شو.

په ټولګي كې فعاليت

زده كوونكي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړنۍ ډله دې د امير شيرعلي خان واك ته د رسيدو په برخه كې او دويمه ډله دې پر افغانستان باندې د انگليس د دويم يرغل په اړه يو له بله سره خبرې وكړي.

پوښتنې

۱. امير محمدافضل خان څنگه قدرت ته ورسيد؟

۲. د امير شيرعلي خان په دويمه پاچاهۍ كې د هغه د غوره اصلاحاتو او ريفورم څخه يادونه وكړئ؟

۳. د لومړي ځل لپاره كومه جريده چاپ شوه؟

٤. سردار محمد يعقوب خان له انگليسانو سره كومه معاهده لاسليك كړه؟

٥. د انگليس افغان په دويمې جگړې كې د ملي مبارزينو نومونه يادكړئ.

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده كوونكي دې له مشرانو او فرهنگيانو څخه د گندمك د معاهدې په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي كې دې وويايي.

د مرکزي دولت ټینګښت (۱۸۸۰- ۱۹۰۱ میلادي)



امیر عبدالرحمن خان

د سردار عبدالرحمن خان رامینځ ته کېدل، د ملوک الطوایفۍ له منځه وړل، اسلام ته د نورستان د خلکو رابلل، د پنجدې نیول، له افغانستان څخه د انګلیسانو تلفات او وتل دا هغه مفاهیم دي چې په دې لوست کې به ور سره اشنا شئ.

سردار عبدالرحمن خان د امیر محمد افضل خان زوی او د امیر دوست محمد خان لمسی و. نوموړی په کال(۱۸۳۰م. کال) کې زیږېدلی او په پنځوس کلنۍ کې په ۱۸۸۰م. کال کې سلطنت ته ورسېد.

سردار عبدالرحمن په (۱۸۶۸م. کال) کې د کابل او غزني ترمنځ د امیر شیرعلي خان د قواوو په وسیله ماتې وخوړه او بخارا ته ولاړ. په ۱۸۷۹م. کال کې کله چې انګلیسانو پر افغانستان د دویم ځل لپاره یرغل وکړ، سردار عبدالرحمن خان د انګلیسانو له یرغل څخه خبر شو او افغانستان ته راغی په قطغن او بدخشان کې یې له خلکو سره خبرې وکړې او خلک یې د انګلیسانو پر ضد جهاد ته وهڅول. ولسي لښکر یې جوړ او چاریکارو ته ور داخل شو. هلته یې د سلطنت اعلان وکړ. څرنګه چې انګلیسان د امیر عبدالرحمن خان له پوهې او سیاست څخه خبر وو، نو کله چې عبدالرحمن خان واک ته ورسېد، هغوی ته تشویش او وېره پیدا شوه، ځکه یې نو افغانستان کې خپل شتون لازم نه ګاڼه، په ځانګړې توګه په میوند کې د هغوی ماتې مورال کمزوری کړی و. په همدې وخت کې د جنرا ل رابرتس

قواووې په شيرپور کې محاصره وې. د دې لپاره چې هغوی ته د لومړۍ جګړې پېښه تکرار نه شي، نو يې هڅه کوله چې د ژمي تر رارسېدو دمخه له افغانستان څخه ووځي. ځکه يې نو د عبدالرحمن خان حکومت په رسميت وپېژانده، کابل يې امير ته تسليم او د خپلو قواوو په وتلو يې پيل وکړ.

کله چې امير عبدالرحمن خان په (۱۸۸۰م.) کال کې د دولت چارې ترلاسه کړې، له ډېرو سختو حالاتو سره مخامخ و، ځکه چې د افغانستان خلکو د انګليسانو د حملو له امله ډېر زيانونه ليدلي وو. د بېلګې په توګه: په افغانستان کې اداري نظم او مرکزي حکومت له منځه تللی و، ملکي او پوځي جوړښت له منځه تللی وو. د افغانستان په مهمو ښارونو کې د صنعت او کسبونو، زراعت او مالدارۍ مرکزونه او د اوبو لګولو سيستم زيانمن شوی و او ملي اقتصاد او فرهنګ په ټوله مانا له منځه تللی او په ټول هېواد کې ملوک الطوايفي رامنځ ته شوې وه. د خانانو او ملاګينو له خوا درنې او ملا ماتوونکې مالیې پر بزګرانو وضع شوې وې چې بېوزلو خلکو يې د ورکولو توان نه درلود.

امير عبدالرحمن خان د دې لپاره چې پر ټولو ستونزو بريالی شي. دوه پروګرامه يې ترلاس لاندې ونيول، د يوه مرکزي سراسري دولت جوړول او بل په اداري او پوځي برخو کې اصلاحات. امير عبدالرحمن خان د خپلو اصلاحاتو په تطبيق کې دومره جدي و چې هېڅ ډول خنډ يې د خپلو اصلاحاتو په تطبيق کې په پام کې نه نيوه.

امير عبدالرحمن خان د خپل نوی تشکيل د جوړولو لپاره د امير شيرعلي خان د وخت د کابينې تشکيل ونه مانه، ځکه چې پر هيڅا يې باور نه درلود. په دولت کې يې خپلواکې اداري جوړې کړې او په خپله د صدارت، دفاع، داخلې، بهرنيو چارو وزارت او د ټولو وزارتونو په راس کې و. دولتي مامورينو په خپلو چارو کې درانه مسؤليتونه درلودل، ترڅو خپلې دندې ښې ترسره کړي. چې پرته له دې د جدي پوښتنې لاندې نيول کېدل.

امير عبدالرحمن خان د ۱۸۸۵- ۱۸۸۶م. کلونو تر مينځ په اصلاحاتو لاس پورې کړ. په پوځي برخه کې يې ۹۶ زره کسيز وسله وال منظم پوځ جوړ کړ چې سپاره او پياده قطعات يې درلودل او د پوځ د سپاهيانو ترڅنګ يې د خانانو له زامنو څخه يو بل ځواک جوړ کړ چې د شاهي ګارد يا (بای بچه ها) په نامه يادېدل. د مال شمېرنې، پوستې، رهداري (پاسپورت) کوټوالي (امنيه او پوليس) د مالياتو د حصول،

معاش، سکوکو او په لسګونو نورو فرعي ادارو دفترونه يې جوړ کړل، د نوموړو فعاليتو تر څنګ د امير عبدالرحمن خان پروګرامونه په لاندي درې برخوکې خلاصه کيږي.

الف- د کورنيو شورشونو له منځه وړل: په مخکې لوست کې يادې شوه کله چې امير عبدالرحمن خان سلطنت ته ورسېد، افغانستان د انګليسانو تر يرغل لاندې و او مرکزي دولت شتون نه درلود. د افغانستان په ډيرو سيمو کې ملوک الطوايفي وه، نو خلک په داسې حالت کې اوسېدل چې په ټولنه کې خوندیتوب، قانون او عدالت نه و او خلک له ډېرو ستونزو سره مخ و. د امير عبدالرحمن خان يوه مهمه موخه دا وه چې يو مرکزي حکومت جوړ کړي، ترڅو قانوني دولت تشکيل او ملوک الطوايفي له منځه يوړل شي، ځکه د داسې حالت دوام خطرناکې پايلې درلودې، حتی د دې ويره وه چې افغانستان تجزيه شي، ځکه نو امير عبدالرحمن خان دې کار ته جدي پاملرنه وکړه. څرنګه چې سيمه ييزو واکمنانو خپلې ګټې په خطر کې ليدلې، نو ځکه نوی جوړ شوی حکومت په ټول افغانستان کې له يولړ ګوابنونو او مخالفتونو سره مخامخ شو. لکه د بلخ، هزاره جاتو، شينوارو، منګلو، بلوڅانو، کړوخيلو، پنجشيريانو، نجرابيانو، ځدرانو، جمشيديانو او د ميمنې د خلکو پاڅونونه او شورشونه چې په يادو شويو ځايونو کې د قوې په استعمال سره له منځه لاړل او ټول ولايتونه د مرکزي حکومت تر کنټرول او واک لاندې راغلل.

ب- نورستان: نورستان د افغانستان په شمال ختيځ کې يوه صعب العبوره سيمه ده چې د هندوکش يوه ډېره ګوښه لمنه ده. پخوانی نوم يې (بلور يا بولر) دی چې پخوا د کافرستان په نامه يادېده. د ډيورنډ تر معاهدې دمخه چې په وروسته لوست کې به د هغې په اړه معلومات درکړل شي، (چترال) او (ګلګت) له نورستان سره يوځای وو او پراخه سيمه يې تشکيلوله. يوناني سکندر، ګورکاني امير تيمور او ظهيرالدين محمد بابر غوښتل چې دې سيمې ته لار پيدا کړي، خو د سړې هوا، سختو درو او له واورو څخه ډکو غرونو له امله ونه توانېدل چې هلته لاړ شي. د دې ځای خلک بت نمانځونکي وو، د خپلو نيکونو دين او رسوم يې ساتلی او سيمه ييزه خپلواکي يې درلوده.

په ۱۸۹۱م. کال کې امير عبدالرحمن خان دې سيمې ته ځير شو. سپاه سالار غلام حيدر خان څرخي ته يې چې د ننګرهار او لغمان قوماندان او والي و، هدايت ورکړ چې نورستان ته د تګ يوه

مقدمه جوړه کړي. لومړی غلام حیدر خان څرخي د نورستان د یوځایوالي لپاره د مواصلاتي لارو د جوړولو اقدام وکړ او د نورستان خلکو ته یې ابلاغ کړه چې حکومت ستاسې د یوې سیمې څخه بلې ته تګ راتګ د اسانتیا لپاره د لارو په جوړولو سره ستاسې ستونزې رالږوي. پخوا له دې چې سپهسالار نورستان ته تګ پیل کړي، خپل عسکر یې په بریکوټ کې ځای پر ځای کړل او د نورستان له خلکو سره یې نیکې اړیکې ټینګې کړې. خلکو له هغه سره تګ راتګ پیل کړ او یو شمېر خلک د اسلام په دین مشرف شول. خو د (کافور) او ځینو نورو سیمو خلکو اسلام ونه مانه، خو د دولت تابعیت یې قبول کړ.

په ۱۸۹۶م. کال کې سپهسالار څرخي تر اسمار او د نورستان تر خولې پورې سړک جوړ کړ او بله لاره د نورستان څخه تر بدخشانه پورې بشپړه شوه. د سړک تر جوړېدو وروسته نوموړي خپل عسکر نورستان ته داخل کړل. د عسکرو په رسېدو سره د نورستان خلک دوه ډلې شول. لومړۍ ډلې د سپهسالار اطاعت وکړ او دویمې ډلې په دفاع پیل وکړ او غرونو ته وختل. په هغه سخته جګړه کې چې د نورستان د ساتونکو او دولتي ځواک ترمنځ په (کلوم) کې پیښه شوه، ۲۰۰ کسه دولتي عسکر په کې ووژل شول او (۲۳۰۹) کسه ژوندي ونیول شول چې په عزت سره کابل ته یوړل شول او هغوی ته خوراک، پوښاک او د اوسیدو ځای په پام کې ونیول شو. د دولت قواوو د نورستان ډېر ځایونه ونیول، چې امنیت یې په کې ټینګ کړ. بتخانې ورانې شوې او پر ځای یې د جوماتونو جوړول پیل شول او د ۱۹ په شاو خوا کې د لرګیو مجسمې او یو شمېر غشي او لیندۍ کابل ته راوړل شول. له لوګر، لغمان، پروان او کاپیسا څخه د دیني علومو ښوونکي نورستان ته یوړل شول، ترڅو د نورستان خلکو ته اسلامي زده کړې، زده کړي، د نورستان ټول سفر او فتحې اته میاشتې ونیولې. ځکه چې په لومړیو کې دا فکر کېده چې د نورستان نیول به ډېر وخت وغواړي، خو د سپهسالار غلام حیدر خان د پوهې او تدبیر له امله نورستان له مرکزي حکومت سره یوځای او خلک یې د اسلام په سپیڅلي دین مشرف شول او له کافرستان څخه یې نوم په نورستان بدل شو.

ج- د پنجدې نیول

د افغانستان په شمال کې روسي امپراتورۍ، برتانوي هند په ختیځ او سویل کې، ایران په لویدیځ کې موقعیت درلود. امیر عبدالرحمن خان به تل د برتانوي هند او تزاري روسیې له خوا له تهدید سره مخ و.

سردار محمد ایوب خان او سردار محمد اسحق خان د امیر دوه دښمنان چې لومړنی یې انګلیسانو او دویم یې روسانو حمایه کاوه. که څه هم د ایران دولت د امیر لپاره د فشار وسیله نه وه. خو دا یو رواج ګرځیدلی و چې ناراضي سردارانو به ایران ته پناه وړله. خو امیر له روسیې سره د اړیکو په برخه کې له احتیاط څخه کار اخیسته او هڅه یې کوله چې له روس سره ټکر ونه کړي. د افغانستان دولت د برتانوي هند او تزاري روسیې ترمنځ د بفر (Buffer) یا حایل حیثیت درلود. د مرکزي آسیا د سیمو تر نیولو وروسته به روسانو بهانې جوړولې او غوښتل یې چې د افغانستان سیمو ته مخکې تګ وکړي.

د روسانو لومړنی حرکت (مرو) ته د شپږ زره روسانو راوړل وو. د ۱۸۸۵ م. کال د مارچ په میاشت کې اوضاع دومره خرابه شوه چې د انګلیسانو ملکي د روس له تزار سره تماس ونیو او له تزار څخه یې وغوښتل چې د افغاني او روسي عسکرو د جګړې مخنیوی وکړي او په انګلیسي حکومت کې مخالفو ګوندونو پر حکومت انتقاد وکړ چې د روسانو د مخکې تګ مخه ولې نه نیسي. په همدې وخت کې روسانو افغاني عسکرو ته اخطار ورکړ چې د (کشک) په سیمه کې خپل سنګرونه پریږدي. انګلیسانو د روسانو د یرغل په وړاندې ځان بې تفاوته کړ او روسانو پر پنجدې یرغل وکړ. جنرال غوث الدین خان په میړانه وجنګیده، تر هغې چې له خپلې لرې قوې سره ووژل شو او پنجده روسانو ونیوله.

امیر عبدالرحمن تر ۲۱ کالو پاچاهۍ د ۱۹۰۱ م. کال د اکتوبر په لومړۍ نیټه د ۷۱ کالو په عمر د نقرس د ناروغۍ له امله له نړۍ سترګې پټې او د کابل په بوستان سرای اوسني زرنګار پارک کې خاورو ته وسپارل شو. د هغه د حکومت پر وخت، په خواشینۍ سره د ښوونې او روزنې، کلتور او صنعت

په برخه کې کوم کار ونه شو. د امیر عبدالرحمن خان د هڅو له کبله مرکزي دولت بیا راژوندی او هغه ملوک الطوایفي چې د شهزاده ګانو د بې اتفاقۍ او د انګلیسانو په استعماري دسیسو سره رامنځته شوې وې له منځه یوړل شوې. خو په خواشینۍ سره د ډیورنډ د معاهدې د لاسلیک له امله افغانستان په ختیځ او سویل کې د خپلې ځمکې یوه برخه له لاسه ورکړه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د امیر عبدالرحمن خان د واک ته د رسیدو او دویمه ډله دې د نورستان د یوځایوالي په اړه مباحثه وکړي.

پوښتنې

۱. روسانو پنجده څنګه ونیوله؟

۲. د بفر (Buffer) پالیسي د کومو هېوادونو له خوا په افغانستان کې عملي شوه؟

۳. امیر عبدالرحمن خان په کوم کال کې سلطنت ته ورسید؟

٤. د امیر عبدالرحمن خان شخصیت په لنډه توګه معرفي کړئ.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د امیر عبدالرحمن خان د اصلاحاتو او د اداري نظام د ټینګښت په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

د معاهدو لاسلیک

په دې لوست کې به د امیر عبدالرحمن خان له مجبوریتونو، د ډیورند له معاهدې او د هغې له پایلې سره پېژندګلوي ترلاسه کړئ.

د ډیورنډ معاهده

مخکې له دې چې انګلیسان د ډیورنډ ټرون مطرح کړي، د افغانستان په ختیځو او سویلي پولو کې اوضاع مغشوشه کړه، د قومونو او قبایلو په منځ کې یې روپۍ او وسلې ویشلې خلک به یې په جګړې اچول او بیا به یې په دې بانه چې منځګړیتوب کوي او تشنج له منځه وړي، نو ځان به یې د یوه خیرخواه او مصلح په توګه معرفي کاوه او د امیر عبدالرحمن خان او د افغانستان د دولت د بې اعتباره کولو لپاره به یې له ډول ډول دسیسو او پروپاګنډ څخه کار اخیسته.

په ۱۸۹۳م. کال کې یو شپږ کسیز هیئت چې مشري یې د بریتانیا د بهرنیو چارو سکرتر (مارتیمر ډیورنډ) کوله او (الیس، ډاکتر فن، سمیت، مکمهان، ډانلډ او کلارک) په کې شامل وو، د خیبر له لارې افغانستان ته راغلل. په داسې حال کې چې انګلیسي قواوې د افغانستان په ختیځو او سویلي پولو کې ځای پر ځای شوې وې، یاد شوی هیئت له امیر عبدالرحمن خان سره د حشمت خان په باغ کې لنډه کتنه وکړه او د خبرو په پیل کې یې پرته له سریزې او په ډیره جدي توګه امیر عبدالرحمن خان ته وویل: امیر مجبور دی چې ترتیب شوی ټرون لاسلیک کړي، په بل صورت کې به د دواړو دولتونو ترمنځ اړیکې پرې او ښایي جګړه پیل شي. امیر په ډیر سخت حالت کې راګیر شو او د امیر تېروتنه دا وه چې د مذاکراتو او د هغه د متن په اړه یې د افغانستان خلکو ته معلومات ورنه کړل او د معمول په څېر پرته د خلکو له رایې او نظره یې یاده شوې معاهده لاسلیک کړه.

د ډیورنډ د کرښې مواد

۱. د افغانستان ختیځ او سویلي سرحد له واخان څخه پیل شوی او د ایران تر سرحده دوام پیدا کوي چې په ترتیب شوې نقشه کې ښودل شوی او د نومورې ټرون سره ضمیمه ده.

۲. د برتانوي هند دولت په هغو ځمکو کې چې په افغانستان پورې اړه لري، هیڅ وخت لاسوهنه نه کوي او د افغانستان دولت هم د هندوستان په ځمکو کې لاسوهنه نه کوي.

۳. د (اسمار سیمې او پورته سیمه یې د چنګ تر سیمې پورې) په افغانستان پورې اړه لري او د افغانستان دولت هیڅ وخت د (سوات، باجوړ، چترال او ارنوی سیمه کې) مداخله نه کوي او د

(برمل) بشپړ سیمه په افغانستان پورې اړه لري او د افغانستان حکومت د (وزیرو او داوړو) په سیمو ادعا نه شي کولای.

٤. یاده شوې سرحدي لیکه به د بریتانوي او افغاني هیئت په واسطه له نقشې سره سمه په نښه شي.

٥. د چمن په سیمه کې چاونۍ (پوځي مرکز) چې نوی جوړ شوی او د اوبو هغه برخه چې په (سرکي ننګي) کې چې افغانستان مخکې خریداري کړې، له هغې څخه تیر او د بریتانیا دولت ته دې وسپاري. په دې سیمه کې به د جلاوالي لیکه په لاندې ډول وکښل شي، د خواجه عمران د غره د سلسلې له سر څخه (شاه کوتل) ته نږدې چې د انګریز ملکیت دی، داسې امتداد لري چې (مرغه چمن) او (شیراوبه Shiroba) چینه مستقیماً د (نوي چمن کلا) او افغاني تانې چې په (لشکروند) مشهوره ده، په منځ کې تیریږي. وروسته یاده شوې لیکه مستقیماً د (ریل سټیشن او د بلاک د کوڅې په منځ کې تیریږي او بیا د سوبل لوري ته تاویږي چې خواجه عمران د غرونو لړۍ په کې شاملیږي او د (ګواشه Gowasha) تانې د انګریز په ملکیت کې راځي او هغه لاره چې د (شوراوک) په لوري د (ګواشه) سویل او لویدیځ ته ځي، په افغانستان پورې اړه لري، برتانیه به د دې لارې تر نیمایي پورې مداخله نه کوي.

٦. د دې ژمنلیک شرایط د برتانیې او افغانستان ترمنځ د قبول وړ دي، کله چې پر کومه فقره کوچنی اختلاف پیدا شي، د دوستانه خبرو له لارې به حل او فصل شي.

٧. څرنګه چې د هند برتانوي دولت د جناب امیر صاحب د هغه نیک نیتۍ څخه چې د هند د برتانوي دولت په برخه کې لري پوره ډاډمن دی، نو هیله لري چې افغانستان د خپلواکۍ په حالت کې وویني او کله چې افغانستان غواړي، چې وسله رانیسي، د برتانیې دولت کوم اعتراض نه لري او هم د دې قرارداد د لاسلیک له امله چې افغانستان ته به هر کال دولس لکه روپۍ ورکول کېدې، د دې ټرون له لاسلیک څخه وروسته شپږ لکه نورې اضافه کیږي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي او د ډیورنډ د معاهدې پر ګټو دې یو له بله سره خبرې او اترې وکړي او پایله دې د ډلو د استازو په واسطه ټولګي کې وړاندې شي.

پوښتنې

١. د ډیورنډ معاهده د کومو شخصیتونو ترمنځ لاسلیک شوه؟

٢. د ډیورنډ معاهده په کوم کال ترسره شوه؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې له مشرانو او فرهنګیانو څخه د ډیورنډ د معاهدې د پایلو په برخه کې معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وویایي.

د امير حبيب الله خان سلطنت (۱۹۰۱- ۱۹۱۹ميلادي)



امير حبيب الله خان

د امير حبيب الله خان واک ته د رسېدو، د نوموړي د حکومت مهمې کړنې او د هغه د قتل لاملونه هغه مطالب دي چې په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

سردار حبيب الله خان د امير عبدالرحمن خان زوی و. کله چې امير عبدالرحمن خان د امير شيرعلي خان له خوا د کابل او غزني ترمنځ په شش ګاو (شپږ قلاع) کې ماتې وخوړه، په بخارا کې يې پناه واخيسته او سردار حبيب الله خان په ۱۸۷۲م. کال په سمرقند کې وزېږېد. هغه په ۲۸ يا ۲۹ کلنۍ کې په ۱۹۰۱م. کال د پلار له مړينې څخه وروسته واک ته ورسېد.

امير حبيب الله خان په طبيعي توګه آرام، هوښيار، نوښتګر او د پرمختګ پلوی و. که څه هم له عيش, عشرت او له مجلل دربار سره يې مينه درلوده. امير حبيب الله خان د واکمنۍ پر وخت په څو څېرو کې څرګند شو. په لومړيو کې يې په خپله وينا کې خلکو ته وويل: افغانستان اسلامي ټولنه ده او اسلامي ارزښتونه دي په کې رعايت شي. لکه څنګه چې يې د کابل د خرابات په سيمه کې د رقاصو په نخا بنديزو لګاوه او دغه عمل يې غير شرعي وباله او د مجرمينو په جزايي قانون

کې يې هم بدلون راوست. د بېلګې په توګه: د جرم کولو په صورت کې د بدن د غړيو غوڅول منع شول او په بدل کې ورته ببلابېلې جزاوې وټاکل شوې، خو د هغوی د آزادۍ په اړه يې عمل ونه کړ. ړندول، د غلامانو او وينځو پلورل منع شول. له څلورو څخه ډيرې ښځې په نکاح کول يې غير شرعي حکم اعلام کړ.

امير حبيب الله خان يو فرهنګي څېره وه. او ټينګار يې کاوه چې ټولنه پرته د ښوونې او روزنې څخه پرمختګ نه شي کولای. هغه کار چې د هغه په وخت کې ترسره شو، د معارف بنسټ ايښودنه او د نوي فرهنګ معرفي وه. په ۱۹۰۳م. کې لومړنی ښوونځی د حبيبيې د ليسې په نامه جوړ شو. چې په دې ښوونځي کې پر ديني مضامينو سربيره نور مضامين لکه: تاريخ، جغرافيه، رياضي، کيميا، فزيک، هندسه، مثلثات، حکمت او حفظ الصحه تدريسيدله او يو څو نور لومړني ښوونځي د ښار په ځينو برخو کې هم جوړ شول.

په پوځي برخه کې هم د حربي په نامه ښوونځی جوړ شو، چې پر علمي مضامينو سربيره ارکان حرب په کې هم تدريسيده، چې د نومورو مضامينو تدريس د هندي، ترکي او افغاني استادانو په وسيله ورکول کېده.

د مطبوعاتو په برخه کې د کابل په ښار کې يوه مطبعه جوړه شوه چې ماشينونو يې د بخار د قوې په وسيله فعاليت کاوه او په نومورې مطبعه کې ځينې دولتي لايحې او جريدې چاپيدلې. د لومړي ځل لپاره دوه جريدې د (سراج الاخبار) او (سراج الاطفا ل) په نامه تأسيسې شوې چې مسؤول مدير يې محمود طرزي و، د هغه تر نظر لاندې نومورې جريدې چاپ او خپرېدلې چې د خلکو د ويښېدلو او د خپلواکۍ غوښتنې د حس په ژوندي کولو کې يې مهم رول درلود او محمود طرزي ته د افغانستان د مطبوعاتو د پلار لقب ورکړل شو.

د کابل غزني او کابل جلال آباد او لغمان لاره جوړه شوه او د لومړي ځل لپاره يوشمېر موټرې

د وړلو راوړلو لپاره له یوې کمپنۍ څخه چې (مدلر) نومېده، له بمبیي څخه دولت خریداري کړې او هم څوکسه د موټرو د ترمیم د زده کړې لپاره هندوستان ته واستول شول.

د نساجۍ په برخه کې د وړې وبدلو په نامه یوه فابریکه جوړه شوه چې د بخار د قوې په وسیله یې فعالیت کاوه. په کال کې به یې پنځوس زره عسکرو ته یونیفورم برابراوه او پاتې تولیدات یې بازار ته وړاندي کېدل. د اوبو د بریښنا یوه وړه فابریکه په جبل السراج کې جوړه شوه. د تولید کچه یې لږه وه چې یوازې ارګ یې روښانه کاوه. وروسته یې توربینونه ډیر شول چې د کابل ښار ته یې بریښنا ورکوله. د کرنې په برخه کې د هغو ځمکو لپاره چې اوبه یې لږې وې، یوشمیر بندونه او نهرونه جوړ شول.

د امیر حبیب الله خان د سلطنت مهمې پېښې د ځدرانو، منګلو، احمدزیو او د کندهار د خلکو پاڅونونه وو، دا پاڅونونه د دولت په لوړ تدبیر سره غلي شول. نړیواله پېښه چې د امیر حبیب الله د حکومت سره هم مهاله وه لومړۍ نړیواله جګړه وه. د آلمان د حکومت یو هیئت افغانستان ته راغی او د دواړو هېوادونو په دوستۍ یې ټینګار کاوه، ترڅو په دې وسیله افغانستان د (محور) دولتونو یانې له هغو دولتونو سره چې له آلمان سره ملګري وو یوځای کړي. او انګریزانو له دې څخه وېره درلوده چې افغانستان له محور دولتونو سره یوځای نه شي. ځکه یې نو له روسانو سره معاهده وکړه. د یادې شوې معاهدې پر بنسټ افغانستان په لومړۍ نړیوالې جګړې کې خپل ناپیلتوب اعلان کړ.

امیر د خپل سلطنت په ورستیو کلونو کې د خلکو, روښانفکرانو او مشروطه غوښتونکو کرکه خپل ځان ته را وپاروله. چې په دې توګه د هغه د حکومت د سقوط زمینه برابره شوه.

د ۱۹۱۸م. کال په پای کې امیر د خپلو ټولو درباریانو سره د تفریح لپاره له جلال آباد څخه د ماهیانو د ښکار لپاره د لغمان (کله ګوش) سیمې ته ولاړ او هلته د فبروري د میاشتې په شلمه شپه د یوه نامعلوم

کس له خوا د تومانچې په ډز ووژل شو. جسد يې جلال آباد ته يوړل شو او خاورو ته وسپارل شو.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وويشل شي لومړی ډله دې د امير حبيب الله خان واک ته د رسيدو د څرنګوالي په اړه او دويمه ډله دې د نوموړې د شخصيت په اړه خپلو کې خبرې او اترې وکړي او پايله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱. امير حبيب الله خان په کوم کال کې سلطنت ته ورسېد؟

۲. لومړنۍ جريده په کوم نامه او په کوم کال خپره شوه؟

۳. لومړنۍ د اوبو بريښنايي فابريکه چېرته او په څومره ظرفيت يې په فعاليت پيل وکړ؟

له ټولګي څخه دباندې فعاليت:

زده کوونکي دې د امير حبيب الله خان د اصلاحاتو په برخه کې له مشرانو او لويانو څخه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې ووايي.

د مشروطیت نهضتونه

د مشروطیت خوځښتونه څرنګه را منځ ته شول، موخې یې څه وي او څه ډول راتلونکي سره مخ شول؟ دا هغه مطالب دي چې په دې لوست کې به ورسره پیژندګلوي ترلاسه کړئ.

د امیر حبیب الله د سلطنت په پیل کې د لومړي ځل لپاره معارف تاسیس او نوی فرهنګ پیل شو. یوشمېر محدود ښوونځي جوړ او د نوي فرهنګ د خپراوي په برخه کې دوه ورځپاڼې چاپ او په مطبعه کې د کتابونو چاپول پیل شول.

امیر حبیب الله خان په کال ۱۹۰۵م. کې له انګریزانو سره د تړون تر لاسلیک وروسته خپل ځان ډاډه احساساوه، خو د هغه تړون له مخې چې د لومړۍ نړیوا لې جګړې په پیل کې روس او انګلیس کړی و، انګریزانو دا وېره درلوده چې افغانستان د (محور) د ځواکونو یا د هغو دولتونو سره چې له آلمان سره متحد وو، یوځای نه شي. ځکه نو انګریزانو افغانستان تر خپلې حمایې لاندې راوست، چې له دې سره د افغانستان خپلواکي سلب شوه.

د امیر حبیب الله د سلطنت په لومړیو کې اداري وضع ښه وه او خلکو دا فکر کاوه چې ژر به نوره هم ښه شي. خو وروسته د افغانستان اداري صلاحیتونه د یو څو محدودو کسانو لاسونو ته ورغلل. اداري

مراجع ملوڼې او اداري فساد خپل اوج ته ورسيد او امير د دربار په عيش و عشرت کې ډوب او د هيواد له حالته ناخبره و. د ټولنې د پرمختيا ټيټوالی، د خپلواکۍ له منځه تلل، د اداري فساد ډېرېدل، بې عدالتۍ او ملاماتوونکو مالیو د خلکو ستونزې لاپسې ډيرې کړې. روښانفکرانو چې به د هېواد بحراني حالت ليده، نو خوابدي به وو د دې ستونزې د حل په لټه کې شول چې د افغانستان خلکو ته څنګه خلاصون ورکړي. په پای کې يې پريکړه وکړه چې د دولت مطلق العناني په مشروطيت بدله کړي.

روښانفکران د دربار د اصلاح غوښتونکو شا اوخوا راټول شول او په دولت کې د اصلاحاتو غوښتونکي شول. د دربار روښانفکران عبارت وو له، محمد ولي خان بدخشاني، ميرزمان خان، مير ياربيک خان دروازي، پادشاه ميرخان لوګري، نظام الدين خان ارغنديوال او لعل محمد خان کابلي. وروسته يوه ډله ځوانان لکه جوهرشاه خان، لعل محمد خان، پادشاه ميرخان، نظام الدين خان او ميرزمان خان له دربار څخه بهر د ديموکراتانو له سياسي کړۍ سره يو ځای شول. بهرني کتابونه او جريدې به يې ترلاسه کولې او د کورنيو او بهرنيو سياسي او ټولنيزو مسايلو سره به يې علاقه پيدا کوله. د حبيبيې ليسه د روښانفکران په يوه سياسي مرکز بدل شوې وه. د روښانفکرانو په منځ کې د راډيکال ډله، يا افراطيون هم وو، چې د کودتاه غوښتونکي هم وو. بلې ډلې روښانفکرانو په يوازې توګه د دربار او حبيبيې ليسې څخه بهر فعاليت کاوه.

د دربار روشنفکرانو د حبيبيې ليسې څخه بهر، او د حبيبيې ليسې ښوونکو او کارکونکو سره ائتلاف وکړ او يو سياسي ګوند يې د (جمعيت سري ملي) په نامه جوړ کړ، چې د نوموړي ګوند په مرامنامه کې د مطلق العنان حکومت بدلون په مشروطيت، د خپلواکۍ ګټل، متوازن معارف او په افغانستان کې د نوي فرهنګ خپرېدل شامل و.

ياد شوی ګوند په يو لس کسيزه ډله د ګوند د مؤسس او مشر په وسيله وويشل شو. د دې لپاره چې د ګوند فعاليتونه ښکاره نه شي، د ګوند غړيو يو بل حتی نه پيژندل. ګوندې جلسې به په ډيره پټه توګه د ميلمستيا په نامه د ډلو د مشرانو له خوا جوړيدې او په جلسو کې به د ګوند د چارو په برخه کې پريکړې

کېدې. عمومي جلسې به تر اوږدې مودې وروسته کېدې او نوې پریکړې به په کې ترسره کېدې.

د ګوند د یوې غوره کړې رئیس تاج محمد خان بلوڅ پغماني و جوهرشاه خان غوربندي او میر سید قاسم خان لغماني او د ګوند د هندي مسلمانانو غړي، چې ټول یې د حبیبیې د لیسې ښوونکي وو، د ګوند په یوې جلسې کې یې پریکړه وکړه، مخکې له دې نه چې امیر د ګوند له شتون څخه خبر شي، باید هغه وهڅول شي چې پخپله د فرهنګ په خپرېدو او د سرتاسري معارف په خپراوي کې همکاري وکړي. له تاج محمد خان سره د ګوند د مرامنامې یوه کاپي وه چې له نورو اسنادو سره یې په خپل کور کې ساتله. ورور یې محمد شریف چې د سیاسي افکارو د مخالفینو له ډلې او د دولت له پلویانو څخه ګڼل کېده، له تاج محمد خان سره په یوځای کې اوسیده. نوموړي هغه مصوبه د تاج محمد خان له اسنادو څخه ترلاسه کړه او هغه یې امیر حبیب الله ته وړاندې کړه.

د ۱۹۰۹م. کال په ژمي کې کله چې امیر په جلال آباد کې په تفریح بوخت و، محمد عظیم خان د حربي فابریکې کارمند او د شهزاده کبیر خان خصوصي ښوونکی ملا منهاج الدین، د ګوند د ټولو غړیو فهرست ترتیب او له یو راپور سره یوځای امیر حبیب الله خان ته وړاندې کړ او په راپور کې داسې ویل شوي وو، چې د (حزب سري ملي) موخه د امیر وژنه او د مشروطه حکومت جوړول دي او په کابل کې داسې آوازه خپره شوې وه چې دا هرڅه د هغو هندیانو په وسیله رامنځ ته شول چې د ګوند په دننه کې وو. خلکو دا استدلال کاوه چې د ګوند هندي غړیو غوښتل چې لومړی د مشروطیت او خپلواکۍ غوښتنې نهضت له منځه یوسي او بیا افغانستان د انګلیسانو په ګټه وروسته پاتې کړي او امیر د معارف د تاسیس او د نوي فرهنګ د خپریدو څخه زړه ماتی کړي. او په یاد شوي فهرست کې هغه مشروطه غوښتونکي چې د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره راښکاره او څلویښت کسه وو، په خواشینۍ سره اعدام او ځینې بندیال شول. وروسته له څه وخته ځینې یې آزاد شول، خو مشروطه غوښتونکي په ټوله معنا ونه ټکول شول، بیا یې وړې ډلې جوړې کړې چې په پټه یې فعالیت کاوه.

په (۱۹۱۸م.) کې د مشروطه غوښتونکو تر ټکولو وروسته (عبدالرحمن لودین) د سراج الاخبار

محرر او د ګوند غړي چې راډيکال يا افراطي شخص و، د امير حبيب الله خان د کليزې په شپه په شوربازار کې د قاضي کوڅې د يوه دوکان په بام له تومانچې سره کمين نيولی و او د امير د سپرلی موټر ته يې انتظار کاوه (په هغه وخت کې شاه معمولاً د جشن او د کابل په چراغان شپو کې د ارګ له بازارونو او د شوربازار له چوک څخه تېرېده) همدا چې د امير موټر د دې دوکان تر څنګ راورسېد، عبدالرحمن د امير په موټر ډز وکړ، خو کارتوس د موټر په پورته ځای ولګېد او موټر په چټکۍ تېر شو او امير وژغورل شو. په سبا شپه عبدالرحمن لودين امنيتي قواوو ونيو او په ارګ کې زنداني شو. امير د هغه او د ملګرو د اعدام مسؤوليت په غاړه وانه خيست او د ۱۹۱۹م. کال په سياسي اوښتون کې عبدالرحمن لودين له نورو روښانفکرانو سره يوځای له زندان څخه آزاد شول او د امانيه دورې په مامورينو کې مقرر شو.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړنۍ ډله دې د مشروطيت د زمينو د رامنځ ته کېدو او دويمه ډله دې د دې نهضت د موخو په برخه کې يو له بل سره خبرې وکړي او پايله دې يې په ټولګي کې ووايي.

پوښتنې

۱. د مشروطيت نهضت چا رهبري کاوه؟

۲. د دې نهضت مشهور غړي څوک وو؟

۳. امير حبيب الله خان د دې نهضت له موخې څنګه خبر شو؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې منابعو او ماخذو ته په لاس رسي سره د نهضت د ناوړه ټکونې په اړه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې ووايي.

د لومړي څپرکي بيا کتنه

له يوې اوږدې مودې وروسته افغانستان د بهرنيانو د لاسوهنو له امله تجزيه او ووېشل شو. خو په ۱۷٤۷م. کال کې د افغانستان د دولت مؤسس احمدشاه بابا په وسيله جوړ شو. کرنه او مالداري چې د افغانستان د اقتصادي منابعو څخه وه، ډېره زيانمن شوی وه، چې د مرکزي دولت تر جوړښت وروسته يې يوځل بيا وده وکړه او دوديزو صنايعو چې د خلکو ورځنی اړتياوې يې پوره کولې، يوځل بيا په فعاليت پيل وکړ. سوداګري رامنځ ته شوه او اقتصادي وضع ښه شوه. عنعنوي ښوونه او روزنه په مدرسو او جوماتونو کې ترسره کېده، چې يوشمير مدرسې په ټول افغانستان کې جوړې شوې او (٤٥) کاله يې د احمدشاه بابا او د هغه د زوی تيمورشاه د سلطنت په دوران کې په ټول افغانستان کې رواج درلود. خو د نوي فرهنګ د خپراوي په برخه کې د ابدالیانو د سلطنت تر پايه کوم ګام وانه خيستل شو. له ۱۸۳۹- ۱۸٤۲ م. کاله پورې افغانستان د انګريزانو تر يرغل لاندې راغی او بيا په افغانستان کې د انګريزانو تر ماتې وروسته د وزير فتح خان د ورونو د بې اتفاقۍ له امله د امير شيرعلي خان د سلطنت تر پايه پورې په هيواد کې ګډوډي او ملوک الطوايفي حاکمه شوه. خو د امير شيرعلي خان د سلطنت په وخت کې مرکزي دولت جوړ او اجرائيه قوه چې صدراعظم، کابينه او نورې دولتي ادارې يې درلودې منځ ته راغله. د زراعت، مالداری، صنايعو او کلتور په برخه کې اصلاحات رامنځ ته شول. عنعنوي معارف په عصري معارف بدل شو. پوځ جوړ شو او اقتصادي حالت وده وکړه. د امير محمديعقوب خان د سلطنت په وخت کې انګريزانو د دويم ځل لپاره پر افغانستان يرغل وکړ او د امير شيرعلي خان د وخت اداره او اصلاحات له منځه لاړل. ملوک الطوايفي رامنځ ته شوه. د بې نظمۍ له امله اقتصادي منابعو زيان وليد او خلک له ډېرو ستونزو سره مخامخ شول.

په ۱۸۸۰م. کې امير عبدالرحمن خان سلطنت ته ورسيد. هغه لومړی سل زره کسيز پوځ جوړ کړ او د يو قوي مرکزي دولت بنسټ يې کښود او ټول افغانستان يې د مرکزي دولت تر ولکې لاندې راوست.

انګریزانو امیر او د افغانستان دولت ته ډیرې دسیسې جوړولې، ترڅو په پای کې یې پر امیر د ډیورنډ کرښه تحمیل او لاسلیک کړه، چې د هغې له امله د افغانستان له بدن څخه ځینې برخې جلا شوې.

د امیر حبیب الله خان د سلطنت په موده کې تر یوې کچې پورې معارف او د نوي کلتور خپرېدو ته پاملرنه وشوه. اقتصاد پر مختګ وکړ مواصلاتي لارې، بندونه او نهرونه جوړ شول. د وړلو راوړلو لپاره یوشمېر موټر له یوې انګلیسي کمپنۍ څخه خریداري شول او د کابل جلا ل آباد او لغمان ترمنځ ټیلیفون جوړ شو. د نساجۍ فابریکې د بخار د قوې په وسیله په کار پیل وکړ. د جبل السراج بند د کابل د ښار د روښانه کولو لپاره په کار پیل وکړ. یوه مطبعه جوړه شوه چې دوه ورځپاڼې او کتابونه په کې چاپېدل او روښانفکران په دربار او د حبیبیې په ښوونځي کې راڅرګند شول چې موخه یې د دیموکراسۍ او د مشروطیت رامنځ ته کول وو.

دویم څپرکی

د خپلواکۍ له ګټلو څخه د جمهوریت د نظام تر پایه پورې

۱۹۱۹- ۱۹۷۸ میلادي.

د څپرکي موخې

۱- د استعمار پر وړاندې د ملي پاڅونونو او خپلواکۍ د لاسه ته راوړلو له مفاهیمو سره آشنا کېدل

۲- د نظامنامو او اصولنامو له ماهیت سره پیژندګلوي.

۳- د خپلواکۍ په لاس ته راوړلو کې د شاه امان الله خان دونډې سره پیژندګلوي.

٤- پر افغانستان باندې د دویمې نړیوالې جګړې د ناوړه اغېزو سره پېژندګلوي.

٥- د سردار محمد داوود خان د صدارت په وخت کې د رغاونې له پلانو سره پیژندګلوي.

٦- د دیموکراسۍ د لسیزې او د هغې د لاسته راوړنې سره پیژندګلوي

۷- په جمهوریت باندې د سلطنت بدلیدلو لاملونه.

۸- د استعمار د سیاست د ماهیت په تحلیل پوهیدل.

۹- د نقشې له مخې هغه ځایونه چې انګریزان په لومړۍ جګړه کې هلته مېشت ول د نښه کولو مهارت.

۱۰- د تاریخي نقشو او اطلسونو څخه د ګټې پورته کولو مهارت.

۱۱ - د سیاسي بدلونونو په لاملونو باندې پوهیدل او درک کول.

د هېواد په خپلواکۍ کې د امان الله خان ونډه
(فبروري ۱۹۱۹ - جنوري ۱۹۲۹ میلادي)



شاه امان الله غازي

د امان الله خان شخصیت، واک ته د رسېدو ځرنګوالی، د خپلواکۍ په تر لاسه کولو کې د هغه ونډه او هغه تړونونه چې له انګریزانو سره لاسلیک شول چې د هغه له امله د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپیژندل شوه په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

د ۱۹۱۹ میلادي کال د فبروري په ۲۱ مه امیر حبیب الله خان د لغمان دکله ګوش په ښکار ځای کې ووژل شو او د وژلو پر دویمه ورځ ورور یې نصر الله خان په جلا ل آباد او زوی یې امان الله خان په کابل کې د پاچاهۍ اعلان وکړ. په دې توګه په یو وخت هېواد کې دوه حکومتونه منځ ته راغلل. ځرنګه چې له امان الله خان سره د خلکو او در باریانو مینه او ملاتړ زیات و، نو د نصرالله خان په پرتله یې د هغه موقف پیاوړی کړ، ځکه نو نصرالله خان د پاچاهۍ له ادعا لاس واخیست امان الله خان د چاپ شویو اعلامیو له لارې خپله پاچاهي او د هېواد د خپلواکۍ په اړه خپلې موخې او تګلارې د افغانستان خلکو ته داسې څرګندې کړې:

«ای د افغانستان معظم ملته! د پلار د شهادت پر وخت په کابل کې د سلطنت وکیل وم او اوس مې د خدای (ج) په توکل او د هغه پر رسۍ باندې د منګولو لګولو له کبله د امانت درونده پیټی په غاړه واخیست. کله چې زما لوی ملت د شاهي تاج زما پر سر کېښود، نو ژمنه مې وکړه، چې باید د افغانستان دولت د نړۍ د نورو خپلواکو هېوادونو په څېر په دننه او بهر کې یو خپلواک هېواد وي. د افغانستان ملت

د هېواد په داخل کې بشپړه خپلواکي ولري او له هر ډول ظلم او تېري څخه خوندي او خلک باید یوازې د قانون منونکي وي او بس. بیګار او اجباري کارونه په ټولو برخو کې منع او لغوه دي، زمونږ حکومت به داسې اصلاحات پلي کړي چې ملت او هېواد مو وکړای شي چې د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په منځ کې مناسب ځای او خپل مقام تر لاسه کړي. زه به د هېواد د چارو د سرته رسولو په برخه کې مشوره د شا ورهم في الامر د حکم په اساس خپله لار ښود وګرځوم. ((ای ګرانه ملته او تمیز لرونکي قومه! د خپل دین، دولت او ملت په ساتنه کې ویښ او د هېواد د ناموس په ساتنه کې هوښیار اوسئ. زه له خدايﷻ څخه ستاسې، اهل اسلام او ټولو انسانانو لپاره خیر او نېکمرغي غواړم...))

مخکې له دې چې امان الله خان واک ته ورسېږي، لومړی یې د هېواد له ډېر شمېر با رسوخو او روښان فکرو سره اړیکې ټینګې کړې او دویمه دا چې امان الله خان پخپله د اصلاحاتو او نوښتونو مینه وا ل و. درېیم دا چې مخکې له دې چې واک ته ورسېږي، د پلار د واکمنۍ پر وخت یې د سیاسي او ټولنیزو اړیکو لپاره لازم امکانات درلودل.

په بهرني سیاست کې امیر امان الله له پردیو څخه د هېواد د خپلواکۍ او د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې غوښتونکی و. هغه د خلکو لوبې غونډې ته چې د کابل خلک او د پلازمینې پوځیان په کې وو، پر آس سپور پرته له ساتونکو مرادخانۍ ته راغی د خلکو غونډې ته داخل شو. په داسې حال کې چې بې تیکې توره یې تر ملا ځړېدله، خپله مشهوره تاریخي وینا یې واوروله. په دې وینا کې له ډول ډول مسائلو څخه یادونه وشوه، د بېلګې په توګه، د افغانستان بهرنۍ خپلواکي او په داخل کې فردي آزادي، مساوات، وروروالي او برابري، د ملت آزادي او د عدالت او صداقت په څېر مهم مسائل یې د نوي دولت په کړنلاره کې مطرح کړل. د وینا پر مهال د خوشالۍ او شاباسي چغې پورته او په دې توګه نوی دولت منځ ته راغی، چې په لسو ورځو کې د هېواد د ټولو ولایتونو د خلکو ملاتړ یې تر لاسه کړ.

د امان الله خان د مرام اعلان بزګران، مالداران، سوداګران او روښان فکران د نوي حکومت پلوي کړل ، ځکه د هغه مرام د ټولو خلکو له غوښتنو سره سمون درلود.

د یوه کس پوځي تنخواه چې ۱۲ روپۍ وه وروسته له دې ۲۰ روپۍ اعلان شوه. دولت د پوځیانو د آرامۍ او اړتیاو دپوره کولو لپاره چې د خپلواکۍ ساتونکي وو، ډېره پاملرنه وکړه. همدا و چې د افغانستان شپېته زره کسیز پوځ په ټول هېواد کې له نوي دولت څخه ملاتړ وکړ. کله چې امان الله خان د خپلواکۍ د ګټلو لپاره جهاد اعلان کړ، د هېواد مختلفې طبقې متحدې او د ۱۹۱۹ میلادي کال د اپریل په دیارلسمه

يې د خپلواکۍ اعلان وکړ.

امان الله خان انګلیسانو ته د افغانستان د خپلواکۍ خبر ورکړ، دا چې د برتانیې دولت دې ته حاضر نه و، چې له خپل استعماري نفوذ څخه تېر شي او د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژني، په ځواب کې يې یوازې د پلار د مړینې تسلیت ور ولېږه او د خپلواکۍ هیڅ یادونه يې ونه کړه.



د دارالامان ماڼۍ

امان الله خان د دې لپاره چې د افغانستان د خپلواکي د رسمیت پېژندنې موضوع پلي کړي، افغاني پوځیان يې د برتانوي هند د پولې مختلفو برخو ته ولېږل او ځای پر ځای يې کړل او د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ لپاره د افغان او انګلیس درېیمه جګړه پیل کړه. د افغاني قواوو سوقیات د هېواد په درېو جبهو (خیبر، پکتیا او کندهار) کې پیل شول.

الف: د راولپنډۍ د سولې مذاکره د اګست (۸ د ۱۹۱۹م. کال)

له افغانستان سره د جګړې وروسته انګلیسانو دا غوره وګڼله چې د افغانستان دولت سره خپلې اړیکې ښې کړي او مسئلې د خبرو اترو له لارې حل کړي، ځکه نو د حکومتونو ترمنځ تر یو شمېر لیکونو وروسته د سولې یو هیئت د علي احمد خان په مشرۍ راولپنډۍ ته روان شو او د برېتانیې د هیئت له رئیس سرګرانټ Sir Grant سره يې په کنفرانس کې ولیدل او وروسته له څو غونډو په پای کې د دواړو دولتونو له خوا د سولې پنځه ماده ییزه معاهده لاسلیک شوه. علي احمد خان په دغه لاسلیک کې تېروته او د سولې ټرون د انګلیسانو په ګټه او د افغانستان په زیان لاسلیک شو.

ب: د مونسوري مذاکره (۱۹۲۰ میلادي کال)

څرنګه چې د راولپنډۍ د سولې کنفرانس د افغانستان په زیان لاسلیک شوی و، د افغانستان حکومت د برتانیې له حکومت سره د دویم ځل لپاره د مساوي حقوقو پر بنسټ د یوې معاهدې غوښتنه وکړه، په پای کې د ۱۹۲۰م. کال د مارچ په ۹ مه انګلیسي دولت له امیر څخه غوښتنه وکړه چې یو افغاني هیئت منسوري ته راولېږي. افغاني هیئت د محمود طرزی په ریاست د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر، او د برېتانیې د استازې سره خپلې غونډې پیل کړې، نوموړي کنفرانس څه کم درې میاشتې دوام وکړ،

پايله يې ور نه کړه او افغاني هيئت تر سترو او اوږدو مذاکراتو وروسته بې له دې چې قرارداد لاسليک کړی وي، کابل ته راستون شو.

انګليسانو وليدل چې افغانستان له نورو هېوادونو سره ديپلوماتيکي اړيکې پيل کړې دي، ددې په لټه کې شو تر څو افغانستان ته هيئت ولېږي او خبرې بيا پيل کړي.

ج: د کابل معاهده د نوامبر (۲۲ د ۱۹۲۱ ميلادي کال)

برتانوي هيئت د سرهزي دابس په مشرۍ کابل ته راغی او خپلې خبرې يې د افغانستان د بهرنيو چارو له وزير محمود طرزي سره پيل کړې. خبرې څه کم يو ولس مياشتې اوږدې شوې، ځرنګه چې د دواړو خواو غوښتنې يو له بل سره په تقابل کې وې، نږدې و چې يوولس مياشتنۍ اوږدې خبرې قطع شي. په پای کې د کابل معاهده د نوامبر په ۲۲ مه په ۱۹۲۱م. کال کې لاسليک شوه او د انګليس دولت د افغانستان خپلواکي تصديق او په رسميت وپېژندله. دواړو دولتونو يو بل ته د سفيرانو په لېږلو کابل او لندن ته موافقه وکړه.

په افغانستان کې د يوه خپلواکه دولت جوړېدل په بهرني سياست کې د انګليسانو په استعماري موضوع باندې په منځنۍ او نږدې ختيځ کې مرګونی ګوزارو او د آسيا استعماري ضد کې ډېر ژور اثرات درلودل.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د امان الله خان د اعلاميو په اړه او دويمه ډله دې د افغانستان د خپلواکۍ د بيا تر لاسه کولو په برخه کې يو له بل سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱- کوم علتونه وو چې نصرالله خان يې د سلطنت له ادعا څخه لاس په سر کړ او شاه امان الله خان ته يې د قدرت رسېدو لار هواره کړه؟

۲- د شاه امان الله خان د اعلاميو په برخه کې لنډ معلومات ورکړئ.

۳- د افغانستان خپلواکۍ د کومې معاهدې پر اساس ترلاسه شوه؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د منابعو په مرسته د امان الله خان دشخصيت په اړه معلومات تر لاسه او هغه دې په ټولګي کې نورو ټولګيوالو ته ووايي.

د هېواد د خپلواکۍ درې ګوني مورچلونه

په دی لوست کې به د افغانستان د خپلواکۍ د بیالاسته راوړنې، ددرې ګونو مورچلونو ارزښت چې د انګلیسانو د ماتې او متارکې لامل شو پېژندګلوي ترلاسه کړي.

مخکې تر دې چې د انګریزانو په وړاندې د خپلواکۍ د جګړې د دریو لویو مورچلونو یادونه وکړو، د یوه مطلب څرګندونه اړینه ده او هغه دا چې، د هېواد خپلواکي یوازې د خپلواکۍ د جګړې په همدې دریو مورچلونو پورې رالنډه نه کړو، د انګریزانو په وړاندې د خپلواکۍ جګړې لپاره د هېواد هره سیمه د خپلواکۍ ساتلو سنګراو د دفاع مورچل جوړ شوی و. د هېواد هره برخه او هر ګوټ د انګریزانو په وړاندې د هغوی د ځپلو سنګر ګرځېدلی و. خو بر بنډه ماته او پرېکنده ګوزار د هغو افغان شازلمو په توره وشوه چې د اماني دولت له خوا یې په دریو مورچلونو کې ځارنه او پالنه کوله.

اماني دولت د خپلې واکمنۍ له پیله په هند کې انګریزي واکمنانو ته وښوده چې د افغانستان نوی دولت د پخوانیو ترونونو لاندې د اړیکو دوام نه غواړي او په ځانګړې توګه د اعلیحضرت امان ا لله خان له خوا د مارچ د میاشتې په دریمه نیټه په هند کې انګلیسي نائیب الحکومه لارد چلسفورد ته یو لیک ولېږل شو او په لیک کې غوښتنه و شوه چې د د دواړو هېوادونو تر منځ د ۱۹۰۵ میلادي کال پر ترون

باید له سره غور وشي او د افغانستان خپلواکي د انګلیسانو له خوا ومنل شي . اماني دولت بې له دې چې د انګلیسي لوري ځواب ته انتظار وباسي، ورسره سم یې د نړۍ د یوشمېر هېوادونو او له هغې ډلې هېوادونو څخه د نوي جوړ شوي شوروي دولت سره د دیپلوماتیکو اړیکو لپاره او هم یې د شوروي له لارې دیو شمېر اروپایې هیوادونو سره د اړیکو د تأمین هڅې پیل کړې. د دې تر څنګ یې د انګلیسانو سره د خپلواکۍ جګړې لپاره تیارۍ او چمتووالی ونیوه . په دې ترڅ کې د هېواد څخه د دفاع شورا جوړه او پر دښمن یې د غوڅو بریدونو لپاره یې درې ستر مورچلونه (د هېواد څخه د دفاع ختیځ، سویلي او سویل لوېدیځ مورچل) جوړ او د همدې مورچلونو د لاربښونې لپاره یې دولتي کسان وګمارل.

ختیځ مورچل

د اماني دولت د واکمنۍ د پیل سره جوخت د هېواد د خپلواکۍ تر لاسه کولو لپاره هڅو جریان درلود، خو د اپریل په میاشت کې د افغاني ځواکونو منظمې او پرلپسې هڅې غښتلې او ګړندۍ شوې. د افغاني ځواکونو لومړنۍ خوځښت د هېواد د ختیځ مورچل په لور هلته تر سره شو. چې سپهسالار صالح محمد خان چې د خپلو منظمو ځواکونو سره جلال آباد ته ورسېد ورسره سم د سیمې ولسي ځواکونه او د خپلواکۍ جګړې لپاره سر سپارونکو زلمو د انګلیسانو په وړاندې جګړې ته خپل تیاری څرګنده کړ.

د هېواد په ختیځ مورچل کې جګړه د می میاشتې په دریمه نیټه د افغاني ځواکونو په یوه ناڅاپي یرغل پیل شوه. دا برید دومره ځواکمن او ګړندۍ و چې د انګلیسي لښکرو په منځ کې یې د وېرې او ډار فضا واکمنه کړه. افغاني ځواکونو د یوې اونۍ جګړو په ترڅ کې انګلیسي پوځیان د ننګرهار د څنډونه تر پېښوره داسې وځپل چې د بیا راګرځېدلو توان پکې پاتې نه شو. په ډهلي او لندن کې د انګلیس نظامیانو او سیاسیونو د افغانانو دا ناڅاپي برید او پرلپسې بری په اسیا کې خپلو ګټو ته ستر تهدید او ماتې وګڼله، نو ځکه یې په متقابل برید لاس پورې کړ او په خپل ټول توان یې د هوایې او ځمکنیو ځواکونو څخه ګټه واخسته او پرله پسې درنې هوایې بمبارۍ یې تر سره کړې، له یوې خوا یې د خپلو ماتې خوړلو ځواکونو مورال لوړ کړ او له بلې خوا یې د افغاني ځواکونو د پرلپسې بریدونو مخه په درنو بمباریو سره ونیوله او د تورخم تر پولې شاتګ ته اړویستل چې له یوې خوا یې د لوژستیکي اړینو توکو د رسېدو مخه ونیول شوه او له بلې خوا یې د کابل او جلال اباد ښارونه تر داسې هوایې بمباریو لاندې راوستل چې بې شمېره ولسي

خلک سپین ږیري او ماشومان یې په شهادت ورسول . دا هوایي حملې دومره زیاتې پرلپسې او درنې وې چې د اماني دولت یوشمېر لوړ پوړو کسانو له کابل څخه یوه مصؤن ځای ته د مرکز د لېرلو غوښتنه وکړه، خو اعلیحضرت امان الله خان دا وړاندیز ونه مانه او د جګړې لارښونه یې له همدې کابل ښار څخه د بري تر ورستېو شېبو په غاړه واخیستله.

سویل ختیځ مورچل

د اماني دولت د پریکړې سره سم سپه سالار محمد نادرخان د خپلو منظمو ځواکونو سره د اپریل پر ۲٤ مه نېټه ګردیز ته ورسېد. په ګردېزکې داوطلب ځوانان د نادر خان له ځواکونو سره یوځای شول. محمد نادر خان په ګردېز کې د ځواکونو د تنظیم او تر تیب په نیت د دوو اونیو لپاره پاتې شو. د مې د میاشتې په ۱٤ مې نېټې په ټوله پکتیاکې د خپلواکۍ اخیستلو نغاره ووهل شوه او افغاني قوتونو د انګریز لښکرو ته داسې پرله پسې ماتې ورکړه چې انګریزانو یو په بل پسې خپل عسکر کوټونه له لاسه ورکول. افغاني ځواکونه د ټل او وانې تر سیمو پورې د انګریزانو ټولې تانې تر لاسه کړې ، خو هغه غوځ او هر اړخیزه برید چې د مې د میاشتې په ۲٦ مه نېټه تر سره شو، نور نو غلیم ته توان پاتې نه شواو ناهیلي شو ، ځکه یې د جون د میاشتې په دریمه نېټه د اماني دولت سره د متارکې او اور بند غوښتنه وکړه .

سویلي مورچل

د هېواد د خپلواکۍ سویل مورچل چارې د سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله په مشرۍ په مخ تللې. د سویل حوزې د ببلا ببلو سیمو اوسېدونکي د تیارۍ په حال کې د مرکز امر ته سترګې په لار ولاړ وو. اعتمادالدوله له کابل څخه د کندهار په لور د وتلو پر مهال یو څو دګوتو په شمار کسان ورسره ملګري وو، خو د وردګو, میدان او غزني تر سیمو پورې د اعتمادالدوله د لښکرو شمېر تر زرګونو کسانو زیات شو. کله چې اعتمادالدوله کندهار ته ورسېد په زرګونو داوطلبو ځوانانو په ګډون سره یې شمېر لسګونو زرو کسانو ته ورسېد.

په کندهار کې د ځواکونو ترتیب او تیاری لا نه و بشپړ شوی چې د انګریزي پوځیانو له لوري په یوه ناڅاپي برید کې د سپین بولدک او پښین یو شمېر افغاني ساتندویان تر حملې لاندې راغلل او

په یوه نابرابره جګړه کي افغاني ساتندویان په شهادت ورسیدل، د دې خبر په خپرېدو سره د کندهار اوسېدونکو پر انګریزانو د برید چارې دومره ګړندۍ شوې چې سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله ته یې د ځواکونو د سمون او تنظیم وخت ورنه کړ او بې له ځنډه یې د مۍ د میاشتې په ۲۶ مه نېټه د انګریزانو پر لښکرو برید پیل کړ، خو انګریزي پوځیانو پخوا تر دې چې د افغانانو د تورې شرنګ ته ځانونه ټینګ کړي لا یې پخوا پښې د خپلو عسکرکوټونو څخه سپکې کړې وې ، افغاني ځواکونو د انګریزانو پاخه سنګرونه یو په بل پسې تر خپل واک لاندې راوستل او تر کویټې ښاره یې سیمه د غلیم له واک او ځواکه پاکه کړه . کله چې افغانان کویټې ښار ته ورسېدل نو انګریزانو اماني دولت ته د متارکې او اور بندخواست وکړ او د دولتونو تر منځ د جون د میاشتې پر دریمه نېټه د اوربند خبر خپور شو چې ورسره سم د انګریزانو له خوا د افغانستان د خپلواکۍ د منلو دیپلوماتیک بهیر پیل شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوه ډلو ویشل شي، لومړنۍ ډله دې د درې ګونو مورچلونو په اړه او دویمه ډله دې د افغانستان په اړوند د انګریزانو د پالیسۍ په اړه له یو بل سره خبرې پرې وکړي.

پوښتنې

۱- د پکتیا په محاذ کې د محمد نادر خان وندې څرنګه ارزوئ؟

۲- صالح محمد خان په کوم مورچل کې ګمارل شوی و او څه لاسته راوړنې یې درلودې؟

۳- د ټل کلا څرنګه فتحه شوه؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې منابعو او ماخذو په لړلو سره د دریو ګونو مورچلونو د پایلو په اړه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې وویاې.

اصلاحات او ریفورم۱۹۲۱- ۱۹۲۸ میلادي



محمود طرزی

په دې لوست کې به د هغو اصلاحاتو او سترو کارونو په اړه چې امیر امان الله خان ترسره کړي دي معلومات ترلاسه کړئ.

په ۱۹۱۹م. کال کې چې د ۱۲۹۸ لمریز سره سمون لري د یوې لویې تاریخي پېښې په توګه د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ لاس ته راوړنې د هېواد په وروستیو ټولنیزو او اقتصادي پروسو کې ژوري اغېزې درلودې. افغانستان یوې نوې مرحلې ته داخل شو، له دې امله چې شاه امان الله د خلکو په منځ کې محبوبیت درلود، د هغوی په ملاتړ یې ډېر مهم بدلونونه رامنځ ته کړل. دغه اصلاحات او بدلونونه په دوو مرحلو کې ترسره شول. لومړنۍ مرحله چې له ۱۹۱۹- ۱۹۲٤م. کلونو پورې یې دوام وکړ. د افغانستان خلک چې د پرمختګ غوښتونکي وو. له دولت سره ودریدل او ټولو نویو اصلاحاتو ته یې هرکلی ووایه. د اصلاحاتو دویمه مرحله چې له ۱۹۲٤ م. کال څخه پیل شوه چې د امانې دولت تر پای پورې یې دوام وکړ خو د یوشمېر کورنیو او بهرنیو عواملو له امله یې عملي بڼه پیدا نه کړه. شاه امان الله خان غوښتل چې ډېر ژر د خپلو تګ لارو او اصلاحي پروګرامونو له لارې د ښکلو، قصرونو، مجللو او زړه راښکونکو ودانیو، پارکونو، تفریح ځایونو، لویو فابریکو په جوړولو لاس پورې کړي، او صحتمنده وګړي ولري چې له نوي فرهنګ او تمدن سره آشنایې ولري، په همدغه هیله یې

له دغو کارونو سره ډیره مینه درلوده، پرته له دې چې د ټولنې فرهنګي حالت په پام کې ونیسي، د دغو کارونو په ترسره کولو کې یې له بیړې کار واخیست چې په پای کې یې ناوړې پایلې له ځانه سره درلودې. د لومړۍ دورې له مهمو اصلاحاتو څخه یو هم د افغانستان د اساسي قانون تصویب و چې د ۱۹۲۳م. کال د لویې جرګې په ترڅ کې چې په جلال آباد کې جوړه شوې وه او ۸۸ کسو په کې ګډون کړی وو چې وروسته دا قانون د پغمان په لویه جرګه کې د ۱۹۲۴م. کال د چنګابنې په میاشت کې تائید او توشیح شو. اساسي قانون چې د امان الله خان په اصلاحاتو کې لومړنی ګام ګڼل کیږي، د ډېرو ځمکو لرونکو له ګټو سره په ټکر کې و. شاهي مشروطه نظام یې تثبیت کړ. ډیر مهم اصلاحات یې په اقتصادي برخه کې رامینځته کړل څرنګه چې له انګلیسانو سره د ۱۹۱۹م. کال د خپلواکۍ په جګړې کې د هېواد پانګه په بشپړه توګه تشه شوې وه، اړینه وه چې د روپیو زیرمې چې پرته له هغې په هېواد کې یو بدلون هم ناشونی و، رامنځ ته شي. له همدې امله شاه امان الله خان د مالي او اداري اصلاحاتو چارې پیل کړې.

مالي او اقتصادي چارې

شاه امان الله خان د اصلاحاتو د تطبیق په لومړي پړاو کې له ستونزو سره مخامخ نشو. نوموړي پر خلکو د مالیاتو فشار رالږ کړ. له ځمکې څخه د جنس مالیه یې په نقدي مالیه بدله کړه. او ټولو خلکو پرته د خان او ملک له سپارښتنې نېغ په نېغه له مالي دفترونو سره اړیکې پیدا کړې. د څارویو د مالیې دورکړې لپاره د څارویو محصول په نامه قانون رامنځ ته شو. د مالي ادارو د تنظیم لپاره په کابل کې د (دفتري اصولو) په نامه ښوونځی جوړ شو چې فارغان یې د مالیې د مامورینو په توګه په هېواد کې مقرر شول او د دولت زړې حسابي چارې یې په عصري سیستم بدلې کړې. د حاکمانو په نامه ښوونځی په مرکز کې جوړ او فارغان یې په سیمه ییزو حکومتونو کې پر دندو وګومارل شول. سوداګري هم پراخه شوه او د داخلي ګمرکي تعرفو ډیروالی لغوه شو او د دې اصلاحاتو د پایلو له امله پانګې وده وکړه. د سوداګریزو معاملاتو شرعي محاکم رامنځ ته شول او د سوداګرۍ، شرکتونه په کابل کې جوړ شول. امانیه دولت د فابریکو او اوسپنو د پټلیو جوړولو په هڅه کې شو او له دوو جرمني او فرانسوي شرکتونو سره قرارداد وشو چې له مخې یې په لسو کلونو کې له سویل څخه د افغانستان شمال ته د اوسپنې پټلۍ جوړېده. مرکزي ولایتونو ته د تیلیګراف او د تیلیفون د لینونو د غځولو کار پیل شو. په پغمان، جلال آباد او کندهار کې د سټیشنونو د جوړولو کار پیل شو. د موټرو بیارغولو، صابون،عطرو، ټوکر جوړونې، پنبې، غوړ ایستلو، نجارۍ، فابریکې په کندهار، هرات او مزارشریف کې جوړې شوې. د کابل،

مزارشریف، شوروي، ایران او ترکیې ترمنځ هوایي پوستې په پام کې ونیول شوې. د غازي او سراج بند په غزني کې بشپړ شول. د بدخشان د لاجوردو او هرات د نفتو په برخه کې یوه فابریکه او د اوسپنې د ویلې کولو، ګوګړو، سربو، ابرک، تباشیرو او نورو په برخه کې پروګرامونه په پام کې ونیول شول. د دغو اصلاحاتو په پایله کې د دولت عایدات د تیر په پرتله له دوه چنده پورته شول او په کال کې له ۸۰ میلیون روپیو څخه ۱۸۰ میلیون روپیو ته ورسېدل. د وزنونو لپاره میټریک سیستم رامنځ ته شو. افغاني پولي واحد له روپۍ څخه په افغانۍ ونومول شو.

اداره

دولت له هرڅه نه دېره د افغانستان ملي وحدت او ثبات ته پاملرنه وکړه. او دغه ملي وحدت وروروليِ د افغانستان د خلکو پر مساوي حقوقو ولاړه وه. د اساسي قانون د اتمې مادې سره سم ټول هغه خلک چې په افغانستان کې ژوند کوي، پرته له ديني او مذهبي مسايلو د افغانستان تبعه ګڼل کېږي په مذهبي او ديني چاروکې، د دولت سياسي نظام مکلف و چې دوګړو د شخصي آزادیو څخه پالنه وکړي او هیڅوک هم پرته له شرعي مجوز قانون څخه توقیف او مجازات کېدای نه شي، د تبعیض او تفریق مسئله د(مذهب، توکم او قبیله) له نظره له مینځ یوړل شول او ټول ملت ته برابر حقوق ورکول شول. د دولت دستګاه هم پر دریو اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوو باندې ودرېده. اماني دولت د هېواد د حریم د ژغورنې لپاره هوایي ځواک جوړ کړ چې (۱۱) الوتکې يې درلودې او ٦٥ کسه زده کوونکي د دغې ځانګې د زده کړې لپاره روسیې، فرانسې او ایټالیې ته واستول شول. یوشمېر نور د پوځي زده کړو لپاره روسیې او ترکیې ته ولېږل شول. د کابل حربیه فابریکه پیاوړې شوه. جګړییز مهمات لکه: دافع هوا، توپونه او زري پوش موټرې د پوځي نظام په واک کې ورغلل. په کابل کې د رادیو اداره جوړه شوه او ښار په برېښنا روښانه شوه. د روغتیا په برخه کې په کابل او ولایتونو کې ملکي او پوځي روغتونونه جوړ او په مرکز کې د ښځو روغتون او په پغمان کې سناتوریم جوړ شو. د اکسرې ماشینونه کابل ته وارد شول او د دارالمجانین او دارالایتام د جوړولو کار پیل شو.

پوهنه اوکلتوري چارې

د اساسي قانون له ٦٨ مې مادې سره سم د لیک لوست زده کړي وړیا او اجباري شوې. دېر شمېر ښوونځي په مرکز او ولایتونو کې جوړ شول. په پایتخت کې د حبیبیې پرلېسې سربېره امانیه لېسه جوړه شوه. لومړنۍ د فرانسویانو او دویمه يې د جرمنیانو په مرسته منځ ته راغله.

همدارنګه په مرکز او ولایتونو کې ۳۲۲ ښوونځي, او یو دارالمعلمین په هرات کې جوړ شو چې تر

۱۹۲۷ م. کال پورې يې د زده کوونکو شمېر ۵۱ زرو کسو ته ورسېد. په ثانوي او مسلکي برخو کې درې زره زده کوونکو زده کړه کوله. په سلګونو محصلين شوروي اتحاد، جرمني، فرانسې، ايټاليې او ترکيې ته د زده کړو لپاره واستول شول. همدارنګه يوه ملي کتابتون جوړ شو چې نن ورځ په عامه کتابتون يادېږي. د دې کارونو ترڅنګ يوه سينما د کابل په ښار او يو تياتر په پغمان کې جوړ شو او ديارلس مجلې او جريدې د دولت په لګښت په کابل او ولايتونو کې نشر شوې، لکه ارشاد النسوان، اتحاد مشرقي، روزنامه افغان، معارف مجله، امان افغان، بيداري، د حقيقت ورځپانه او نور... مطبوعات او داخلي ورځپانې آزادې شوې او د شخصي جريدو او ورځپانو د چاپ لپاره زمينه برابره شوه چې د ښلګې په توګه کولای شو چې انيس، نسيم سحر او د نورو نومونه ياد کړو.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وويشل شي. لومړنۍ ډله دې د شاه امان الله خان د مالي او اقتصادي اصلاحاتو په اړه او دويمه ډله دې د نوموړي د اداري اصلاحاتو په اړه په خپلو کې خبرې وکړي.

پوښتنې

۱. د امان الله خان اصلاحاتو څو مرحلې درلودې؟ هره مرحله يې د نېټې په يادونې سره ووياست.
۲. د افغانستان لومړنی اساسي قانون په کوم کال او چېرته تصويب شو؟
۳. شاه امان الله خان د کومې موخې لپاره اصلاحات پيل کړل؟
٤. د اداري جوړښت له مخې اماني دولت پر کومو قواو ولاړ و؟
۵. امان الله خان د پوهنې په برخه کې کوم کارونه ترسره کړل؟ لنډ ډول يې ووياست.

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د شاه امان الله خان د کلتوري اصلاحاتو په اړه معلومات تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې ووايي.

دغازي شاه امان الله خان اروپايي سفر (۱۹۲۷ م / ۱۳۰۶ لمريز)





د شاه امان الله خان د سفر ضرورت، د سفر پايلې، د سفر په وړاندې غبرګونونه او د شاه له غيابت څخه د يو شمېر فرصت طلبو کړيو ګټه اخيستنه، دا هغه مفاهيم دي چې په دې لوست کې به ورسره آشناشئ.

غازي امان الله خان په (۱۳۰۵ لمريز) کال د وزيرانو د شورا په عالي مجلس کې د افغانستان د پرمختګ لپاره د نويو آلاتو او وسايلو کمی تر بحث لاندې ونيوه او ويې ويل: چې بايد د ښوونې او روزنې، مطبوعاتو، رغونې، د نويو مخابراتو، صنعت او د افغانستان د کرنې د پرمختګ په برخه کې له اروپايي هېوادونو څخه ډېر لوی سامان آلات واخلي او تهيه کړای شي. او ددې کار لپاره بايد مسلکي او کارپوه خلک انتخاب او په مناسب وخت کې اروپا ته ولېږل شي. د وزيرانو مجلس دا تصويب کړ چې ددغو ټولو علمي او فني موخو د لاس ته راوړلو لپاره دې پخپله غازي پاچا ددغه هيئت مشري پر غاړه واخلي، ځکه چې هغه پخپله د پوهنې او روښانفکرۍ ډېر لوی غوښتونکی و او هم څرنګه چې له (۱۳۰۱ لمريز) کال څخه وروسته د ځينو هېوادونو له خوا ځينې رسمي بلنليکونه راغلي وو چې پاچا دې د هغوی له هېوادونو څخه ليدنه وکړي همدا و چې امان الله خان د ملکې ثريا او د دولت د عالي رتبه غړيو سره اروپا ته روان شو او د ۱۹۲۷ ميلادي کال د (۱۳۰۶لمريز) کال مطابق د لينډۍ د مياشتې په لومړيو کې په کابل کې تر الله پامانۍ وروسته يې د کندهار لوري ته حرکت وکړ او په کندهار کې يې د

خلکو تر تاوده هرکلي وروسته د چمن لوري ته مخه وکړه او وروسته د کویټې له لارې کراچۍ ته ورسېد او په نوموړو ښارونو کې یې تر تودو هر کلیو ورسته د هوایي ډګر او د الوتکو د ترمیم د فابریکې تر لیدلو بیا د رسمي پروګرام سره سم د بمبي بندر ته روان شو. که څه هم پخپله له ترکي او فرانسوي ژبو سره بلد و، سره له دې هم یو شمېر ژباړونکي ور سره وو او همدارنګه په بهر کې د ټاکلي پروګرام د لرلو له امله افغاني سفیرانو او استازیو ته کومه ستونزه پیدا نه شوه. بمبي ته په رسېدو افغانان او هندوانو د هغه د هر کلي لپاره د سرک دواړو لوریو ته کتارونه جوړ کړي وو او له تودو ولولو سره چې (ژوندی دې وي غازي پاچا) استقبال شو. خلکو داسې احساسات وښودل، چې انګلیسان یې سخت ووېرول او دا له دې امله چې امان الله خان په اسلامي نړۍ کې له ځومره ګرانښت څخه برخمن دی او غازی پاچا هم په خپلو ټولو ویناوو کې د هند او نورو محرومو ملتونو د خپلواکۍ خبرې کولې. په هند کې د خپلې پاتې کېدنې پر وخت د هغه هېواد خلکو ته داسې وویل:»خپلواکي نه ورکول کېږي، بلکي د تورې په زور تر لاسه کېږي» د هند د مشرانو او ټولنو تر لیدلو وروسته، امان الله خان عدن او له هغه ځایه مصر ته سفر وکړ چې د مصر د پاچا لومړني فواد او خلکو له خوا یې هر کلی وشو، د هغه هېواد د تاریخي آبداتو تر لیدنې وروسته سکندریې ته ولاړ او د مدیترانیې د بحیرې له لارې ایټالیې ته روان شو. په روم کې له امان الله خان څخه تود هرکلی وشو او د پاچا (ویکتور امانویل)، ملکې او ولیعهد سره یې وکتل. د ایټالیې پاچا په خپلې وینا کې د امان الله خان نه ستړي کېدونکي کارونو سرته رسول وستایل او له افغانستان سره د ښو اړیکو غوښتونکی شو، شاه او هئیت له ایټالیا څخه فرانسې ته مخه وکړه. په فرانسې کې یې جمهور رئیس تود هر کلی وکړ او په هغه ځای کې د خوښې وړ موضوعګانو لکه: د الوتکو، ټوپکو، مهماتو، په فرانسه کې د افغاني زده کوونکو د تحصیل، د استقلال لپسې ته د فرانسوي لایقو ښوونکو د راتګ د لرغون پوهنې په برخه کې د فرانسې همکاري او په نورو علمي او تخنیکي اړتیاوو خبرې اترې او توافق وشو او هم د فرانسې له دولت څخه غوښتنه وشوه تر څو په کابل کې یو موزیم په فرانسوي سلیقه جوړ شي. په فرانسه کې تر ټولو لوی ویاړ چې امان الله خان تر لاسه کړ دا و چې د پاریس ښاروال د هغه په اړه وویل «ستاسې له شان سره داسې ډالۍ نه لرو چې تاسې ته یې ورکړو. خو د پاریس ښار ستاسې چوپړ ته ورکړو کوم» او هم د ناپیلیون چپرکټ یې د امان الله خان د استراحت لپاره ورکړ. امان الله خان له هغه ځایه بروکسل، بلژیک او سویس ته سفر وکړ او وروسته آلمان ته روان شو او د آلمان جمهور رئیس(پاول فن هندنبورګ) او دولتي چارواکو یې هر کلی وکړ، همدارنګه په آلمان کې د افغانستان د خپلواکۍ لسمه

کالیزه ونمانځل شوه او یو څرخي الوتکه د آلمان د دولت له خوا امان الله خان ته ډالۍ شوه. د آلمان تر سفر وروسته امان الله خان انګلستان ته ولاړ او هلته یې د انګلیستان د پاچا (پنځم جارج) او ملکې له خوا هر کلی وشو، هلته یې د هغه ځای هوایی ځواک ولید، همدارنګه یې د آکسفورډ له پوهنتون او ځینو نورو ځایونو څخه لیدنه وکړه. د آکسفورډ پوهنتون له خوا ورته د حقوقو افتخاري دوکتورا ورکړل شوه. دا لومړنی افغاني شخصیت و چې د حقوقو په افتخاري دوکتورا ووياړل شو. د انګلستان تر سفر وروسته امان الله خان شوروي روسیې ته سفر وکړ او انګلیستان د امان الله خان له دې سفر سره مخالف وو، ددې لپاره چې امان الله خان له روسیې سره دوستانه اړیکې ونلري. شاه امان الله خان ته په روسیه کې د جمهور رئیس (کالینن) او نورو لوړو دولتي چارواکو له خوا تو د هر کلی وشو او دا لومړنی افغاني اتل و چې په شوروي روسیه کې یې ښه هر کلي وشو. دغه سفر په پایله کې یو لړ سیاسي، کلتوري او اقتصادي معاهدې لاسلیک شول.

وروسته امان الله خان ترکیې ته روان شو ، په ترکیه کې د ترکیې د جمهور رئیس مصطفی کما ل (اتاترک) او د ترکیې د صدراعظم عصمت انیونو او نورو دولتي غړیو له خوا یې هر کلی وشو په دې سفر کر دواړه هېوادونه د دوستۍ د ټینګښت، سیاسي، سوداګریز او کلتوري اړیکو غوښتونکي شول.

امان الله خان د آسیایي او اروپایي یوو لسو هېوادونو تر لیدنې وروسته ایران ته مخه وکړه او هلته یې د رضا شاه پهلوي له خوا تود هر کلی وشو. شاه او د ایران ملت د امان الله خان هغو کارنامو ته چې د ۹ کالو واکمنۍ په موده کې یې تر سره کړي وې، په درنه سترګه کتل، هلته د دواړو هېوادونو ترمنځ معاهدې لاسلیک شوې. همدارنګه هغه سرحدي ستونزې چې د ترکیې او ایران ترمنځ وې، د هغه په زیار او هڅه حل شوې، پاچا د ایران تر سفر وروسته افغانستان ته راستون شو.

د افغانستان لپاره د امان الله خان د دوو اسلامي هېوادونو (ایران او ترکیې) او اروپایي هېوادونو څخه لیدنې ډېر اهمیت درلود. په پایله کې دافغانستان موقف ټینګ او نړیوا ل اعتماد یې لوړ شو. د اروپایي او آسیایي هېوادونو له مشرانو سره د هغه اړیکې ددې ښکارندوی وې، چې افغانستان د یو خپلواک هېواد په توګه کولای شي، چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د برابرۍ او متقابل احترام پر بنسټ اړیکې ټینګې کړي.

له شوروي اتحاد څخه د امان الله خان لیدنې او له ترکیې او ایران سره ترونونو دا ښکاره کړه چې په افغانستان کې دا نګلیسانو بیا اغېز له خاورو سره خاورې شو، هغه په دې سفر کې په دې بریالی شو چې له افغانستان سره د ځینو اروپایي هېوادونو پراخه اقتصادي مرستې را جلب کړي.

ملکه ثریا د امیر امان الله خان مېرمن او د هېواد د نامتو ښځو څخه په دې سفر کې له امان الله خان سره ګډون درلود. ملکه ثریا د محمود طرزي دریمه لور وه چې یوه پوهه، عالمه، فاضله او د علم پلوې مېرمن وه. دغې نامتو میرمنې په کال ۱۲۹۳لمریز کال د شهزاده امان الله خان سره واده وکړ. ملکه ثریا د امیر امان الله خان له مشوقینو څخه د نوي فرهنګ او تمدن په خپرېدو، د ښځو د حقوقو د تامینولو او د هېواد د ترقۍ او پرمختګ په برخه کې وه. یوه فرانسوۍ خبریاله او د هوهلو مجلې استازې د امیر امان الله خان د اقامت په وخت په فرانسې کې د ملکې ثریا سره مرکه او لیدنه وکړه او ددې په اړوند یې داسې وليکل:)) ماد نړۍ د ډېرو ملکونو او لومړۍ درجو ښځو سره مرکې کړي دي خو په دې متانت، ذهانت د ملکې ثریا غوندې ښځې مې لږې لیدلې دي. د دې مرکې څخه ماته ثابته شوه چې د افغانستان خاوره چې داسې ملکه روزلی شي، ډېر ژر ترقي، وده او د نړۍ له نورو هېوادونو سره سیالي کولی شي)).

د شاه امان الله خان سفر شپږ میاشتې اوږد شو، دې سفر له یوې خوا ښې پایلې درلودې، خو له بل لورې یې د پاچا د اوږد مهاله نه شتون له امله د هېواد امنیت او اداره دګډوډولو لورې ته نږدې کړه او د دښمن د پلانونو د تطبیق لپاره یې زمینه مساعده کړه، همدا علت و، چې دغه کار ناوړه او ډېرې زیانمنوونکې پایلې له ځان سره راوړې.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې اروپا ته د امان الله خان د سفر پر علتونو او دویمه ډله دې د سفر په لاس ته راوړنو یو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱- د شاه امان الله خان اروپایي سفر څو میاشتې او کومو هېوادونو ته و؟

۲- په هند کې د امان الله خان د هرکلي په برخه کې لنډ معلومات ورکړئ.

۳- د شاه امان اله خان په وړاندې د دسیسو او توطیو لامل څه و؟

له ټولګي څخه باندې فعالیت

زده کوونکي دې د شاه امان اله خان د اروپایي سفر په اړوند معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې ووایي.

د اصلاحاتو پر وړاندې غبرګون



ولي اصلاحات له غبرګونونو سره مخامخ شول، کورني او بهرني لاملونو پکې څومره ونډه در لوده؟ په دې لوست کې به د دې پوښتنوځوابونه ترلاسه کړئ.

د هېواد خپلواکۍ ترګټنې وروسته چې د غازي امان الله خان په مشرۍ د خلکو د قربانۍ په پايله کې حاصله شوه، د انګليسي استعمارچيانو پر وړاندې ستر بريالیتوب و. افغانان و توانېدل چې د افغانستان ځوان او خپلواک دولت جوړ کړي. زمور هېواد چې د استعمار له جغ څخه خپلواکه شوی و، په (اقتصادي، ټولنيزو کلتوري او نورو) برخو کې اصلاحاتو او بدلونونو ته يې اړتيا درلوده . نو کله چې امان الله خان د هېواد چارې په لاس کې واخيستې په اصلاحاتو يې لاس پورې کړ، تر څو وکړای شي هېواد د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودروي. اصلاحات او ريفورمونه پيل شول. او دېرو افغانانو يې ملاتړ وکړ، خو ځينو خلکو د انګرېزانو په مرسته د اصلاحاتو په وړاندې منفي غبرګونونه وښودل. ځکه انګليسانو غوښتل چې د داخلي اړو دورې په پيدا کولو سره د افغانستان

ځوان دولت کمزوری او له منځه یوسي.

انګرېزانو له دې سیاست څخه چې (تفرقه واچوه او حکومت وکړه) کار واخیست او په ځینو ځایونو کې یې جاسوسي دستګاوو او شبکو په کار پیل وکړ. د جزا له قانون سره د منګلو خلکو مخالفت څرګند کړ. د نوي قانون په وړاندې مذهبي کړیو غبرګونونه وښودل. له دې امله یو شمېر روحانیونو په پکتیا کې مخالفت څرګند کړ، په ۱۳۰٤ لمریز چې د ۱۹۲۵ م. کال سره سمون لري، امان الله خان هڅه وکړه چې د خبرو له لارې موضوع حل کړي هیئتونه او د جوماتونو ملا امامان یې پکتیا ته ولېږل، تر څو د هغه ځای روحانیون قانع کړي. خو هغوی ونه منله، هماغه و چې د ملا عبدالله په مشرۍ په پکتیا کې مخالفت پیل شو او تر لوګره راورسېد. دولت د هغوی په وړاندې مقاومت وکړ او مخالفین یې غلي کړل.

شاه امان الله خان د افغانستان د پېژندنې او د مرستو د راجلبولو لپاره آسیا او اروپا ته اوږد سفر وکړچې د هغه د اوږدې مودې د نه شتون څخه بهرني دښمن ګټه واخیسته او د شومو پلانونو لپاره یې ډېره ښه زمینه برابره شوه. کله چې امان الله خان له اروپا څخه راستون شو، له اصلاحاتو او پرمختګ سره یې مینه ډېره شوه او د اصلاحاتو او ریفورمونو عملیه یې چټکه کړه امان الله خان له یوې خوا د نړۍ پرمختللې هېوادو نه لیدلي وو نو غوښتل یې چې افغانستان داسې پرمختګ او پراختیا وکړي او د نورو هېوادونو له احتیاجه خلاص شي او له بل لوري وروسته پاتې کړیو له بهرني لوی دښمن(انګلیس) سره یو ځای ددغو بدلونونو د تطبیق مخه نیوله.

د اماني خپلواکه دولت پر ضد لویه توطئه جوړه شوه. د مخالفینو خواره واره ګروپونو سمون پیدا کړ او نظامي عملیات یې پیل کړل او دښمن په دوو جبهو (ختیځ او شمال) کې په فعالیتونو مصروف شول. ددې پلان طرحې داسې وې چې اغتشاش لومړی له ختیځ څخه پیل، تر څو دولت په دې

مجبور شي چې پوځيان هلته ولېږي او پايتخت له پوځيانو تش شي او له دې وروسته دې د شمال جبهې (کوهدامن او کوهستان ، بلواګر کابل ته داخل شي او په چټکۍ سره دې دولت له منځه يوسي ، او همدارنګه د امان الله خان د دولت يو شمېر دولتي عالي رتبه مامورينو يې هم په پټه د دوی مرسته کوله.

په هغو ورځو کې چې په ختيځ کې د شينوارو بغاوت پيل شوی و په شمال کې د کابل لاره د کلکاني حبيب الله لخوا چې د سقاو د زوی په نامه مشهور و وترل شو.

کلکاني حبيب اله خپلې اړيکې د کابل والي علي احمد خان سره چې د هغه وخت د دولت لخوا کوهدامن ته د ستونزو د حل لپاره مامور شوی و ټينګې کړې. علي احمد خان ددې پر ځای چې د دولت په ګټه کار وکړي، د خپلو شخصي ګټو د ساتلو لپاره يې له کلکاني ګروپ سره اړيکې ټينګې کړې، همدارنګه نورو فرصت طلبو کسانو له کلکاني حبيب الله سره مرسته وکړه.

کلکاني حبيب الله د ځينو لوړ رتبه دولتي مامورينو په مرسته د دولت پر ضد بلوا وکړ، د هغوی په همکارۍ د ۱۹۲۸ ميلادي کال د ډسمبر په آخره پر کابل يرغل وکړ. څرنګه چې امان الله خان نه غوښتل چې وينې تويې شي، په ۱۹۲۹ م.کال د جنورۍ په لومړيو کې يې له پاچاهۍ څخه استعفا وکړه او کندهار ته ولاړ، له هغه ځايه يې ايټاليې ته مخه وکړه او د ژوند تر پايه هلته دېره شو. ورور يې سردار عنايت الله خان دري ورځې اقتدار په لاس کې ونيو او وروسته حبيب الله د سقاو زوی ارګ محاصره کړ او سردار عنايت الله خان کندهار ته شاتګ وکړ او په دې توګه حبيب الله کلکاني پرکابل واکمن شو او د واک په لاسته راوړو سره يې د پاچاهۍ اعلان وکړ.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د امان الله خان په وړاندې د غبرګونونو د لاملونو په اړه او دویمه ډله دې د افغانستان پر ضد د انګرېزانو د تحریکاتو او دسیسو په اړه یو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱- کوم علتونه ددې سبب شول چې یو شمېر خلک د اماني دولت له اصلاحاتو څخه ناراضه شول؟

۲- د دولت پر ضد لومړنۍ بلوا چېرته پیدا شوه. پایله یې څه شوه، په لنډ ډول یې ووایاست؟

۳- د حبیب الله کلکاني د شخصیت په اړه څه پوهېږئ؟ معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې له هغو سرچینو چې ور سره شته، د اماني اصلاحاتو پر وړاندې د یو شمېر خلکو د ضدیت پر لاملونو یوه لکینه تیاره او په ټولګي کې دې نورو ټولګیوالو ته ووایي.

د بحران پای او د قدرت ټینګښت (۱۹۲۹م / ۱۳۰۸ لمریز)



محمد نادر شاه

نادر شاه څرنګه واک ته ورسېد. په کومو اصلاحاتو يې لاسی پورې کړ، بلواوې يې څرنګه غلی کړل. په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

د کلکاني حبيب الله ۹ مياشتنۍ واکمنۍ کابل له هر پلوه خراب او زيانمن کړ. هېواد ۹ مياشتې په اړو دورکې تېرې کړې، نو ځکه د افغانستان خلک له دې نظام څخه ناراضه وو او د يوه مثبت بدلون لپاره تيار وو. هماغه و چې محمد نادرخان د سويل ختيځې جبهې يو له فاتحينو او د اماني دورې سپاه سالار د خلکو په مرسته او همکارۍ د اکتوبر په ۱۵ (۱۹۲۹) ميلادي کال کې کابل ته راننوت او د سلام خانې مانۍ ته ولاړ. هلته يو شمېر د کابل معززين، مشران او قبايلو استازي موجود وو، محمد نادرخان په يوه وينا کې هغوی ته داسې وويل: « د خدای په فضل زه خپل آرمان ته ورسېدم. زما هيله د هېواد خلاصون و او دا دی نن ورځ زما هيله تر سره شوه، زه د قدرت هيله من نه يم. يوه لويه جرګه جوړوم، تر څو هغوی خپل مشر وټاکي» په دې وخت کې حاضرينو په يوه غږ وويل: لويې جرګې ته اړتيا نشته تاسې زموږ پاچا ياست او د مجلس غړو

وویل: په دې غونډه کې د پخوانۍ لویې جرګې ډېر غړي شته څرنګه چې هغوی له سپاه سالار څخه غواړي چې د پاچاهۍ تکلیف قبول کړي. په دې وخت کې حضرت مجددی (نورالمشایخ) د نادرخان پر سر پټکی د تاج او جوغې په ډول کېښود او محمد نادرخان د افغانستان پاچا شو.

محمد نادرخان خپله پاچاهي پر وران او خراب کابل پیل کړ، له دې کبله چې نوموړی له جدي ننګونو سره مخامخ و، مجبور و چې هر قدم په احتیاط سره واخلي .له یو لوري د امان الله خان د پلویانو مخالفت له بلې خوا د انګرېزانو لاسوهنې په هېواد کې ډېرې ستونزې رامنځته کړې همدارنګه د حبیب الله کلکانی پاتي شوني د دې لامل شو تر څو دولتي او حکومتي اداري ویجاړې اکثر نهادونه لوټ شوي وو. د کابل ښار او دولتي دفترونه چې په نهه میاشتو حکومت کې زیانمن شوي وو، د پادشاه او د نوي دولت اراکینو پاملرنه یې ځان ته وروړوله تر څو پادشاه له خپلې کورنۍ سره په ارګ کې استوګن شي.

د محمد نادرشاه د پاچاهۍ دوره د (امان الله خان او کلکاني حبیب الله) له دواړو پخوانیو دورو سره توپیر درلود. دا دوره نه د امان الله خان د دورې د لویدیځ ژوند او تهذیب په څېر او نه هم د کلکاني حبیب الله د دورې په شکل د مدنیت دښمنه وه چې مالیات او دولتي عایدات یې خلکو او بیت المال یې سپاهیانو ته ورکاوه.

محمد نادرشاه چې یو هوښیار، با تدبیره او آګاه شخصیت و د افغانستان د دولت په سر کې ودرېده. د هغه ورور محمد هاشم خان چې یو ډېر با انضباطه شخص و، د صدراعظم په توګه توظیف شو. د دولت نور غړي د تدبیر خاوندان وو چې په خپل چوکاټ کې یې ځانګړې صلاحیتونه درلودل. که څه هم هغه خپل حکومت د خپل ورور محمد هاشم خان په صدارت سره جوړ کړ، خو د اساسي کارونو کیلي یې له ځان سره ساتلې وه. د نادر شاه د پاچاهۍ پر وخت بنسټیز اصلاحات رامنځ ته شول. د کابل طبي ښوونځي چې وروسته د محمد ظاهر شاه په وخت کې د پوهنځي په

نامه ارتقأ وکړه، د کابل ادبي انجمن رامنځ ته شو، کلنۍ چې د پاچا له نوښتونو څخه وه، چاپ شوه او پخپله پاچا به د مطبعې له کارونو څخه څارنه کوله او په دې توګه په هغه وخت کې ډېر بنسټیز کارونه تر سره شول. د امنیت له پلوه د نادرخان په دوره کې ډېرې ستونزې وې، دا ځکه چې د کلکاني حبیب الله تر ماتې وروسته موضوع په دومره سادګۍ سره پای ته ونه رسېده، بلکې غبرګون يې درلود. لکه چې د ۱۹۳۰ میلادي کال د جون په میاشت کې د شمال هغه شمېر قومونه چې د کلکاني حبیب الله د پاچاهۍ پر وخت يې ګټې تامین شوې وې، په یوه ډېر لوی قوت سره يې بلوا وکړه چې په لومړي ځل د نادرخان له خوا ورته توصیه وشوه چې له بلوا څخه لاس واخلي ، خو هغوی ونه منله. وروسته محمد نادرخان مجبور شو چې اقدام وکړي او امنیت يې ټینګ کړ.

په ۱۹۳۲ میلادي کال کې ملالېوني د حکومت پر ضد بغاوت وکړ او نادرخان يې په چټکۍ سره مخه ونیوله، له بل لوري د اماني دورې یو شمېر پلویانو د نوي حکومت لپاره ستونزې رامنځ ته کولې، خو نادر خان د دولتي حاکمیت او ټینګښت لپاره ګډوډي غلې او مخالف کسان يې له صحنې څخه ووېستل.

محمد نادرشاه او صدراعظم محمد هاشم خان له هر څه نه مخکې دې ته متوجه وو چې له دیني علماوو سره نېکې اړیکې ولري، ځکه هغوی پوهېدل چې له دیني عالمانو سره منفي چلند د ځان د له منځه وړلو حکم لري. نادرشاه یو باکلتوره شخص و، په همدې توګه يې وغوښتل تر څو هغه زیانونه چې په مخکینۍ دوره کې کلتور ته رسېدلي وو، بشپړ کړي او په دې برخه کې يې دقدر وړ خدمتونه وکړل. د هغه له کلتوري کارونو څخه یو هم دا دی چې پخپله به يې د زده کوونکو په سینه مډال لګاوه.

محمدنادر شاه د خپلې پاچاهۍ په ٤ کالو کې وکړای شول هغه بحران چې په ټول افغانستان کې

را منځ ته شوی و، پای ته ورسوي او دولتي واک ټینګ او واحد مرکزیت رامنځ ته کړي.

محمد نادرشاه د ۱۹۳۳م. کال د نوامبر د میاشتې په ۸ مه نېټه زده کوونکو ته د دلکشا په چمن کې مډالونه ورکول چې د عبدالخالق نومي محصل د تومانچې په ډزو سره ووژل شو. چې په همدې توګه د هغه څلور کلنه دوره پای ته ورسېده.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې د نادرشاه د شخصیت او د هغه د قدرت ته د رسېدو پر لاملونو او دویمه ډله دې د هغه د کارنامو په برخه کې پخپلو کې بحث وکړي.

پوښتنې

۱- کله چې محمد نادرشاه واک ته ورسېد، له کومو ننګوونو سره مخ و؟

۲- د نادر شاه د سلطنت مهمې کړنې بیان کړئ؟

۳- محمد نادر شاه له څو کالو پاچاهۍ څخه وروسته او په څه ډول ووژل شو؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې په دولتي چارو کې ، د محمد نادر شاه د سیاست او پالیسۍ په اړه د ښوونکو او منابعو په مرسته، یو مطلب برابر او په ټولګي کې دې وویايي.

د اصولنامې ترتیب او تدوین



سردار محمد هاشم خان

په دې لوست کې به د اصولنامو ضرورت د هغوی ترتیب او تدوین، اقتصادي کړکیچونو او د هغه له منځه وړلو سره به آشنا شئ.

کله چې محمد نادرشاه د هېواد واک په لاس کې واخیست، نو هېواد بحراني او داسې حالت درلود چې قانون په کې نافذ نه و، هماغه و چې د هېواد د قانونیت په فکر کې شو.

محمد نادرشاه په دې پوهېده تر هغه یو هېواد د قانون پر بنسټ ولاړ نه وي، هغه دولت نه یوازې دا چې پایښت نه لري، بلکې د هېواد شتون له خطر سره مخامخ کېږي. هغه دا درک کړې وه چې د اماني دولت له حساسیت سره مخامخ و او په همدې توګه منظم پلانونه مطرح شوي وو ترڅو د محمد نادر خان دولت له ریښې څخه راوباسي بهرنیو لاسونو او داخلي اجیرانو کار کاوه، ترڅو بحران رامنځ ته کړي. نادرخان په هوښیارۍ سره هماغه قوانین چې د امان الله خان په دوره کې د نظامنامې په نامه یادېدل، په لږ تفسیر سره د اصولنامې په نامه نافذ کړل. محمد نادرشاه د یوه با صلاحیته هیئت په واسطه اصولنامه (اساسي قانون) تدوین کړ. دا هماغه اساسي

نظامنامه وه چې د قوانينو د مور حيثيت يې درلود. په اساسي اصولنامه کې د شاه د حقوقو فصل تعديل او د امان الله خان د نامه پر ځای د نادرخان نوم راوړل شو.

د دولتي شورا پر ځای ملي شورا او داعيانو مجلس په اصولنامه کې داخل شو. همدارنګه اصولنامې د ملي شورا انتخابات ترتيب او دا دواړه د لويې جرګې غونډې ته د ۱۳۰۹لمريزکال د سنبلې(وږي) په ۲۸ مه وړاندې او تصويب شول. د همدې قانون پر بنسټ د ملي شورا انتخابات په ۱۳۱۰لمريز کال د سرطان (چنګاښ) په ۱٤ مه د سلام خانې په مانۍ کې د پاچا له خوا افتتاح شو او هېواد يو قانوني پړاو ته داخل شو. دا اساسي اصولنامه تر ۱۳٤۳ لمريز کاله پورې نافذه وه او له هغې سره په مطابقت کې ډېرې اصولنامې جوړې او تطبيق شوې. د قوانينو تطبيق د صدراعظمانو او وزيرانو په لاس کې وي. محمد هاشم خان چې ۱۸ کاله د افغانستان صدراعظم و، د شوراګانو په جوړښت کې يې ډېره ونډه درلوده. عبدالاحد مايار وردګ له ۱۹۳۲م. څخه تر ۱۹٤٦م. کاله پورې چې د محمد هاشم خان د ماموريت وروستی کال و، په پرلپسې توګه د ملي شورا رئيس و ځکه چې دا د صدراعظم د باور وړ سړی و او د ښې پوهې په درلودو سره يې شورا ښه اداره کوله.

له هغه ځايه چې نادر شاه د ديني عالمانو سره د نيکو اړيکو غوښتونکی و، نو غوښتل يې چې د ديني عالمانو موقف ته عزت ورکړي. په دې توګه يې امر وکړ چې د ټولو اصولنامو په تدوين کې دې له علماو څخه مشوره واخيستل شي، تر څو قوانين له شريعت سره سم تدوين شي. په دې برخه کې له هغوی سره له مخکې مشوره کېدله.

د ديني چارو د لاښه پرمخ بېولو لپاره يې د(جمعيت العلما) مجلس جوړ کړ چې له شاهي خزانې څخه ديني علماو ته يو شمېر امتيازات ورکول کېدل. ورپسې يې په کابل کې عربي دارالعلوم

جوړ کړ چې تجربه لرونکي ملایان یې د مدرسینو په توګه مقرر کړل او سردار عبدالرحمن خان یې د رئیس په توګه وټاکه.

څرنګه چې محمد نادرخان په یوه ډېر اساس وخت کې د افغانستان چارې په لاس کې واخیستې، ۱۹۲۹ م. او ۱۹۳۰م. کلونه د اقتصادي بحران کلونه وو او ټول لوی شرکتونه په اروپا، آسیا او ان امریکا کې له رکود سره مخامخ شول، یوه لویه بېوزلي په نړۍ کې خپره شوه. دا وضع چې د نړېوالې جګړې له پایلې څخه را پیدا شوې وه، په هر لور کې یې تباهي خپره کړه او افغانستان هم په غیر مستقیمه توګه له دې بحران څخه بې برخې پاتې نه شو. سربېره پر دې یو بل آفت (کورنی جګړه وه چې د افغانستان اقتصاد یې ځپلی وه او د کابل خزانه تالا شوي وه، محمد نادرشاه غوښتل چې په اقتصادي برخه کې یو قانوني سیستم پلی کړي، چې د هغې په اساس یو شمېر خبیر او پوه خلک چې کافي او مسلکي تجربې ولري، په دولت کې ونډه واخلي، د کابل، مزارشریف، هرات او کندهار لوېې لارې جوړې کړې ځینو شرکتونو ته د فعالیت اجازه ورکړل شوه.

پانګوالو پر دولت اعتماد وکړ، په همدې توګه راکد شوې پیسې یې راویستې او په کار ولوېدې، چې په دې کار کې د عبدالمجید زابلي دنده د یادولو وړ ده، په همدې توګه یې د محمد ظاهر شاه په دوره کې زیاتره د سوداګرۍ او اقتصاد د وزیر په توګه دنده سرته رسولې وه. همدارنګه د هېواد په صنعتي کېدو کې یې فعال او مهم رول درلود، نوموړي ډېرې فابریکې جوړې کړې او د افغانستان لپاره یې ډېر خدمتونه تر سره کړي دي. د محمدنادرخان او محمد هاشم خان په ډېرې پاملرنې سره د هېواد ډېرې وېجاړې ترمیم او د هېواد اقتصاد پراختیا وکړه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د اصولنامې پر تدوین او دویمه ډله دې د محمد نادرخان پر اقتصادي پروګرامونو خبرې وکړي.

پوښتنې

۱- له دینې عالمانو سره د محمد نادر شاه اړیکې څه ډول وې؟ شرح یې کړئ.

۲- محمد نادر شاه په اقتصادي برخه کې کوم کارونه وکړل؟ په لنډه توګه یې معرفي کړئ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د اصولنامې او د محمدنادرشاه د دورې د قوانینو په برخه کې له مشرانو او پوهانو څخه پوښتنې وکړي او یو مطلب دې ترتیب او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

د محمد ظاهر شاه سلطنت



شهزاده محمد ظاهر خنګه واک ته ورسېد، د دویمې نړیوالې جګړې د بحران کلونه او پر افغانستان کې اغېزې او د دې بحران په له منځه وړلو کې د صدر اعظم محمد هاشم خان ونډه، دا هغه مطالب دي چې په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

د محمد نادرشاه تر وژلو وروسته کورنۍ شورا جوړه او د اساسي اصولو د (۵) مادې سره سم محمد ظاهر شاه د محمد نادر شاه زوی چې ۱۹ کلن و، پاچاهۍ ته وټاکل شو. د اساسي اصولنامې سره سم ټول ملت يې تابعيت وکړ. نوم يې په خطبه کې ولوستل شو او په نامه يې سکه ووهل شوه او د شورا د مصلحت له مخې د المتوکل علی الله لقب هم ورکړل شو چې ۴۰ کاله يې له نامه سره يو ځای و.

دا چې د محمد ظاهر عمر لږ او د کار تجربه يې نه درلوده، نو ټول کارونه يې د مشر تره محمد هاشم خان په غاړه وو. کله چې محمد ظاهر شاه پاچا شو، نو ډېر ژر يې خپل تره محمد هاشم خان پخوانی صدراعظم يو ځل بيا د کابينې مسؤول وټاکه او هغه هم خپله کابينه پاچا ته معرفي او په کار يې پيل وکړ.

د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ په لومړيو کلونو کې دويمه نړيواله جګړه پيښه شوه دويمه نړيواله جګړه په **۱۹۳۹** م. کې پيل او په **۱۹۴۵** م. کې پای ته ورسېده. د دې جګړې لمبې چې له اروپا څخه راپورته شوې وې، ډېر ژر اسيا او د نړۍ نورو برخو ته ورسېدې.

د دې جګړې ګډون کوونکي (المان، ايټاليا، جاپان او د ختيځې اروپا کوچني هېوادونه) د محور په نامه او (انګلستان، فرانسه، شوروي اتحاد، د امريکا متحده ايالات او يو شمېر اروپايي هېوادونه) د متفقينو په نامه يادېدل، وو.

هغه هېوادونه چې په مستقيمه توګه په دويمه نړيواله جګړه کې ښکېل وو له مالي او ځاني پلوه ډېر زيانمن شول او همدا رنګه ناوړه اثرات يې ډېر وو. ټول هېوادونه يې متاثره کړل، ددې جګړې په وخت کې روسيه په شمال، ايران په لويديځ او برتانوي هند د افغانستان په سويل کې زيانمن شول.

محمد ظاهر شاه او د وخت صدر اعظم محمد هاشم خان د يوې جرګې په جوړېدو د يوه فرمان له مخې افغانستان يې ناپېيلی اعلان کړ.

محمد هاشم خان د ښه تدبير په درلودو سره نه يوازې دا چې افغانستان د جګړې له لمبو او زيانه وژغوره، بلکې له اقتصادي احتمالي ستونزو څخه يې هم وژغوره. د اقتصادي ستونزو سره سره يې ډېر اسعار ذخيره کړل چې وروسته تر يې په پرمختيايي پروژو کې ګټه واخيستل شوه.

کله چې جګړه ډېره سخته شوه، د محور ځواکونه د ختيځې اروپا له لارې د روسيې خاورې ته داخل شول. په افغانستان کې يو شمېر المانې او ايټالوي انجينرانو په ځينو پروژو کې کار کاوه، نو شوروي اتحاد او برتانوي هند يې په اړه اندېښنه کوله او افغانستان ته يې يادګېرنې ورکړې، تر څو المانيان او ايټالويان له خپلې خاورې وباسي. افغانستان د دغو وړانديزونو ځينې برخې ومنلې او ياد شوي کارکوونکي يې په درنښت له هېواده بهر کړل.

خو د هغه وخت مدبر صدراعظم محمد هاشم خان وتوانېد چې د افغانستان اوضاع نورماله وساتي. د جګړې دروندوالي پر افغانستان هم اغېز درلود او یو شمېر امنیتي ستونزې یې رامنځ ته کړې، چې د هغه وخت له حالاتو، او د محمد هاشم خان له تدبیر سره سم دا ستونزې لرې شوې.

ځکه نو ویلای شو چې د افغانستان د ناپیلتوب پایله دا شوه چې امپریالیستي قواو نه شوکولای چې پرې تېری وکړي چې دا کار د افغانستان د خپلواکۍ په ټینګښت، په منځني او نږدې ختیځ کې د امنیت په پیاوړتیا کې مرستندوی ثابت شو.

دویمی نړیوالې جګړې له اقتصادي پلوه هم پر افغانستان منفي اغېزه وکړه. پر شوروي اتحاد د المان یرغلونه او د بحرالکاهل پر سیمې د جاپان د یرغلونو په پایله کې د افغانستان سوداګریزې اړیکې د محور، اروپایي او اسیایي هېوادونو سره چې د جګړې په ساحه کې وې، قطع شوې. د افغانستان او شوروي اتحاد سوداګري ټیټې کچې ته ورسېده او یواځې له هندوستان (برتانوي هند) سره سوداګرۍ دوام درلود. د وارداتي توکو د کمي له امله د خوراکي توکو بېې لوړې شوې، په ځانګړې توګه په (**۱۹۳۹-۱۹۴۴م**.) کلونو کې بېې له څلورو څخه تر پنځه چنده پورې لوړې شوې. دولتي چارواکو د خوراکي او صنعتي توکو د ګرانۍ د مخنیوي او د بیو د تنظیم لپاره کلک تدبیرونه تر سره کړل.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې د دویمې نړیوالې جګړې او د افغانستان د ناپیلتوب د پایلو په اړه، یو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱ـ د محمد ظاهر شاه د واک ته د رسېدو د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړئ؟

۲ـ په دویمه نړیواله جګړه کې جنګي قوتونه په کوم ترتیب سره وېشل شوي وو؟


۳ـ د وخت صدراعظم محمد هاشم خان د دویمې نړیوالې جګړې په وخت کې د افغانستان د سوکالۍ لپاره کومې چارې سر ته ورسولې؟

۴ـ په دویمې نړیوالې جګړې کې د افغانستان ناپیلتوب په سیاسي برخه کې کوم رول تر سره کړای شو؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه د محمد ظاهر شاه د شخصیت په اړه یو مطلب جوړ او په ټولګي کې دې وویايي.

لومړنی پنځه کلن پلان (۱۹۵۶ ميلادي/ ۱۳۳۵ لمريز)



سردار محمد داوود خان

د لومړني پنځه کلن پلان ضرورت، د سردار محمد داود خان ونډه د دې پلان په تکميل او پلي کولوکې، دا هغه مفاهيم دي چې په دې لوست کې به يې ولولئ.

د اعليحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت په لومړي وخت کې محمد هاشم خان د صدارت چارې پر غاړه لرلې او د خپلې غوښتنې له مخې يې له دغه مقام څخه استعفا ورکړه. له هغې وروسته يې کشری ورور سپهسالار شاه محمود خان صدارت ته غوره شو. هغه اوه کاله وروسته د ناروغۍ له امله استعفا ورکړه. له دې وروسته د اعليحضرت محمد ظاهر شاه له خوا يې د تره زوی سردار محمد داوود خان د سردار محمد عزيز خان زوی د صدارت مقام ته وټاکل شو.

محمد داوود خان غوښتل چې افغانستان د سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه پر خپلو پښو ولاړ يو هېواد اوسي. او د منظمو اقتصادي پلانونو په جوړولو سره يې د ودې پراو نه پيل کړل.

هغه په لومړي سر کې کابينه له پوهو کسانو څخه جوړه کړه. په بهرني سياست کې يې د افغانستان مثبت ناپيلتوب ځان ته غوره کړ چې بنسټ يې په ملي ګټو او د افغانستان د خلکو پرآزاد قضاوت ولاړ وو او داکار د دې سبب شو چې د نړۍ هېوادونه دې ته حاضر شول چې پرته له قيد او شرطه څخه افغانستان سره مرسته وکړي. په دې وخت کې دا يو له ډېرو غوره کارونو څخه و، ځکه چې د امريکې د متحده ايالاتو او شوروي اتحاد تر منځ سياسي موازنه يې ښه وساتله.

سردار محمد داوود خان يو مترقي او هيواد پال شخصيت و. هغه په دې ښه پوهېده چې يو هېواد په کومو وسايلو سره پر ستونزو بريالی کېدای شي. هغه د توليدي او اقتصادي موسسو د پراختيا او پرمختيا

په برخه کې ډېره هڅه کوله. هغه و چې خپل کارونه يې په يوه چوکاټ کې منظم کړل. لومړنی پنځه کلن پلان يې په ۱۹۵۶م. کې پيل او په نهه توګه يې سرته ورساوه او دويم پلان يې په ۱۹۶۱م. کې تر لاس لاندې ونيو. په لومړی اقتصادي پلان کې پرمختيايي بودجه په بنسټيزو کارونو کې ولګول شوه چې د هغې په وسيله د سړکونو جوړول او د برېښنا د توليد کار ډېر نهه مخکې لاړ. په دې موده کې د کابل ـ کندهار او سپين بولدک تر منځ سړک، کابل ـ تورخم ـ قزل قلعه ـ د سالنګ تونل ـ کندهار ـ هرات او کشک نخود سړکونه اعمار شول.

همدارنګه د برېښنا په برخه کې د نغلو برېښنا د ۶۶ زره، ماهيپر د ۱۰ زره او د درونټې بند د ۱۱ زرو او د مزار شريف برېښنا ۱۰ زره کيلو واټو ته يې ظرفيت لوړ شو.

د نفتو او ګازو د منابعو استخراج د هېواد په شمال کې پيل شو. د ډېرو سکاره په پوره اندازه توليد شول.

د صنايعو په برخه کې د مزار شريف د سرې د فابريکې توليدات په کا ل کې ۱۰۰ زرو ټنو ته ورسېدل، د غوري سمنټو فابريکه او د موټرو د ترميم ډېر شمېر دستګاه ګانې د هېواد په مختلفو برخو کې جوړې شوې. د دې تر څنګ د کابل د جنګلک فابريکه داسې کمپلېکس شوه چې نه يوائې وروسته يې لوی ماشينونه ترميمول، بلکې د نصبولو چارې يې هم سر ته رسولې.

همدارنګه د ننګرهار پروژې ته زياته پاملرنه وشوه تر څو د هغې د توليداتو کچه جګه شي چې په ټول ژمي کې به يې د هېواد اکثرو سيمو ته مېوې او سابه ورکول.

د محمد داوود خان دويم اقتصادي پلان د وخت د کموالي او د ځينو نورو ستونزو له امله پلی نشو چې وروسته محمد داوود خان مستعفي او په دې توګه د هغه د صدارت دوره پای ته ورسيده.

په ټولګی کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د محمد داوود خان پر شخصيت او بهرنۍ سياست او دويمه ډله دې د هغه د پنځه کلن پلان په اړه يو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱ـ سردار محمد داوود خان څرنګه د صدارت دنده تر لاسه کړه؟

۲ـ د محمد داوود خان بهرنی سياست په لنډه توګه معرفي کړئ.

۳ـ په لومړي پنځه کلن پلان کې کوم بنسټيز کارونه تر سره شول؟ هغه ووياست.

۴ـ د سردار محمد داوود خان دويم پنځه کلن پلان ولې پلی نشو؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د محمد داوود خان د شخصيت او پنځه کلن پلان په برخه کې له منابعو، مشرانو او پوهانو څخه معلومات تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې ووايي.

د دیموکراسۍ لسیزه (۱۳۴۳- ۱۳۵۲ لمریز)



ډاکټر محمد یوسف

آیا پوهېږئ د دیموکراسۍ د لسیزې اساسي قانون څه پایلې درلودلې؟ د دې پوښتنې ځواب په دې لوست کې به یې ترلاسه کړئ.

د ظاهر شاه د سلطنت وروستي لس کلونه د ډیموکراسۍ د لسیزې (اساسي قانون) یا د مشروطې شاهي په نامه یادوي. په افغانستان کې د ډیموکراسۍ دوره د سردار محمد داودخان تر استعفا یا د ۱۳۴۳ لمریز کال د اساسي قانون تر انفاذ وروسته پیل او تر لسو کلونو پورې یې دوام وکړ. تر دې دمخه د شاه محمود خان د صدارت په دوره کې هم هېواد ته د ډیموکراسۍ زمینې رامنځ ته شوې وې.

په نوي اساسي قانون کې پرېکړه وشوه چې د شاهي کورنۍ غړي په سیاسي ګوندونو کې برخه نشي اخستی او لاندې دندې او مسوولیتونه تر سره کولای نشي:

۱ـ د صدارت مقام. ۲ـ په شورا کې غړیتوب. ۳ـ په ستره محکمه کې غړیتوب چې د همدې پرېکړې له امله د ډیموکراسۍ په لسیزه کې پنځه صدراعظمان چې د شاهي کورنۍ غړي نه وو

(ډاکټر محمد یوسف، محمد هاشم میوندوال، نور احمد اعتمادي، ډاکټر عبدالظاهر، محمد موسی شفیق) دندې تر سره کړې. کله چې سردار محمد داوود خان د صدارت له مقامه استعفا ورکړه، محمد ظاهر شاه ډاکټر محمد یوسف د صدارت پر مقام مامور کړ، هغه هم ومنله او خپله کابینه یې د ۱۹۶۳ م. کا ل د مارچ په ۱۳مه جوړه کړه.

ډاکتر محمد یوسف په آلمان کې د فزیک په رشته کې زده کړې کړې وې. هغه په یوې منځنۍ کورنۍ پورې اړه درلوده. د ډاکټر محمد یوسف د حکومت غوره او اساسي دنده د اساسي قانون تدوین او د هغه د قانوني مراحلو سر ته رسول وو چې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه لویه جرګه راوغوښته، اساسي قانون تدوین او هغه یې تایید او تصدیق کړ. ډاکټر محمد یوسف د درېیم اساسي قانون په تدوین پیل وکړ. د ډېموکراسۍ دغه نوی نهضت په افغاني ټولنه کې د ډول ډول غبرګونونو سره مخامخ شو. ډېرو افغانانو، په ځانګړې توګه ځوانانو یې تود هرکلی وکړ، خو د هېواد په لویو ښارونو کې سختې مظاهرې رامنځ ته شوې.

د ډېموکراسۍ په لسیزه کې د مطبوعاتو قانون د تقنیني فرمان په وسیله نافذ شو او د دې قانون پر بنسټ په کابل کې دېرش جریدې نشر شوې چې د بېلګې په توګه مشهورې ورځپاڼې او جریدې یې په لاندې ډول وي:

افغان، مساوات، روزګار، افغان ملت، ملت، کاروان ورځپاڼه، خلق، پرچم، شعله جاوید، ګهیځ، ترجمان، مردم او داسې نور...

په دې دوره کې د احزابو قانون د اساسي قانون په شورا کې پاس او د توشېح لپاره د شاه حضور ته واستول شو، خو شاه دا قانون وځنډاوه او د خپلې پاچاهۍ تر پایه یې توشېح نه کړ، خو له دې

سره هم روشنفکرانو په ښکاره ډول خپل سیاسي فعالیتونه پیل کړل او هر سیاسي جریان د ځان لپاره یو نشراتي ارګان درلود چې خپلې اعلامیې به یې په کې خپرولې. دغو ډلو د ډیموکراسۍ په لسیزه کې د خپلو فکري کړنلارو له امله په ښې او کیڼو ګروپونو وښل شوي وو چې عبارت وو له:

۱- د خلق ډیموکراتیک ګوند چې وروسته په دوو ډلو، خلق او پرچم ووښل شو؛

۲- اسلامی نهضت یا د مسلمانو ځوانانو جریان؛

۳- حزب دموکراتیک نوین (شعله جاوید)؛

۴- مترقي ډیموکرات ګوند؛

۵- افغان ټولنپال ولسواک ګوند (افغان ملت)؛

۶- د اتحاد ملي ګوند.

همدارنګه نورې لویې او وړې ډلې هم وې چې په سیاسي فعالیتونو بوختې وې. په عمومي توګه د ډیموکراسۍ په لسیزه کې سیاسي ډلو د ډیموکراسۍ له نامه څخه په ګټې اخیستنې سره په سیاسي فعالیتونو لاس پورې کړ.

په فرهنګي او عمراني برخو کې هم کار وشو. د اساسي قانون په لسیزه کې چې پنځه صدراعظمانو دنده تر سره کړه، په ملکي او نظامي برخو کې تر یوې کچې کار وشو. د دغو فعالیتونو ځینې بنسټونه چې د داوود خان د صدارت په وخت کې ایښودل شوي وو، د ډیموکراسۍ په لسیزه کې پای ته ورسېدل.

د ډیموکراسۍ (اساسي قانون) په لسیزه کې د قواو تفکیک هم رامنځ ته شو او دولت پر درې

قواوو(اجرایه، مقننه او قضایه) ووېشل شول او د شورا د دولسمې او دیارلسمې دورې لپاره په هېواد کې آزادې ټاکنې وشوې چې د افغانستان خلکو خپل استازي شورا ته واستول. په دې دوره کې پنځو حکومتونو له ولسي جرګې څخه د باور رایه واخیسته.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړنۍ ډله دې د ډېموکراسۍ د لسیزې د احزابو د قانون په اړه او دویمه ډله دې د ډېموکراسۍ په لسیزه کې د قواوو د تفکیک په برخه کې یو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱ـ د ډېموکراسۍ لسیزه په افغانستان کې په کوم ډول منځ ته راغله؟

۲ـ کومو صدراعظمانو د ډېموکراسۍ په لسیزه کې دندې تر سره کړې؟

۳ـ د ډېموکراسۍ په لسیزه کې کومې ورځپاڼې او جریدې خپرې شوې؟ نومونه یې ووایاست.

۴ـ د ډېموکراسۍ په لسیزه کې دولت پر څو قواوو ووېشل شو؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د هغو کارونو او برنامو په هکله چې د ډېموکراسۍ په لسیزه کې تر سره شوي دي یو مطلب جوړ او خپلو نورو ټولګیوالو ته دې ووایي.

په جمهوریت باندې د سلطنتي رژیم د بدلېدو لاملونه



جمهور رئیس محمد داوود خان د کابینې له غړو سره

ولې سلطنت((مشروطه شاهي)) په جمهوریت بدله شوه، کومو شخصیتونو پکې لویه ونډه درلوده؟په دې لوست کې به دغو پوښتنو ته ځواب ووایو.

مشروطه شاهی رژیم په ۱۳۵۲ هـ. ش کال د چنګابښ په ۲۶ نېټه د یوې سپینې کودتا په ترڅ کې د سردار محمد داوود خان تر مشرۍ لاندې نسکور او پر ځای یې جمهوري نظام اعلان شو.

سردار محمد داود خان چې د محمدظاهرشاه د حکومت پرمهال د صدارت مقام یې د یولړ مسایلو پر اساس پرېښود، غوښتل یې چې خپلې شخصي او ملي موخې په خپلواکه توګه پر مخ یوسي هیله یې درلوده چې په سیاست کې بیا برخه واخلي او د هېواد په سیاسي او اداري برخلیک کې اغېزمنه ونډه ولري.

د ډاکټر محمد یوسف د صدارت په دوره کې د ۱۳٤۳ لمریز کال د اساسي قانون انفاذ د مشروطه شاهي نظام اساسات رامنځ ته کړل، نو دغې موخې محمد ظاهر شاه ته دا انګېرنه ورکړه چې محمد داوود باید د صدارت له مقامه لرې او سیاسي ډګر ته یې بیا راتګ د تل لپاره ناشونی شي. د همدې اساسي قانون په یوې مادې کې لیکل شوي و چې د شاهي کورنۍ غړي په سیاسي ګوندونو کې غړیتوب نه شي اخیستلی. پورتنی محدودیت چې نېغ په نېغه محمد داوود خان ته متوجه و، وروسته یې د هغه د ټولو سیاسي هلو ځلو لارې بندې کړې.

له بل لوري وروستني حکومتونه چې یو په بل پسې ناکامېدل، د هېواد د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په برخه کې یې د خلکو باور له لاسه ورکاوه. له دې امله د شاهي نظام له اداري څخه د خلکو ناهیلي

او کرکه ورځ په ورځ ډېرېدله.

محمد داوود خان دا پرېکړه کړې وه په هر ډول چې امکان ولري د هېواد په سیاسي جوړښت کې بدلون راوړي، تر څو له یوې خوا د بحران خطر له منځه یوسي او له بل پلوه د خلکو غوښتنې د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په اړوند پوره کړي. له دې امله محمد داوود خان یو ځل بیا په سیاسي فعالیت لاس پورې او له شخصیتونو، سیاسي ګوندونو او د هېواد له مختلفو ډلو سره یې اړیکې ټینګې کړې.

محمد داوود خپل پلان داسې جوړ کړ چې د خپلو پلویانو د جلب و جذب دایره پراخه کړي او د سیاسي قدرت د لاس ته راوړنې اصلي کیلي چې پوځ و ملاتړېې تر لاسه کړي، نو په دې وخت کې چې سلطنتي نظام خپل محبوبیت په ټولنه کې تر یو حده پورې له لاسه ورکړي و خلک دې ته حاضر وو چې د ټولنې په سیاسي جوړښت کې یو ژور بدلون ومني او هغوی ورته هرکلی ووایي. محمد داوود او ملګرو یې وکړای شول، چې له همدې حالت څخه په ګټې اخستنې سره د خپل نفوذ حلقه په پوځ کې جوړ او د پوځي کودتا لپاره زمینه برابره کړي.

په دې وخت کې محمد ظاهر شاه د سترګې د علاج لپاره اروپا ته تللی و. د کودتا مقدمات له مخکې جوړ شوي و. نو په دې توګه د **۱۳۵۲ لمریز** کال د چنګاښ په **۲۶**مه د محمد داوود په مشرۍ او د پوځ د افسرانو په مرسته د شاهي نظام په ړنګولو لومړنی جمهوریت بریالیتوب ته ورسېد او د هېواد د تاریخ نوی څپرکی پرانیستل شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړنۍ ډله دې له سلطنته څخه په جمهوریت د بدلېدلو پر لاملونو او دویمه ډله دې د شاهي او جمهوري نظام تر منځ د توپیر په هکله یو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱ـ د **۱۳۵۲** کال د چنګاښ پر **۲۶**مه کومه پېښه رامنځ ته شوه؟

۲ـ هغه کوم لاملونه وو چې سردار محمد داوود یې دې ته اړ کړ چې کودتاه وکړي؟

۳ـ سردار محمد داوود خان د کودتا پلان څنګه طرح کړ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د محمد داوود خان د کودتا د لاملونو په اړه چې په **۱۳۵۲** لمریز کال کې رامنځ ته شوه، وخېړي او برابر شوی مطلب دې په ټولګي کې وړاندې کړئ.

د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ د ۲۶ مې کودتاه

په تېر لوست کې د کودتاه د لاملونو سره آشنا شوئ، په دې لوست کې به د کودتا د سرته رسېدونکو، د نوي دولت د سیاست او د کودتا پایلو سره پېژندګلوي تر لاسه کړئ.

سردار محمد داوود خان چې کله د صدارت له مقام څخه استعفاء وکړه، او لس کاله یې په ګوښه والي کې تیر کړل، د خپل صدارت په موده کې یې د هېواد د پرمختګ لپاره ډېرې هڅې کړې وې. د خپلې لس کلنې ګوښه والي په موده کې یې هم علاقه درلوده چې هېواد د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودروي. همدا وه چې د ۱۹۷۳م. کال د جولای په ۱۷مه چې د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ له ۲۶مې نېټې سره برابره وه، کودتا وکړه چې په پایله کې د افغانستان شاهي نظام ملغا او جمهوریت اعلان شو.

د چنګاښ د ۲۶ مې کودتاه د ۱۹۶۳م. کال د اساسي قانون لسیزې ته د پای ټکی کېښود. که څه هم هغو پنځو حکومتونو د ډیموکراسۍ دعوه کوله، خو په حقیقت کې پرې انارشیستي خصلت غالب و. د داوود خان کودتاه دې ګډ وډیو ته خاتمه ورکړه او پر ځای یې سردار محمد داوود خان د یوه ملي رهبر په توګه راخرګند شو.

د شخصیت له پلوه هغه ډېر پاک، د اخلاقي سجایاوو خاوند او پر هېواد مین انسان و. د کودتاه تر پایلې وروسته یې خپله تاریخي بیانیه (خلکو ته خطاب) په نامه اعلان کړه چې د نوي دولت کړنلاره په کې وه.

داوود خان افغانستان د ګاونډیو هېوادونو سره د دوستۍ لېوال، د غیر منسلک هېوادونو غړی وباله او د ملګرو ملتونو ټولنې له منشور څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ، یوازې د پښتونستان مسئله یې له پاکستان سره د اختلاف د ټکي په توګه یاده کړه او د سولې له لارې یې د هغې د حل غوښتنه وکړه.

د نوي دولت د کړنلارې څخه د هېواد خلکو په ولایتونو او مرکز کې تود هر کلی وکړ، محمدظاهر شاه چې د ایټالیا د ناپل په ښار کې په استراحت بوخت و، په کابل کې د خپلې پاچاهۍ د له منځه تللو څخه خبر شو. سمدستي روم ته لاړ او خپله استعفا یې د افغانستان د سفارت له لارې د افغانستان د جمهوریت د مؤسس په نامه کابل ته را ولېږله. د استعفا نامې په رسېدلو سره چې د شاهي کورنۍ غړي بندیان وو له بنده آزاد او ایټالیې ته ولاړل.

یوه ورځ وروسته د نوي نظام د مرکزي کمېټې لومړۍ جلسه جوړه شوه. مرکزي کمېټې محمد داوود خان د

دولت د جمهور رئيس، صدراعظم، د بهرنيو چارو او د دفاع د وزير په توګه وټاکه او نوموړي نوې کابينه معرفي کړه. د محمدداوود خان د فرمان په اساس د ۱۳۴۳ لمريز کال اساسي قانون لغوه شو او د نوي اساسي قانون د تصويب لپاره لويه جرګه چې ۳۴۹ کسه غړي يې درلودل د عزيزالله واصفي په مشرۍ راوغوښتل شوه او د ۱۹۷۷م. کال د مارچ په ۱۴مه نوی اساسي قانون تدوين او د محمد داوود خان له خوا توشيح او نافذ شو.

په ټولنيزه او اقتصادي برخه کې هم يولړ اقدامات وشول چې پر بنسټ يې د ځمکو اصلاحاتو ته پاملرنه وشوه، د ځمکې د اراضي قانون ((مترقي ماليات)) تصويب شو او له هغې سره سم د مالکانو اضافي ځمکې هغه بزګرانو ته چې لږ يا هيڅ ځمکه يې نه درلوده ورکړل شوه. د دولت له خوا د جزا او مدني قانون تصويب شو. ملي سرود منځ ته راغی، د بيرغ په نښان کې هم بدلونونه راغلل.

د افغانستان د جمهوري دولت له دېرو مهمو کارونو څخه يو هم د اووه کلن اقتصادي پلان جوړول و. دا پلان په ۱۹۷۶م. کې پيل او په ۱۹۸۳م. کې بايد پای ته رسېدلی وای.

د جمهوريت په موده کې په ټول هېواد کې د سړکونو د ځارنې او ترميم کار پيل شو. له هراته د کندهار تر سپين بولدک پورې د اوسپنې پټلۍ، د لوګر د عينکو د مسو د کان او د حاجي ګګ د سروې کار تر لاسه لاندې ونيول شو.

د محمد داوود خان پلانونه او پروګرامونه دېر پراخ بنسټه ووچې ټول يې عملي نه شول، او د ۱۳۵۷ لمريز کال د غويي پر اوومه د يوې پوځي کودتاه په وسيله د محمد داوود خان جمهوري نظام ړنګ شو.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وويشل شي. لومړنۍ ډله دې د محمد داوود خان د شخصيت په اړه او دويمه ډله دې د هغه د اقتصادي پلانونو په برخه کې په خپلو کې خبرې وکړي.

پوښتنې

۱. د محمد داوود خان د کودتاه پايلې څه وې؟

۲. کومو خلکو د محمد داوود خان په کودتاه کې زياته ونډه درلوده؟

۳. د ۱۳۴۳لمريز کال اساسي قانون په برخه کې کوم اقدامات وشول؟ په لنډه توګه يې ووايي.

۴. په اووه کلن اقتصادي پلان کې کوم کارونه تر سره شول؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د جمهوريت د دورې د خرنګوالي په اړه مطلب جوړ او په ټولګي کې دې ووايي.

د دويم څپركي بيا كتنه

د نړۍ د شلمې پېړۍ ټولنيز، سياسي او اقتصادي حالت د رنسانس د دورې د ۱۵ مې پېړۍ د دويمې نيمايي څخه تر ۱۸مې ميلادي پېړۍ پورې د مستقيمو اندونو، نظريو، د فرانسې د لوی انقلاب په ۱۷۸۹م. کال کې د بنسټيزو اغېزو او د ۱۹مې پېړۍ د يوشمېر فيلسوفانو د افکارو او نظريو محصول ګڼل کيږي. د دغو ټولو سيستمونو او سياسي مکتبونو لوړوالی په دې تاريخي مرحله کې داسې انګازې رامنځ ته کړې چې بشريت يې په تېرو دورو کې ډېره لږه بېلګه لېدلې وه. دا ځکه چې د اقتصادي ګټو او د مخالفو لوريو اختلاف د خپلو تضادونو تر ټولو لوړې کچې ته ورسېد او په نړۍ کې ډېرو لويو ورانونکو پېښو ته لاره هواره کړه.

په همدغې دورې کې د دوو نړيوالو جګړو په لړ کې نړۍ په دوو دښمنو قطبونو (ختيځ او لوېديځ) ووېشل شوه. د امريکا متحده ايالاتو په نړيواله برخه کې د بريتانيا ځای ونيو. چين د خپل مستقل سياسي خط په لرلو سره د نړۍ د دريم ځواک په توګه ځرګند شو. اتومي، بيولوژيکي او کيمياوي وسلې د نړيوالې سيالۍ د پرمخ وړلو وسيله شوه، اقتصادي سيالۍ خپل وروستی پوړ ته ورسېدې او سړې جګړې چټک دوام پيدا کړ.

که څه هم د شلمې پېړۍ نړۍ ډېره متشنجه او بې ثباته وه، خو پرله پسې سيالیو د انسان د ژوندانه په ځرنګوالي کې ستر رول ولوباوه او د پرمختګ سبب شو. خو دغو پرمختګونو ټولنيزه جنبه نه درلوده او د ملتونو لويه برخه په ځانګړې توګه د افريقا او آسيا په لويو وچو کې له دې اسانتياوو بې برخې پاتې شول. په دغو ټولنو کې يو هم افغانستان و چې تر ټولو وروسته او د نوي تمدن له امکاناتو او وسايلو څخه بې برخې پاتې شو.

د افغانستان د وروسته پاتې والي لوی لامل دا و چې په شلمه پېړۍ کې دا هېواد د سيمې د هېوادو د ستراتيژيو د تقاطع ټکی شو او د نړيوالو سيالیو په پايله کې يې ډېر زيان وليد.

درپیم څپرکی

د افغانستان ګاونډي هېوادونه

د درپیم څپرکي موخې

۱- د پاکستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

۲- د ایران د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

۳- د چین د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.


٤- د تاجکستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

٥- د ازبکستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

٦- د ترکمنستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

۷- د نقشو او اطلسونو څخه د کار اخېستلو مهارت.

د پاکستان اسلامي جمهوریت



د نهم ټولګي په تاریخ کې تاسې د پاکستان د موقعیت، نفوس او کلتوري ارزښتونو په اړه بلد شوئ. په دې لوست کې تاسې ته د هند د نېمې وچې د تاریخ، له هند څخه د پاکستان او له پاکستان څخه د بنګله دېش د بېلتون په هکله معلومات وړاندې کېږي. د پاکستان تاریخ د هغه د جوړښت څخه وړاندې د افغانستان اویا د هند د شبې قارې په تاریخ مطالعه کیدای شي.

اسلام د اوومې میلادي پېړۍ په لومړیو کې د هند نیمې وچې ته ورسېد. پوځیان او مسلمان مهاجرین چې له لوېدیځ څخه راغلي وو، د سند د سیند او پنجاب په سیمه کې چې د پاکستان د ځمکې لویه برخه جوړوي، مېشت شول. څو پېړۍ مخکې د هند په نیمه لویه وچه کې مسلمانان د دوه لویو ټولنو په توګه د هند په ختیځ او لوېدیځ څنډو کې رامنځ ته شول. د اسلام د مقدس دین سره د هند د بومی خلکو لېوالتیا د مسلمانانو په شمېر کې زیاتوالی راوست.

د بریتانیا د واکمنۍ پر وخت د هند د نیمې وچې په ډېرو برخو کې د مسلمانانو شمېر زیات وو، سره له دې هم هندوانو په هغو ځایونو کې چې د مسلمانانو شمېر په کې ډېر هم و، په دولتي چارو کې پر هغوی غلبه درلوده. ځکه نو مسلمانانو د دې لپاره چې ښه ژوند ولري، داسې هېواد چې دوی یې خپل وګڼي، په هغه کې خپل مشران وټاکلی شي او خپل اسلامي کلتور ته وده ورکړي، مینه درلوده.

د هند د نیمې لوېې وچې او پاکستان له مهمو تاریخي پېښو څخه یوه هم د مسلمانانو راتګ و، له آشوکا وروسته سیاسي یووالی تر ډېره وخته پاتې نه شو. او په منځنیو پېړیو کې د کوچنیو پاچاهانو په لاس سره وېشلی و.



محمد علي جناح

کله چې د بودا دین مخ پر زوال شو، د هند سیال پاچاهان یو له بل سره په جګړې اخته شول. او دې کار مسلمانانو ته چې د اسلام د بیرغ وړونکي وو، مناسب فرصت په لاس ورکړ.

د هند نیمه لویه وچه د مغلو پر وخت د مسلمانانو تر واکمنۍ لاندې متحده شوه، خو ډېرو هندو شاهانو د مسلمانانو د واکمنۍ پر وړاندې مخالفت وکړ او د هغوی پر وړاندې یې مبارزه پیل کړه. د غزنویانو، غوریانو اسلامي سلسلو د هند پر نیمې لوېې وچې واکمنۍ وکړه او د سختو مخالفتونو سره سره دغه نوې اسلامي ټولنې د هندوانو د پخوانۍ ټولنې ترځنګ کرار کرار ساه اخیسته. د نوموړې ټولنې پادشاهانو به خپل پوځیان هڅول چې له هندو ښځو سره ودونه وکړي. د هندوانو د ټیټې پوړۍ ډېر کسان د اسلام د جاذبې او نیاو له امله مسلمانان شول.

په ۱۸۸۵م. کال کې هندوانو د دې لپاره چې د یوه بومي پارلمان د جوړولو بنسټ کېږدي، د هند ملي کنګره یې جوړه کړه. یو شمېر مسلمانان له کنګرې سره یو ځای شول، خو لږ وروسته ځرګنده شوه، چې مسلمانان په کې لږ دي او ښایي ګټې یې په پام کې ونه نیول شي. په ۱۹۰۶ میلادي کال کې مسلمانان له کنګرې څخه جلا شول او خلکو ته یې ددې بلنه ورکړه چې په جلا ټولټاکنو کې مسلمانان خپل استازي وټاکي. په همدې ترڅ کې یې د هند د ټولو مسلمانانو انجمن (مسلم لیګ) د هندوانو د کنګرې د رقیب په توګه تاسیس کړ. د ۱۹۴۵م. کال تر ټولټاکنو وروسته د مسلمانانو د یوه ملي دولت غوښتنه لاپیاوړې شوه، که چېرته تجزیه منځ ته راغلې نه وای، جګړه پیلېده، خو په پایله کې دا دواړه پېښې شول.

په ۱۹۳۸م. کال کې جناح د مسلم لیګ د پیاوړتیا لپاره د (دوو ملتونو) نظریه وړاندې کړه او د یوه بېل اسلامي هېواد د جوړولو غوښتنه یې وکړه چې په ۱۹۴۰م. کا ل کې مسلم لیګ د یوه پرېکړه لیک په ترڅ کې د پاکستان د جوړولو غوښتونکی شو.

په ۱۹۴۶م. کې کنګرې او هم مسلم لیګ د بریتانیې د فدرالي حکومت د جوړولو طرح رد کړه او کنګره هم د ۱۹۴۷ م. کال پورې د تجزیې منلو ته تیاره شوې وه او یوازې د سرحدونو ټاکل پاتې وو. د ۱۹۴۷م.کال د اګست په ۱۴ مه پاکستان جوړ شو. تر ټولو لوی د اسلامي او ملي وحدت ازموینه هغه وخت را ورسېده چې کله بریتانیا دا ومنله، چې د هند نیمه لویه وچه دې د هند او پاکستان په هېوادونو تجزیه کړي، یوازې هغو سیمو ته چې ډېر مسلمانان په کې اوسېدل دا اجازه ورکړل شوه چې له پاکستان

سره دې يو ځای شي، خو بيا هم د کشمير د ډېره ميشتې مسلمانې سيمې پر سر خبرې او لانجې روانې وې.
د هند د نيمې لوې وچې تر تجزيې وروسته هندوان هند ته وتښتېدل او مسلمانانو هندي سيمې پرېښودې ، په لکونو انسانان په فرقه ييزو نښتو کې ووژل شول. لږ وخت وروسته دواړه ملتونه د کشمير پر سر په جګړه اخته شول، هند کشمير په دې بانه چې حاکم يې هندو دی، نيولی و، خو د مسلمانانو په دې دليل، چې ډېری اوسېدونکي يې مسلمانان دي، بايد کشمير د پاکستان يوه برخه وي. د پاکستان اصلي ستونزه د ملي هويت جوړونه د سياسي پولو ټاکل د واقعيت پربنسټ او باثباته او د منلو وړ رژيم د خلکو لپاره د توکمي، ژبني، عقيدتي او مذهبي توپير په لرو سره و.


خان عبدالغفار افغانستان ته په سفر کې

د يوه مستقل هېواد په توګه د پاکستان په منځ ته راتګ کې ځينو رهبرانو لکه فيلسوف او شاعر اقبال لاهوري، حقوقپوه محمد علي جناح ستر رولونه لوبولي دي. خان عبدالغفار خان د پشتونخوا د سترو او ملي ځېرو څخه دي چې د انګليس د استعمار او استبداد په وړاندې پاڅون وکړ او د خپل ژوند ډېرې شيبې يې په دې لار کې تېرې کړې دي.
کله چې مهتماګاندي په ۱۹۳۸م. کال کې د پښتونخوا څخه ليدنه کوله، نو له نږدې څخه يې پاچاخان، د هغه مبارزې، او د خلکو اخلاص وليد نو هغه ته يې داسي وويل: »زما دعا داده چې پښتانه نه يوازې دا چې هندوستان خپلواک کړي، بلکې د همدې خپلواکۍ په برکت ټولې نړۍ ته د نه تاوتريخوالي اصول وروپېژني».
د پاکستان تر خپلواکۍ وروسته د اسلام د رول پر سر يو شمېر قانوني مصالحې وشي. د ۱۹۵۶م. کال اساسي قانون پاکستان يو اسلامي هېواد اعلان کړ او هم يې پارلماني قوانين د اسلامي تحقيقاتو د انستيتيوت (Islamic Research Institute) د بيا کتنې تابع کړل. په ۱۹۵۸م. کال کې دا قانون منسوخ شو او د پاکستان جمهوري د اعلان سره هڅه وشوه، د اسلامي رهبري ځواکمنتيا محاره کړي د هڅو په پايله کې په ۱۹۶۳م. کال کې بيا د ۱۹۵۶ م. کال اسلامي شرايط څه نا څه اعاده شول.

د بنګله دېش بېلوالی

پاکستان ددې فکر پر بنسټ جوړ شو، چې د هند مسلمانان داسې يو ملت جوړ کړي چې د هېواد په لرلو سره ځانګړي سيمې او قلمرو ولري. پاکستان د سند، بلوچيستان، پنجاب او د پښتونخوا له ايالاتونو څخه ملت نه جوړاوه او د دوی ترمنځ ژور قومي او ژبني توپيرونه موجود وو. د پاکستان بنسټ اېښودونکو د دې نوي هېواد لپاره د لويديځ او ختيځ پاکستان د وحدت لپاره د اسلام دين اصلي عامل ګانه. ژبنيو توپيرونو، ټولنيزو

ځانګړتیاوو، فرهنګي میراث او اقتصادي شرایطو مسئلې رامنځ ته کړې. ددغه هېواد دوو لویو ډلو تر اتلس کلونو پورې هڅه وکړه چې یو ځای ژوند سره وکړي او ګټور اتحاد رامنځ ته کړي. خو همدې موخې ته ونه رسېدل.

د لوېدیځ او ختیځ پاکستان فرقه ییزه اختلافات او سیالي د دولت د کمزورولو اصلي سرچینه وه چې د ژبنیو اختلاف ، په ځانګړې توګه په لوېدیځ کې او په ختیځ کې لږه صنعتي پرمختیا هغه څه وو چې د اختلافاتو لړۍ یې راخپرې کړې وې. په ختیځ پاکستان کې یو بل سیاسي سیال را پیدا شو. د ۱۹۶۸م. کال په دوبي کې مجیب الرحمن د عوامي لیګ (خلک ګوند) مشر د ۳۵ بنګالیانو په ګډون له پاکستان څخه د بېلوالي مسؤول وګڼل شو. دغه اختلاف دې ته ورسېد چې په ۱۹۷۱م. کال کې د ختیځ او لوېدیځ پاکستان ترمنځ کورنۍ جګړه پیل شوه.

تر یوه خونړۍ جګړې وروسته، ختیځې برخې له مرکزي دولت سره خپلې اړیکې پرې کړې او د بنګله دېش په نامه یو بل هېواد رامنځ ته شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر درېو بېلابېلو ډلو ووېشل شي، لومړنۍ ډله دې د هند په نیمه وچه کې د رهبرانو او ملي شخصیتونو د نقش او د پاکستان د خپلواکۍ په هکله او دویمه ډله دې د پاکستان پر تېر تاریخ او درېمه ډله دې له پاکستان څخه د بنګله دیش د جلاوالي په هکله یو له بله څخه پوښتنې وکړي.

پوښتنې

۱- مسلمانان کوم وخت د هند په نیمه وچه کې استوګن شول؟
۲- د مسلم لیګ ګوند په کوم کال کې جوړ شو؟
۳- پاکستان په کوم کال کې او څرنګه منځ ته راغی؟
٤- بنګله دېش ولې له پاکستان څخه بېل شو؟
٥- بنګه دېش په کوم کال کې د خپلواکۍ اعلان وکړ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د مشرانو, فرهنګي شخصیتونو او منابعو په مرسته د نه تاوتریخوالي د نهضت په اړه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې وویایي.

د ايران اسلامي جمهوريت



په تېرو درسونو کې تاسې د ايران د موقعيت، ژېې او نفوس په اړه معلومات ترلاسه کړي وو، په دې لوست کې به د پهلوي دورې د قدرت، مهمو پېښو او د اسلامي انقلاب د لاملونو په هکله معلومات وړاندې شي.

اقتصادي، سياسي، فرهنګي او ټولنيز حالات د قاجاري دورې په پايله کې مخ په خرابېدو وو چې د يو لړ بدلونونو لپاره په ايران کې يې لاره پرانيستله. په ايران کې د وروستنيو کلونو پېښې له دوو خواوو، کورني او بهرني حالاتو څخه اغېزمن و په بهرني برخه کې بايد وويل شي چې استعماري هېوادونو لکه د روس او انګليس اغېزه او په قاجاريه دوره کې د ايران د اقتصادي توان په کمزورۍ کې مهم رول درلود. له اروپايي هېوادونو سره د ايران اقتصادي اړيکې له صفوي دورې پيل شوې وې او نسبي انډول يې درلود، خو د قاجاريانو د دورې په وروستيو وختونو کې دغه انډول د اروپايي هېوادونو په ګټه او د ايران په زيان تمام شو. د ايران کورني محصولاتو له بهرنيو توليداتو سره سيالي نه شوه کولای، نو ځکه کورني توليدات مخ په ښکته روان شول او ځای يې بهرنيو توليداتو ونيو. د ايران په مختلفو ښارونو کې د صنايعو او کسبونو خاوندانو په کرار کرار خپلې دندې له لاسه ورکړې، اوزګار شول او ښکېلتيا خپل ځای بېکارۍ او بېوزلۍ ته پرېښود.

عدالت غوښتونکو استبدادي ضد جنبشونو په ايران کې او ورسره د اسلامی تعليماتو يوې برخې د خپلواکۍ تر لاسه کولو او د عدالت د راستولو لپاره اغېزمن نقش ولوباوه چې د مطلقې واکمنۍ، استبداد، ظلم او ناروا او د ځان غوښتونکو واکمنانو پر ضد خلک يې مبارزې ته رابلل چې کولای شو دغه اغېزې

په قاجاریه دوره کې د مشروطیت په نهضت کې ووینو. نړیوالو پېښو او واقعاتو هم پر سیاسي او ټولنیزو بدلونونو اغېزې وکړې، د لومړۍ نړېوا لې جګړې څخه یو کال مخکې احمد شاه قاجار چې ځوان شوی و، ناصر الملک یې د سلطنت له مرستیالۍ لرې کړ او د ملي شورا د مجلس جوړونې لپاره یې د ټاکنو امر صادر کړ، خو یو کال وروسته د لومړۍ نړېوالې جګړې په پیل سره د پردیو د تېرېدو د ډېرېدو له امله مجلس وځنډېد. ایران له ناپېیلتوب سره سره، د پردیو له تېریو او د جګړې د ناوړه پایلو سره مخامخ شو.

پهلوي دوره

تر لومړۍ نړېوالې جګړې وروسته په ایران کې سیاسي، اقتصادي او اداري ګډوډۍ، په روسیه کې د سوسیالیستي نظام راتګ او ګاونډیو هېوادونو ته یې د خپراوي شتون او په ایران کې د حاکمه وضعې څخه د بېلابېلو پاڅونو رامنځ ته کېدل او د ملت سرتاسري ناخوښي، د هېواد په شاو خوا کې، د سوداګریز لارو بندیزونه او له احمد شاه قاجار څخه د ملي او هېواد پالو محافلو ناهیلي او نا خوښي هغه څه وو چې د کب د میاشتې د درېمې نېټې د کودتاه لپاره یې لاره برابره کړه، د کودتا مشر رضا خان وو.


رضاشاه

نوموړي د تهران له نیولو وروسته هغه د سید ضیاالدین طباطبائي په مشرۍ مستقله کابینه جوړه کړه او لږ وروسته رضاخان د دفاع وزیر شو. ضیاالدین له ایران څخه تبعید شو او وروسته د قوام السلطنه په کابینه کې د دفاع د وزارت چارې او د ایران د پوځي قواوو مشري هم د رضاخان په لاس کې پاتې شوه. په داسي وضعیت کې په سیاسي غونډو، ناستو او مطبوعاتو کې د احمدشاه قاجار پرضد د مخالفت خبرې پیل شوې.

د رضاشاه د قدرت وړ خدمتونه، پوځي ځواکمنتیا، ښه سیاست او قاطع تدبیر د دې لامل شو چې قاجاري سلطنت راو پرزوي. رضاخان د شاه په غیاب کې چې په اروپا کې اوسېده، خپله ځواکمني ورځ په ورځ ټینګوله او همدارنګه یې دا هڅه کوله چې په پراخو تبلیغاتو سره دا وښیي چې احمد شاه د هېواد د برخلیک په اړه کومه پروا نه لري.

په پایله کې د ملي شورا مجلس د ۱۳۰٤ لمریز کال د لړم په میاشت کې د قاجاري سلطنت ړنګېدل او موقت حکومت یې د پوځ د مشر رضا شاه تر مشرۍ لاندې اعلان کړ. د ملي شورا د غوښتنې سره سم د همداغه کا ل د لیندۍ په میاشت کې د مؤسیسان مجلس جوړ کړ او نوموړي مجلس سلطنت رضاشاه پهلوي ته تفویض کړ او د قانون هغه مواد چې سلطنت یې د قاجاریه کورنۍ مختص ګاڼه لغوه او پرنوي موادو کې سلطنت د پهلوي کورنۍ ته ځانګړې کړ.

دویمه نړیواله جګړه چې له ۱۹۳۹ – ۱۹٤٥م. کال پورې یې دوام وکړ، د ۱۳۲۰لمریز کال د سمبلې میاشتې په ۲۵ مه د شوروي اتحاد او انګلسي قواوو له څو لوریو په ایران یرغل وکړ.

رضا خان په همدې میاشت کې سلطنت پربښود او د هېواد چارې يې خپل مشر زوي او دسلطنت ولیعهد ته وسپارلې او پخپله سویلي افریقې ته لاړ. نوموړي له هېواد څخه بهر له دوه کاله، لس میاشتو او نهه ورځو وروسته د زړه د درېدو له امله وفات شو.

رضا خان د خپل سلطنت د واکمنۍ پر مهال يې مهمې چارې سرته ورسولې: د منظم پوځ جوړول، د محاکمو د جوړښت نوي کول، د مدني او جزايي قوانینو د مجموعې تدوین، د وګړو د شمېرنې د اداري جوړول، د پېژندنې کارتونه یا تذکرې، د املاکو د اداري رامنځ ته کول ، د سرتاسری ریل ګاډي پټلۍ جوړول، د ملي بانک جوړول، د روپو چاپول، د ګمرکي تعرفو وضع کول، د ښارونو جوړول، د فرهنګ پراخول، د شرکتونو رامنځ ته کول، د پوهنتون جوړول، د ټولنیزو اصلاحاتو رامنځ ته کول او ولایتونو ته د هغو تعمیمول.


محمد رضا شاه پهلوي

محمد رضا شاه پهلوي د رضا شاه پهلوي زوی او د پهلوي کورنۍ دویم پاچا و. هغه د ۱۲۹۸المریز کال د لړم په میاشت کې په تهران کې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې يې په پوځي ښوونځي کې او لوړې زده کړې يې په سویس کې بشپړې کړې. د ۱۳۲۰المریز کا ل د وړې (سنبلې) په میاشت کې په ایران باندې د پخوانۍ شوروي اتحاد او انګلیسانو د حملې له امله رضا شاه سلطنت پربښود او محمد رضا شاه چې د سلطنت ولیعهد و، د سلطنت واک يې تر لاسه کړ. د وړې په ۲۵ مه يې د شورا په مجلس کې د وفادارۍ لوړه وکړه. په دې توګه په داسې تورو ورځو کې چې له یوې خوا نړېوالې جګړې نړۍ نیولې وه او له بله لورې د ایران هېواد د روس او انګلیس تر اشغال لاندې و، سلطنت ته ورسېد. د محمد رضا شاه د سلطنت د لومړنیو کلونو ورځې ډېرې بدې وې، ځکه چې د هېواد خپلواکي له ګواښ سره مخامخ وه او هم يې د ځینو برخو د تجزیې لپاره دسیسې جوړېدلې، د تهران د کنفرانس د اعلامیې په خپرولو سره چې د انګلیس، روس او امریکا مشرانو په کې ګډون درلود، تر یو حده دا پلان له منځه لاړ، چې له امله يې تر دویمې نړېوالې جګړې وروسته اشغالي قواو ایران پربښود. د محمد رضاشاه د سلطنت له مهمو کارونو څخه یو هم د ایران د نفتو ملي کول دي، چې د ډاکټر محمد مصدق په مشرۍ تر سره شو.


محمد رضا شاه پهلوی

د محمد رضا شاه د حکمرانۍ د دورې له مهمو کارونو څخه دا دي چې ایران يې د ملګرو ملتونو د ټولنې سره یو ځای کړ، د تهران د تاریخي کنفرانس جوړول چې له امله يې د ایران ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکي تر لاسه شوه، د بغداد په نظامي تړون (سنتو) کې د ایران داخلېدل، د لومړي ځل لپاره د تلویزیون د دستګاه رامنځ ته کول، د مرکزي بانک جوړول ، د نالوستۍ پر وړاندې مبارزه، د سنا او شورا په مجلسونو کې د

ښځو د انتخاب حق، د لويو سړکونو جوړول، د سياسي ګوندونو رامنځ ته کول، د موټر جوړولو کارخانې، د اورګاډو نوې پټلۍ، د ايران او روس تر منځ د ګاز د نل ليکې غځول، د نړۍ له هېوادونو سره د سياسي اړيکو ټينګول، د نفتي فابريکو جوړول، له عراق سره د اوبو د سرحدونو ټاکل، د فرانسې او آلمان په مرسته د هستوي انرژۍ د مرکز جوړول هغه څه دي چې يادولی يې شو.


آيت الله سيد روح الله خميني

محمد رضا شاه د ۱۳۵۷ لمريز کال د مرغومي په مياشت کې د ايران د اسلامي انقلاب او پاڅون له امله د خپلې کورنۍ له ټولو غړو سره مصر ته ولاړ او تر ۱۸ مياشتو سرګردانۍ وروسته په ۱۳۵۹ کال کې د سرطان د ناروغۍ له امله په مصر کې مړ او هوريې خاورو ته وسپارل شو.

د ايران اوضاع له ۱۳۵۶ لمريز کاله را وروسته له ډېرو چټکو بدلونونو سره مخ شو او هغه نهضت چې امام خميني له ۱۳۴۱ لمريز کال څخه پيل کړی و، پراخې کچې ته ورسېد او په انقلاب واوښت چې په پايله کې د ۱۳۵۷ لمريز کا ل د سلواغې د مياشتې په ۲۲ مه نېټه بريالیتوب ته ورسېد. مصر ته د شاه له تېښتې څخه وروسته هغه نظام چې ۳۷ کاله پر هېواد حاکم و، له منځه ولاړ.

په پای کې د سلواغې د مياشتې په دولسمه امام خميني ايران ته راوګرځېد او خلکو يې تود هر کلی وکړ. نوی دولت په ۱۳۵۷/۱۱/۱۵ نېټه د امام خميني په حکم د مهندس بازرګان په صدارت رسميت پيدا کړ، بازرګان ته دنده ورکړل شوه چې سربېره د هېواد پر اداره کولو ددې لپاره چې سياسي نظام په اسلامي جمهوريت بدل شي، ټول پوښتنه وکړي او په دې توګه د ايران د تاريخ نوی څېرکی پيل شو.

په ټولګي کې فعاليتونه

زده کوونکي دې په ټولګي کې پر دوو ډلو وويشل شي، لومړنۍ ډله دې د قاجاري حکومت د سقوط د لاملونو او دويمه ډله دې د پهلوي کورنۍ په برخه کې يو له بل خبرې اترې وکړي.

پوښتنې

۱- د محمدشاه قاجار د سلطنت د رېنګېدو لاملونه په ګوته کړئ.
۲- د رضاشاه د سلطنت مهمې پېښې په ګوته کړئ.
۳- د محمد رضاشاه د سلطنت د رېنګېدو لاملونه کوم و؟
٤- د ايران اسلامي انقلاب په کوم کال او د چا تر مشرۍ لاندې بريالی شو؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليتونه

زده کوونکي دې د ښوونکو او منابعو په مرسته د دويمې نړيوالې جګړې د لاملونو او پر ايران باندې د هغه د اغېزو په اړه معلومات تر لاسه کړي.

د چين د خلکو جمهوريت




په تېرو درسونو کې تاسې د چين د نفوس او ملي لړه کيو په برخه کې آشنايي تر لاسه کړې وه، په دې لوست کې د چين د تاريخي سوابقو او همدارنګه د ۱۹۴۹ ميلادي کال د پېښو په هکله به معلومات وړاندې شي.

له دې کبله چې چين د درېوو لويو وچو اروپا ، آسيا او افريقا د تقاطع په محل کې موقعيت لري، نو په سيمه کې نړېوال او د لوبو قدرتونو په منځ کې له ستراتېژيک اهميت څخه برخمند دی. چين په شمالي نيمه کره، د آسيا په ختيځه برخه او د آرام سمندر په لوېديځ ساحل کې پروت دی چې د ۹،۶ ميليونه کيلومتره مربع مساحت په لرلو د نړۍ دريم لوی هېواد دی.

د چين د خلکو د جمهوريت پلازمېنه د پيکن(بی جينګ) ښار دی، چې له ډېرو پخوانيو مرکزونو څخه ګڼل کېږي او تاريخي سابقه يې ۳۰۰۰ کاله مخکې ته رسېږي. ياد شوی ښار ۱۰۰۰ کاله مخکې جوړ شوی او اوه پېړۍ پخوا قوبلای خان (بېجينګ) خپل دايمي پايتخت وټاکه او تر اوسه پرته له ۱۹۲۸-۱۹۴۹م. کلونو ګومين تانګ چې پايتخت يې نن جينګ ته انتقا ل کړ، بېجينګ د چين پلازمېنه ده.

د چين ډېرى اوسېدونکي د خان (هان) له نژاده څخه دي، چې د مختلفو پېړيو را په دېخوا په همدې ځای کې اوسيدلي دي، د بني اميه د حکومت پر مهال د منځني ختيځ او له سند څخه د مديترانې تر سويل او د افريقې تر شماله پورې سيمې د اسلام تر واحد بيرغ لاندې راغلې، خو څرنګه چې هغه وخت د اسلامي نړۍ په ځينو ځايونو کې کورنۍ جګړې رامنځ ته شوې، نو له چين سره د اړيکو د پراختيا په برخه کې پر مختګ ونشو.

د عباسي امیرانو په مهال په ځانګړې توګه هغه وخت چې د خلافت مرکز له دمشق څخه بغداد ته یو وړل شو، د اتمې میلادي پېړۍ په نیمایي کې، د تزیني شیانو د غوښتنې له کبله ددې اړتیا پیدا شوه چې د سیمې د هېوادونو په سوداګرۍ کې په ځانګړې توګه له چین سره د مرکزي آسیا د هېوادونو د ځمکې له لارې نوی والی راشي. خو د فارس خلیج، د عربستان له سویل، د افریقا له ختیځ، هند، د آسیا له سویل ختیځ تر چین پورې د اوبو له لارې راکړه ورکړه د ډېر اهمیت څخه برخمنه وه. په دې دوره کې یو قوي مرکزي دولت پراسلامي نړۍ حکومت کاوه او له چین سره د پراخو سوداګریزو اړیکو مدافع و. په چین کې هم د تانګ سلسله د سوداګریزې لارې د امنیت ضمانت کړی و.


سون یات سن

له شپاړلسمې میلادي پېړۍ څخه وروسته پرتګالیانو او هالنډیانو کله چې هرمز په ایران، ګوا په هند او د چین په جنوب کې د ماکائو پر بحري او سوداګریزو لارو تسلط ومونډ، نو د چین اړیکي د ختیځ آسیا له نورو هېوادونو سره سمې کمزورې شوې.

د دیارلسمې میلادي پېړۍ په لومړیو کې د مغلو د یرغل له امله تر چینه پورې د سیمې هېوادونه او هم د منځني ختیځ سیمې په ورته برخلیک اخته شوې. په ۱۲۳۰ میلادي کې اوکتای قا آن له خپلو دوو وروڼو جغتای او تولي او له خپلو زامنو سره د هوانګ هو د جلګې پر لوري حرکت وکړ او تر ۱۲۳٤ میلادي کال پورې یې د کای فنګ ښار ونیو.

په معاصرو پېړیو کې د منچو دولت خپل سوداګري د انګلیس سره محدود او تر څارنې لاندې ونیوله او د سوداګرۍ د اړیکو دکره کتنې غوښتونکي شول. انګلیسانو هڅه کوله چې د هند له لارې د نړۍ سره خپلې سوداګریزې اړیکې وساتي. د انګلیسانو اساسي موخې د چین سره د تریاکو سوداګري وه چې دغو اړیکو ناوړه پایلې درلودې چې د تریاکو د جګړې ۱۸۴۱- ۱۸۶۰میلادي لامل وګرځېده.

په شلمه میلادي پېړۍ کې لومړۍ د امپراتورۍ حکومتونه او وروسته د چین ملي جمهوریت منځ ته راغی. ډاکتر سون یات سن چې د چین د مدرن پلار په نامه مشهوردی، د ۱۹۱۱ میلادي کال د انقلاب مشر د چین لومړنی جمهور رئیس هم و چې ګومین تانګ دګوند مشري تر ۱۹۲۱میلادي کاله پورې پر غاړه وه.

د ۱۹۴۹ میلادي کال انقلاب

د ۱۹۲۸ میلادي کال په پسرلي کې د مائو په مشرۍ هغه پاتې شونې ماتې خوړونکي بلواګران (فضل خزان) او هغو پوځیانو چې د نانچانګ په ګډوډیو کې یې برخه اخیستې وه، ژوندي پاتې شوي وو، د جوده په قوماندې یو له بله سره یو ځای شول. د دغه ناکامه ګډوډي، د دواړو مشرانو کتنه د کمونېست

گوند قواوې له منځه وړلو څخه وژغورلې او دا پربکړه يې وکړه چې پاتې قواوې د چين په سره پوځ کې تنظيم کړي او لومړنۍ هډه چې کمونېست گوند د چين د سره پوځ د ټينگښت لپاره جوړه کړه (چنگ کانگ شن) وه. همدارنگه مائو د ۱۹۳۱ ميلادي کال په وروستيو کې د چين لومړنۍ شورايي جمهوري د گيانگسي په سيمه کې اعلان کړ. د دويم نړېوال جنگ په پای کې په عملي توگه دوه چينه شتون درلود. يو هغه قلمرو و، چې د گومېندان تر نظارت لاندې و او بل هغه آزادي سيمې وې چې د چين کمونېست گوند رهبري کولې. گومېندان سره د امريکې د متحده ايالاتو له خوا د وسلې او مهماتو، د پوځيانو د زده کړې او لېږد يې خټيځو برخو ته د ارتباطي لارو جوړونه او ساتنه، نظامي او ډيپلوماتيک ملاتړ کېده. د چين ډېموکراټيک قواوې له پوځي، اقتصادي اړيکو له پلوه د چانکای شيک رژيم په پرتله وروسته پاتې و، خو د خلکو ملاتړ او ملگرتيا يې لرله.


مائو

د چين کمونېست گوند د مقاومت لپاره اغېزمنه تياري نيولې وه. په اقتصادي برخه کې د ۱۹٤٦م. د مې د مياشتې د ٤ مې نېټې په مصوبه کې د چين د کمونېست گوند مرکزي کمېټې دا پټېلې وه چې د لويو ملاکانو ځمکې مصادره کړي. ددې تر څنگ يې د پوځي احضاراتو او جلب لپاره تدابير نيولي وو. کمونېست گوند وتوانېد چې د مختلفو مبارزو او نظامي لارې خلک د گومېندان د حملو پر وړاندې چمتو کړي.

د ۱۹٤۸م. کال په اوړي او مني کې آزادي غوښتونکي پوځ په کلکو او بريالیو عملياتو لاس پورې کړ. د گومېندان پوځيان د چين په شمال ختيځ ښارونو کې محاصره او د ماتې سره مخامخ شول، د چين ډېره مهمه صنعتي سيمه چې د فلزاتو د ويلې کېدو کار خانې، د ډبرو د سکرو د راېستلو، ماشين جوړونې، د انرژۍ يا د لېږد رالېږد پرمختللې شبکې پکې وې کمونېستي قواوو ونيولې.

د ۱۹٤۸م. کال په پای کې کمونېست گوند پر ټول شمالي او شمال ختيځ چين واکمن شو. همدارنگه په ۱۹٤۹ ميلادي کال کې بېجېنگ پرته له مقاومته سقوط وکړ او د کمونېست گوند قواوو لاسته ولوېد او د هماغه کال د نوامبر او اپريل د مياشتو ترمنځ د چين ښارونه بې له وينې توېونې د کمونېستانو لاسونو ته ولوېدل. چيکا يېچېنگ د خپلو پوځيانو له کوچنۍ ډلې سره تايوان ته تېښته وکړه. د پيکن تر نيولو او د چانکای شيک د قواو تر ماتولو وروسته کمونېست گوند بشپړ بريالتوب ته ورسېد او مائو د ۱۹٤۹م. کال د اکتوبر د مياشتې په لومړۍ ورځ د پکن د سولې په ميدان کې د چين د خلکو جمهوريت اعلام کړ.

څرنگه چې د چين بهرنی سياست له ۱۹٤۹م. کال څخه وروسته د مائو پر عقايد ولاړ و، نو د هغه افکارو او غبرگونونو پر بهرنيو او کورنيو مسائلو بشپړ اغېز درلود، ځکه نو د هغه هېواد بهرني سياست

د ۵۰ مې لسیزې څخه وروسته د چین پر کورنۍ لوړو ژورو او نړېوالو پېښو کې اغېز درلود.
مائو د انقلابي جګړو پر وخت او د قدرت د لاس ته راوړنې مخکې او وروسته هېڅ کله له یوې ثابتې الګو د خپل د سیاستونو د اجراکولو لپاره کار نه اخیسته، بلکې د چین د اقتصادي، سیاسي، پوځي او فني او نړېوالې اوضاع او ستراتېژیکي اصولو په پام کې نیولو سره به یې له انعطاف څخه کار اخیسته.
له ۱۹۸۰م. کلونو را په دې خوا د چین سیاستونو د سیمې له هېوادونو او نړۍ سره د پام وړ وده وکړه او له دې امله چین د منطقې په سیاستونو کې د پام وړ ارزښت لري چې په اوس وخت کې په سیمه کې د چین فعاله سیاسي ونډه ډېر د اهمیت وړ ده. پخوا چین په نړېوالو اړیکو او په ځانګړې توګه د مرستو په برخه کې اعتقادي (ایډیالوژیکه) بڼه درلوده او د بېجېنګ له پالیسۍ سره سم د سوسیالیزم او د استعماري ضد نهضتونو په پراختیا کې چې د نړۍ په مختلفو ځایونو کې تر سره کېدل له ۸۰ لسیزې راپدې خوا د دې په کچه او اندازې کې بدلون راغې.
د چین نوی سیاست او پالیسي اوس د نړېوالو مناسباتو د برابرۍ، متقابلې ګټې، د همکاریو په شکلونو کې د نوښت او د عملي او ښو پایلو پر اساس ولاړه ده. ددې سیاست موخه داده چې چین په نړېواله ټولنه کې اغېزمن او لوی نقش ولري. د پرانیستو دروازو د سیاست په رامنځ ته کولو او له نړۍ سره د سیاسي او اقتصادي مناسباتو په پراخولو سره چین د نړۍ د پرمختللو هېوادنو لکه جاپان، امریکا او لوېدیځې اروپا په کتار کې درېدلی دی. او نن ورځ په نړۍ کې د صنعتي هېوادونو او مطرحه قدرتونو له ډلې څخه ګڼل کېږي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په جلا ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د چین د سوابقو، دویمه ډله دې د مائو د شخصیت په برخه کې یو له بله پوښتنې وکړي.


پوښتنې

۱- د چین هېواد چېرې موقعیت لري او د هغه د تاریخي لرغونتوب په اړه څه معلومات لرئ؟
۲- جمهوري نظام په چین کې څه و خت جوړ، او لومړنی جمهور رئیس یې څوک و؟
۳- د چین د کمونیست ګوند د بریالیتوب لاملونه څه وو؟
٤- د دویمې نړېوالې جګړې وروسته په چین کې له اقتصادي، سیاسي او ټولنیز پلوه څه بدلون راغلی؟
۵- له اتیایمې لسیزې وروسته د چین بدلونونه څرنګه ارزوئ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د فرهنګي شخصیتونو او منابعو په مرسته په چین کې د ۱۹٤۹ میلادي کا ل د انقلاب د لاملونو په اړه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې و وایي.

تاجکستان



تاجکستان د افغانستان یو ګاونډی هېواد دی، د نهم ټولګي په درسونو کې تاسې د هغوی د ژبې، نفوسو او په تاجکستان کې د مېشتو قومونو په اړه معلومات ترلاسه کړل، په اوسني لوست کې تاسې ته د نژادي ریښې، تاریخي سابقې او د هغه ځای د کلتوري حالت په هکله معلومات درکول کېږي.

د افغانستان په شمال کې یوه حاصلخېزه سیمه پرته ده چې دېر عالمان او پوهان په دي باور دي چې آریایي نژاد خپلې د ژوندانه لومړنۍ ورځې او شپې د هندوکش د غرونو په لمن کې د جیحون او سیحون د رودونو پر غاړو تېرې کړي دي. د آریاییانو په پخواني کتاب کې د داسې ځمکې یادونه شوې چې آب او هوا یې د ځمکې پرمخ د خلد په نوم یادېده او زمونږ نیکونه هورې لوی شوي دي او په پوره ډاډ سره ویلای شو چې له هغې ځمکې څخه موخه همدا د جیحون او سیحون زېړه وړونکي سیمه ده.

د هنري فیلډ د وینا له مخې (تاجکان مشهور خلک دي چې د ختیځ په ټوله سیمو کې خواره واره دي، نه یوازې په ایران او پاکستان کې، بلکې د ماورالنهر په ښارونو او په هغو هېوادونو کې چې د تاتاریانو تر ولکې لاندې دي، اوسېږي او د هغوی د ځینو د ویناوو له مخې د چین تر سرحدونو یا

لږ تر لږه تر تيبت پورې خپاره شوي دي.)

د پام وړ شمېر تاجکان په ازبکستان او قرغزستان کې اوسېږي، تاجکان د آریایانو له پخواني نژاده دي، دوی د ترکانو تر را ځرګندېدو دمخه د مرکزي آسیا د ډېر پخواني تمدن ښکارندوی دي.

سکندر د میلادي ځلورمې پېړۍ دمخه د تاجکانو خاوره ونیوله او د هغه ځای د خلکو تر مطیع کولو وروسته یې هوري له یونانیانو او مقدونیانو څخه یو لښکر کوټ جوړ کړ چې ۳۰ زره کسه یې هلته مېشت شول او د هغه ځای د خلکو سره یو ځای شول.

له میلاد څخه دوه پېړۍ مخکې سکاهانو د یونانیانو ځای ونیو. له ۳۹-۲۷ د میلاد څخه مخکې کلونو کې ګوای شانګ (کوشان) دیو چیو نور قبایل ونیول او د کوشانیانو امپراطوري یې جوړه کړه چې ویې کړای شول چې په مرکزي آسیا ۲۰۰ کاله حکومت وکړي. د کوشانیانو امپراطوري د درېیمې پېړۍ په پای کې کمزوري شوه او یو بل قوم چې رومیانو هغوی (افتالیت) یا سپین هونان یا اهیاطله بلل، رامنځ ته شول.



امام علی رحمان

تاجیکان اکثراً له نژادي پلوه سپین نژاد پورې اړه لري او کله کله کولای شو چې د مغلو ځانګړنې په کې وګورو، علت یې دا دی چې هغوی او ترکانو یو له بله سره وده کړې ده.

د ترکي مهاجرینو پر له پسې یرغلو دا سیمه داسې ترکي کړه چې په ۱۳ مه میلادي پېړۍ کې یې مغل یرغلګر په ځان کې مخلوط او هغوی یې تر خپل اغېز لاندې راوستل.

د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې چې د وخت په تېرېدو سره د روسیې د ځمکې پراخولو لړۍ سویل لوري افغانستان خواته پیل شوه، د تاجکانو ستر مرکزونه لکه اورا، توبه او خجند له روسیې سره

وټرل شول. د تاجکستان شمالي برخه د روسانو په قلمرو او سويلي برخه يې د بخارا د امير تر فرمان لاندې راغله. په ۱۹۱۸ ميلادي کال کې د شوروي د حکومت منګولې د مرکزي آسيا په مخکينيو نيول شويو سيمو کې ټينګې شوې، د همدې کال په اوږدو کې د تاجکستان شمالي برخه د خود مختار شوروي ترکستان يوه برخه شوه او په ۱۹۲۱ ميلادي کې سرې قواوې د بخارا شرقي برخو ته ورغلې او د دوشنبې ښار يې ونيو.

د ۱۹۲٤م. کال د منځني آسيا د جمهوريتونو د پولو ټاکلو په وخت کې د تاجک شورايي جمهوريت د ازبکستان جمهوري يو برخه شوه. په ۱۹۲۹م. کال کې د دوشنبې ښار د ستالين آباد او په ۱۹٦۱ کې بېرته د دوشنبې په نامه ونومول شو او هم د ۱۹۲٤ کال د سرحدي ټاکنې په اساس ځينې ښارونه لکه سمرقند، بخارا، سرخان دريا، قشقادريا، د فرغانې سيمې له تاجکستان څخه بېلې شوې او د سرحدي ټاکنې له هماغه نېټې څخه په کې تر اوسه کوم بدلون نه دی راغلی.

د شوروي اتحاد تر رنګېدو وروسته په ۱۹۹۱م. کال، کې تاجکستان خپله سياسي خپلواکي اعلان کړه او د ملګرو ملتونو د ټولنې او ځينو نورو نړيوالو ادارو غړيتوب يې ترلاسه کړ.

توضيح

دوه لوبې کورنۍ لکه صفاريان او سامانيانو پر تاجکستان حکومت کړی دی او د پېړيو په اوږدو کې د شاعرانو او فضلاو د زړه ورونکي مرکز حيثيت درلود. رودکي سمرقندي، کمال خجندی، رشيد سمرقندی، خواجه عبدالمالک عصاری سمرقندی اوسيفی بخاری د دغو شاعرانو او فضلا څخه وو.

سمر قند او بخارا لکه بلخ د خپل وخت د علومو او فنونو له مرکزونو څخه شمېرل کېږي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د تاجکستان د قومونو او دویمه ډله دې په تاجکانو باندې د روسانو د یر غل په اړه یو له بل سره مباحثه وکړي.

پوښتنې

۱- د تاجکستان اوسېدونکي په کوم نژاد پورې اړه لري؟

۲- تاجکستان په کوم کال کې د شوروي ترکستان خود مختاره جمهوري یو برخه وګرځېده؟

۳- تاجکستان په کوم کال کې خپله سیاسي خپلواکي تر لاسه کړه؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکو او منابعو په مرسته په تاجکستان کې د اسلام د خپرېدو په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وویي.

ازبکستان



ازبکستان د اسلامي کلتور او تمدن له لويو مرکزونو څخه ګڼل کېږي. په دې لوست کې تاسې د ازبکستان د موقعيت، اقتصاد، کلتور او لنډ تاريخ سره بلدېږئ.

ازبکستان داسې هېواد دی چې په مرکزي آسيا کې د دوو سيندونو آمو او سير دريا ترمنځ پروت دی، په دغه هېواد کې ۷۱٪ خلک ازبک دي، په ازبکستان کې نور لږه کي، لکه روسان، تاجکان، قزاقان او تاتار هم اوسېږي. په سلو کې ۶۳ خلک په کليو او بانډو کې ژوند تيروي ، رسمي ژبه يې ازبکي او روسي ده. په ازبکستان کې تر ميلاد څخه دمخه انسانان اوسېدل، تر ميلادي شپږمې پېړۍ د مخه د دې هېواد ډېره خاوره د هخامنشيانو د قلمرو يو برخه وه.

په(۳۲۹مخکې د ميلاد) کې مقدوني سکندر، سمرقند او اوسني ازبکستان د باختري يونان يوه برخه وګرځوله.

د شپږمې ميلادي پېړۍ په نيمايي کې د ترکي خانانو تر ولکې لاندې راغی.

عربانو د اوومې ميلادي پېړۍ په دويمې نيمايي کې د مرکزي آسيا مهمې برخې ونيولې. قتيبه بن مسلم

د خراسان عربي والي ته دنده ورکړل شوه چې ماورالنهر په بشپړه توګه فتح کړي. هغه په شلو کلونو کې د چین او کاشغر تر پولو نژدې او په شمال کې تر تاشکند پورې لښکرې راورسولې او په پاي کې يې سمرقند، تاشکند او فرغانه ونيوله.



دطلا کاري جومات

د اسلام په ظهور او خپرېدلو سره په لسمه ميلادي پيړۍ کې د ازبکستان اوسنۍ سيمه د سامانيانو د قلمرو يوه برخه شوه او د وخت په تېرېدو سره پرې غزنويانو، سلجوقيانو، خوارزمشاهيانو، مغلانو او تيموريانو حکومت کاوه.

مغولو د خپلو يرغلو په ترڅ کې د منځنۍ آسيا لويې برخې ونيولې، خو په تدريج او د مغلو د واکمنۍ په منځ ته راتګ، په ځانګړې توګه د تيمور له واکمنۍ څخه وروسته چې سمرقند يې د خپلې امپراتورۍ پلازمېنه وټاکله، ازبکانو د لومړي ځل لپاره د يوه قوم په توګه را څرګند شول.



اسلام کريموف

ازبکانو خپل نوم له ازبک خان څخه ۱۲۸۲-۱۳٤۲م. کال چې د اسلام په دين مشرف شوي و، اقتباس کړ، همدارنګه ابواخير خان (۱٤۱۲)م. کال د شيبان ځوان ځايناستې د جوجي زوي په مرکزي آسيا کې د ازبکو د قدرت بنسټ کېښود.

د ازبکستان ۸۵ سلنه خلک مسلمانان او حنفي مذهبه دي، د يو شمېر تېرېو سره سره په اسلامي سنتونو او ارزښتونو ولاړ او پابند دي، په دې هېواد کې اسلامي ارزښتونه لکه: نکاح، تدفين،

خاوروته د مړي سپارل، د هلکانو سنتول، قرباني، د قرآن مجید تلاوت، د جوماتونو جوړول او د صدقو ورکول رعایت کېږي.

د ازبکستان د خلکو ملي ترکیب د ۱۹ مې پېړۍ له نیمایي او د شلمې پېړۍ له پیل څخه بدلون موندلی دی. د روسیې په وسیله د منځنۍ آسیا له اشغال وروسته، دې سیمې ته د ډېرو روسانو ورلېږل، په ځانګړې توګه د ۱۹۱۷ میلادي کا ل د (اکتوبر انقلاب) څخه وروسته د روسیې، قفقاز او اوکراین بزګران او کارګران دې سیمې ته راوستل شول.

په پخواني شوروي اتحاد کې د ۱۹۹۱ میلادي کال چټکو بدلونونو د ازبکستان مشرتابه ته دا فرصت ورکړچې د یاد شوي کال د سپټمبر په لومړۍ نېټه ازبکستان د یوه خپلواک هېواد په توګه اعلان کړي. د ازبکستان کمونیست ګوند منحل اعلان شو او لومړنۍ ټولټاکنې تر سره شوې او اسلام کریموف د رایو په ګټلو سره د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو.

ازبکستان د خپلواکۍ تر اعلانولو وروسته د ملګرو ملتونو د ټولنې غړیتوب ترلاسه او په یو شمېر اقتصادي، نړېوالو او سیمه ییزو ټولنو کې داخل شو.

د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې ازبکستان د ډېرو ښو اقتصادي په تېره بیا د کرنې په برخه کې د ښو امکاناتو لرونکی هېواد دی. ازبکستان د مسو، د سکرو ډېرو او نفتو کانونه لري، د فولادو د صنعت په

توضیح

سمرقند او بخارا د اسلامي تمدن له مهمو او لویو مرکزونو نه ګنل کېږي. د اسلامي تمدن ډېرې نښې او آبدات هلته د یادګار په توګه پاتې دي، چې د بېلګې په توګه د شیردار مدرسې، طلاکاری مدرسې، د النع بېګ مدرسې، بي بي خانم جومات، د نمازګاه جومات، خانقاه د ګورګاني امیر تیمور مقبره، د خواجه عبدالله احرار مزار، رودکي مزار، د شاه اسماعیل سامانی مزار، د خواجه بهاوالدین نقشبند د آثارو مجموعه، مزارونو او آبدو نومونه یادولی شو.

تولید، غذایي توکو، منسوجاتو او پنبې په پرمختګ کې يې بریالیتوبونه په برخه شوي دي. کرنه ددې هېواد د اقتصاد مهمه برخه ګڼل کېږي چې په اقتصادي پرمختیا کې ۲۸ سلنه ونډه لري او ۳۵ سلنه وګړي په کې په کار بوخت دي ازبکستان په نړۍ کې د پنبې دویم صادروونکی هېواد دی.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وویشل شي لومړۍ ډله دي د ازبکستان د اسلامي ابداتو په اړه او دویمه ډله دي د مهمو صنایعو په اړه په خپل منځ کې مباحصه وکړي.

پوښتنې

۱- د ازبکستان موقعیت په لنډه توګه توضیح کړئ.

۲- په ازبکستان کې کومې قومي ډلې ژوند کوي؟

۳- کومو سلسلو یا کورنیو په ازبکستان کې واکمني کړې ده؟

٤- د ازبکستان خلک په کومو ژبو خبرې کوي؟

٥- د ازبکستان د مهمو صنایعو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه د باندي فعالیت

زده کوونکي دې د ازبکستان نقشه رسم او د هغې پر مخ دې د ازبکستان ولایتونه، صنعتي ښارونه او ګاونډي هېوادونه په نښه کړي.

ترکمنستان



د ترکمنستان د هېواد نقشه

ترکمنستان په نړۍ کې د ګازو له سترو صادروونکو هېوادونو څخه دی.
د نهم ټولګي په تاریخ کې تاسې د ترکمنستان د موقعیت، نفوس او ژبې سره آشنا شوئ. په دې لوست کې تاسې د تاریخي پېښو، د ترکمنانو د اصل او نسب او د هغه ځای د فرهنګي او اقتصادي حالت په برخه کې تفصیلي معلومات حاصلوئ.

ترکمنستان یو لرغونی هېواد دی. چې د زرګونو کلونو د پخواني تمدن زانګو بلل کېږي او د ګوک تپه، نمازګاه تپه د مروښار، نساء قلعه او اورګنج غوندې لوی فرهنګي مرکزونه په کې شتون لري. د څېړې له مخې ترکمنان مغلو ته ورته دي. په نسبي توګه لوړ، د تورو وېښتو لرونکي او نري اندامه دي.

د لرغون پوهنې پلټنې ښيي چې ترکمنستان تېروخت په منطقه کې د نړۍ د ځارویو او د کرنیزو مرکزونو څخه یو مرکز و. د برونز په پېرکې ډېرو لویو تمدنونو له دې ځای څخه منشا اخیستې ده. د ترکمنستان د لرغونو تمدنونو څخه یو د ((الیتن اپ)) معماري ده چې د مینا او چاجاکلو تر مینځ موقعیت لري په دې ځای کې یوه مقبره شتون لري چې د معماری له پلوه د بابل آثارو ته ورته والی لري او همدا رنګه لرغون پوهانو ثابته کړې چې په دې سیمه کې لیک ژبه موجوده وه او خلک د عالي او لوړ فرهنګ څخه برخمن وو. چې ترکمنستان له تاریخ څخه مخکې د انسانانو د استوګنې ځای و. په ٦- ٤ ق- م پېړیو کې د هخامنشیانو د امپراطوری یوه برخه وه او وروسته د پارتانو لاس ته ولوېده.

د ترکمنانو د نژاد د ریښې په برخه کې مختلفې نظریې شته، خو هغه ځمکې چې ترکمنان په کې اوسي، له ډېرې زمانې څخه د انسانانو د استوګنې ځای او ډول ډول کلتورونو او تمدنونو په کې وده کړې ده.

ترکمنستان د خپل جغرافیوي موقعیت له مخې د وړښمو د لویې لارې په برخه کې مهم نقش لوبولی او د پېړیو په اوږدو کې د لوړیځ او ختیځ ترمنځ نښلوونکې کړۍ پاتې شوې ده. په پنځمه میلادي پېړۍ کې دا سیمه د هون او هپتالیانو د یرغل له امله او ساسانیانو د شانګ وروسته د هغوی لاسته ورغله. دا د لوی خراسان شمال ته د ترکي قومونو لومړنۍ نفوذ و.

په اوومه پېړۍ کې عربو پر خراسان د یرغل په ترڅ کې دا سیمه هم ونیوله، مرو د خراسان د عربو حکمرانانو پلازمېنه ګڼل کېده او پر ماورالنهر یې حملې له همدې ځایه کولې. مروې ته د مامون الرشید او امام رضا راتګ په تاریخ کې هم ثبت دی.

که څه هم دې سیمې او ماورالنهر ته د ترکانو لومړنی راتګ په پنځمه میلادي پېړۍ کې د هیاطله د هجوم پر وخت و، خو د غور یا اغوز د ترکانو یرغل د مغلوستان له پولو څخه په لسمه میلادي پېړۍ کې د دې سیمې د خلکو جمعیتي جوړښت درې وړې کړ، سلجوق خان دمسلمانو ترکو په مرسته وتوانېده چې پر سیحون خپله واکمني ټینګه کړي او د سلجوقیانو د کورنۍ بنسټ یې کېښود.

په څلورمه هجري پېړۍ کې مقدسي غربي تاریخ لیکونکی لومړنی کس و، چې د ترکمن په نوم طایفې څخه یې یادونه وکړه او پر دې ټکي یې ټینګار وکړ چې لومړني مسلمان ترکان وو، نو ځکه د (ترک ایمان) په نامه له هغوی څخه یادونه شوې ده.

د جوامع التواریخ د کتاب پر اساس د ترکمنانو نسبي سلسله داسې تنظیم شوې ده: بافث بن نوح، دیب یا قوي، قراخان او غوزخان، د ترکمنانو اصلي نیکه اورخان کرخان دی.

ترکمنستان د مرکزي آسیا د مختلفو قومونو د اوسېدو ځای دی، خو ډېر خلک یې ترکمنان دي او لاندې قبیلې په کې اوسېږي:

۱- عالي ایلي
۲- اتا
۳- چاودار
٤- امرای (یمرلي)
٥- ارساری
٦- ساکار (ساقار)
۷- سایور
۸- ناریق
۹- تکه اریموت
۱۰- گوکلان

څرنګه چې زیاترو ترکمنانو د تاریخ په اوږدو کې د څارویو



د ترکمنستان د پارلمان ودانۍ

د روزنې له لارې ژوند کړی، نو ددې لپاره چې دغه اقتصادي فعالیت فعال وساتي، نو په کلیو کې اوسېږي. د مغلو یرغل او د خوارزمشاهانو مادي وضع سخته خرابه کړی وه. د مرکزي آسیا ډېر ودان ښارونه ټول ویجاړ او د مغولو لاسونو ته ولوېدل. یاده شوې سیمه په دوو برخو چې شمالي برخه یې مغلو او د ازبیکو خانانو او جنوبي برخه یې ایلخانانو ونیوله.

له ۱۵- ۱۷م. پېړۍ څخه دا سیمه د شیبک خان ازبک تر ماتې وروسته صفویانو ونیوله، په ۱۸۵۰- ۱۸۷۳ میلادي کلونو کې د روسیې سیاسي تحریکاتو د ترکمنستان پراخه سیمه د بخارا، خیوې، فرغانې، خو قند او قازان په حکومتونو ووېشله، روسانو په یوه منظم ځنځیري حرکت سره بخارا، خیوه او فرغانه تر ولکې لاندې راوړل او په پای کې په ۱۸۸۱م. کال روسي جنرال اسکوبلوف پر اخا ل باندې د یرغل او د ګوک تپې قلعې په نیولو سره وتوانېد چې پر ترکمنانو بریالی او ترکمنستان اشغال کړي، د ترکمنستان لوېدیځه برخه په خپله خوښه د روسیې سره یو ځای شوه.

په روسیه کې د ۱۹۱۷ میلادي کا ل تر انقلاب وروسته ترکمنستان د شوروي ترکستان د جمهوریت یوه برخه شوه.

تر خپلواکۍ وروسته د ترکمنستان اقتصاد د نورو نویو جمهوریتونو په څېر په دولتي مالکیت ولاړ و. د خپرو شویو آثارو له مخې د هېواد د ټولو محصولاتو ۹۵ سلنه د دولتي واحدونو له خوا تولیدېدل. بانکونه، بیمې، بهرنۍ سوداګري او ټول لوی پلورنځي دولتي وو، دغه اقتصادي سیستم چې پر دولتي بنیاد ولاړ و، د نوښت د نشتوالي، لږ کارۍ، فلجوونکې بېروکراسۍ او د تکنالوژۍ د نشتوالي له امله له سختو ستونزو سره مخ وه او د پورته ستونزو د له مینځه وړلو لپاره دولت په دوو کارونو لاس پورې کړ:

۱- په مسکو او د کامنولټ د نورو غړیو هېوادونو پورې د ځان ترڼې د ریښو پرې کول.

۲- د ملي اقتصاد بنسټ اېښودل او د طبیعي ځیرمو څخه په خپلواکه توګه ګټه اخیستنه د کورنۍ اړتیاوو د رفع کولو په منظور. چې د دې مامول د پوره کولو لپاره څو مرحله یزه ملي ستراتیژي مطرح شوه.

ترکمنستان د روسیې له فدارسیون څخه وروسته د مشترک المنافع هېوادونو په منځ کې د ۲،۷ ترېلیون متر مکعب ګازو په در لودو سره دویم هېواد دی. د ترکمنستان په سلو کې ٤٨ سلنه خلک په کرنیزو او د څارویو په چارو بوخت دي. ددې هېواد په سلو کې ۸۰ سلنه ځمکه د اوبو د سرچینو له نشتوالي سره مخامخ ده. په ترکمنستان کې مالدارۍ نسبتاً ښه وده کړې ده. د قره قل پسونو د نرمو وړیو او پوستکو په لرلو سره په کې ډېر روزل کېږي. د ترکمنستان یو بل صنعت غالۍ جوړونه ده چې د ترکمني ښځو په منځ کې رواج او نړېوا ل شهرت لري، ترکمنستان په مرکزي آسیا کې له ځانګړي جغرافیوي پلوه مناسب ستراتېژیک موقعیت لري.

• دغه هېواد تر ځمکې لاندې ډېرې لوېې په ځانګړې توګه د نفتو ذخیرې لري چې همدې ټکي د سیمې د هېوادونو پام ترکمنستان ته را اړولی دی.

• ترکمنستان اروپا او ځینو نورو هېوادونو ته د ګاز د انتقال پوتنسیال لري او د اروپا د انرژۍ د تامینوونکو هېوادونو څخه ګڼل کېږي.

• ترکمنستان د کسپین د سمندرګي له ساحلي هېوادونو څخه دی چې د انرژۍ ځېرمو په لرلو سره له اقتصادي لوړ ارزښت څخه برخمن دی.

ترکمنستان د پخواني شوروي اتحاد د ٦٠ کلنې واکمنۍ په وخت کې د نورو منځنۍ آسیا د جمهوریتونو په څېر د بدلونونو له مخې یو منجمد تاریخ تېر کړ، یوازې د یادولو مهمه پېښه په کې د قره قوم د کانال جوړول و.

په پخواني شوروي اتحاد کې د سیاسي بحرانونو په ډېرېدو سره کمونیست حزب منحل او د ترکمنستان ډیموکراټیک ګوند د ۱۹۹۱م. کال د اکتوبر په ۲٦ مه جوړ شو، چې مشري یې نیازاف پر غاړه لرله او د اکتوبر په ۲۷ مه ترکمنستان رسماً خپله خپلواکي اعلان او د یوه خپلواکه هېواد په توګه په رسمیت وپېژندل شو. یو کال وروسته ددې هېواد د پارلمان له خوا نوی اساسي قانون جوړ او د جمهور رئیس واک یې په کې ډېر کړ.

تر خپلواکۍ وروسته ترکمنستان د ملګرو ملتونو د ټولنې، د خپلواکو مشترک المنافع هېوادونو، د آسیا پراختیایي بانک، اسلامي پرمختیایي بانک، اسلامي کنفرانس د سازمان، د کار د نړیوا ل سازمان او دلسګونو نورو نړیوالو ټولنو غړیتوب ترلاسه کړی دی.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ځلورو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د ترکمنستان د موقعیت په اړه، دویمه دې د ژبې، دریمه دې د ترک تبارانو د استوګنې او ځلورمه دې د ترکمنانو د نژادي ریښې په برخه کې یو له بله پوښتنې وکړي.

پوښتنې

۱- د ترکمنستان د مشهورو قبایلو نومونه واخلئ؟

۲- روسانو په کوم کال کې ترکمنستان ونیوه؟

۳- ترکمنستان له خپلواکۍ څخه وروسته څه ډول ستراتیژي طرح کړه؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د ترکمنستان نقشه رسم او د هغې پر مخ د صنعتي ښارونو ولایتونه او ګاونډي هېوادنه په نښه کړي.

د دريم څپرکي بيا کتنه

د دولسم ټولګي د تاريخ د کتاب درېيم څپرکی چې د (ګاونډيو هېوادونو) تر عنوان لاندې جوړ شوی دی او د چين، پاکستان، ايران، تاجکستان، ترکمنستان، او ازبکستان د هېوادونو معاصر تاريخ په کې شامل دی. د دې څپرکي په تاليف کې تر ډېرې کچې هڅه شوې چې زده کوونکي په لنډه توګه د هر هېواد له پېښو، موقعيت، نفوسو، دودیزو ژبو، کلتوري ميراثونو، اقتصاد او صنعت سره آشنايي او پېژندګلوي پيدا کړي. په ځينو لوستونو کې هڅه شوې ده چې د ګاونډيو هېوادونو هغه تاريخي پېښې چې په ځانګړو دورو کې رامنځ ته شوي دی، فهرست کړي او پېښې په کې په مفصله توګه څېړل شوي دي چې زده کوونکي د تاريخي پېښو ژور ته داخل او پرې پوه شي دا د دې لپاره چې تاريخي پېښې ورته روښانه او د پوهېدو وړ شي. تاريخ له وچ سياسي چوکاټه راووځي چې د بشري ټولنې د فعاليتونو فرهنګي، سياسي او اقتصادي غوښتنه ده. سره له دې چې په يوه څپرکي کې د ګاونډيو هېوادونو د ټولو تاريخي پېښو او حوادثو يادونه يو ډېر ګران کار دی، خو د توان تر کچې هڅه شوې ده چې خپلې دغې موخې ته به رسېدلي يو.

څلورم څپرکی

په شلمه پیړۍ کې د نړۍ مهمې پېښې

د څپرکي موخې

۱- په شلمه پیړۍ کې د نړۍ د ځینو مهمو پېښو سره بلدتیا.

۲- د لومړۍ نړیوالې جګړې او د هغې د لاملونونه تحلیل کول.

۳- دویمه نړیواله جګړه او د هغې لاملونه تحلیل او تفسیر وکړای شي.

٤- د ملګرو ملتونو د جوړښت ضرورت درک کړای شي.

٥- په صنعتي ځواک باندې د جاپان د بدلون سره پېژندګلوي.

٦- د پخواني شوروي اتحاد د ټوټې کېدلو د لاملونو تحلیل او تفسیر وکړای شي.

۷- د آلمان، فرانسې او انګلیس سیاسي جوړښت سره پېژندګلوي تر لاسه کړي.

۸- د نقشو او اطلسونو څخه ګټه پورته کړي.

لومړۍ نړيواله جګړه او د هغې لاملونه



په دې لوست کې زده کوونکي د لومړۍ نړيوالې جګړې له علتونو، لاملونو او دهغو د ناوړو پايلو په اړه معلومات تر لاسه کوي.

لوېديځې نړۍ د شلمې پېړۍ په لومړيو کې پر نړۍ پوځي او اقتصادي واک تر لاسه کړ. په نوموړې پېړۍ کې اروپايي سرتېرو او مقاماتو پر هند، سويل ختيځې آسيا او د افريقا پر ډېرو برخو حکومت کاوه. د بهرني سياست مامورينو او اروپايي سوداګرو د چين، ايران او عثماني امپراتورۍ اقتصادي او سياسي چارې په لاس کې درلودې. په لوېديځه نيمه کره کې متحده ايالات د لوېديځو قدرتونو په ډله کې نوی مطرح شوی و او په ټوله نړۍ کې په يوه ځواکمن قدرت بدلېده.

د وضعې او حالاتو بدلون داسې و چې د عمومي جګړې لپاره يې لار هواروله. د دغه حالت په پای کې لومړۍ نړيواله جګړه پېښه شوه. لومړۍ د بازارونو پر سر اقتصادي سيالۍ پيل شوې، ورپسې د اروپا اتحاد، هېوادونه يو د بل پر ضد متحد کړل. درېيم، ټولو قومي ډلو قوي ملي پاله احساسات درلودل.

د اروپا صنعتي هېوادونو د نفوذ او مستعمره کولو پر سر يو له بله سره سياسي سيالۍ درلوده. انګلستان تر ۱۸۷۰ م. کاله پورې په ټوله نړۍ کې تر ټولو مخکې صنعتي هېواد و. وروسته المان په صنعت پيل وکړ

او په چټکۍ سره صنعتي شو او د وړلو راوړلو او اړیکو نوې شبکه یې رامنځ ته کړه. المانې سوداګرو له انګلیسی سوداګرو سره د آسیا په ختیځ، منځني ختیځ او لاتینه امریکا کې بریالۍ سیالۍ پیل کړې.

د نړیوال واک پر سر سیالۍ په سمندري وسله واله سیالۍ باندې بدلون وموند. مهم هېوادونه لکه: د امریکا متحده ایالات او جاپان د خپلو کشتیو د چلونې د خوندیتوب لپاره خپل سمندري ځواک پیاوړی کړ.

انګلستان په **۱۸۸۴**م. کال کې د کشتیو او لوبو سمندري توپونو جوړول پیل کړل. المان چې په اقتصادي برخه کې د هغه اصلي دښمن و، ډېر ژر یې د هغه هېواد تقلید وکړ.

د شلمې میلادي پېړۍ په لومړیو کې د المان د سمندري ځواک چټکه پیاوړتیا د انګلستان د سمندري ځواک ته یو ګواښ و. انګلیس هڅه وکړه چې د سمندري پوځي سیالۍ د پای لپاره له المان سره یوه موافقه وکړي. کله چې دغه هڅه ناکامه شوه، انګلستان د متحدینو په لټه کې شو.

فرانسې او انګلستان د خپلو هېوادونو په منځ کې په **۱۹۰۴**م. کال کې یو ټرون لاسلیک کړ انګلستان په **۱۹۰۷** م. کې له روسیې سره هم متحد شو او د دې درې هېوادونو اتحاد په (مثلث) تبدیل شو.

د اروپا مهمو قدرتونو په هغه وخت کې په دوو اتحادونو کې یو د بل مخې ته ولاړ وو او دواړو خپل ځانونه وسله وال کول او د عمومي جګړې ګواښ ډېر شو. د بهرني سیاست بدګومانۍ او بې باورۍ سوله لا د خطر سره مخامخ کړه. تر لومړۍ نړیوالې جګړې دمخه د اتریش ولیعهد سارایو د بوسني مرکز کې ووژل شو.

المان نېټ درلود چې یوازې له خپل لوی متحد اتریش څخه ملاتړ وکړي. بل متحد یې ایټالیه وه. برعکس روسیې تصمیم ونیو چې صربستان سره مرسته وکړي. روسي پوځ لومړی پوځ و چې د جګړې لپاره تیار شو. د المان حکومت له روسیې څخه وغوښتل چې له دې کاره لاس واخلي. ځکه له دې یې وېره درلوده چې روسیه او فرانسه به یې پر خاوره په یوه وخت یرغل وکړي. روسیې د المان غوښتنه رد کړه او د **۱۹۱۴**م. کال د اګست په لومړۍ نېټه المان لومړی روسیې ته او بیا فرانسې ته د جګړې اعلان وکړ.

المانیانو د بلژیک ناپیلتوب تر پښو لاندې او د **۱۹۱۴** م. کال د اګست په **دریمه** یې پر هغه هېواد یرغل

وکړ. یوه ورځ وروسته انګلستان المان او اتریش ته د جګړې اعلان وکړ. په صربستان د اتریش د یرغل تر پرېکړې وروسته په یوه اونۍ کې د دوو لویو اتحادو هېوادونه په جګړې کې ښکېل شول.

لومړۍ نړیواله جګړه د **۱۹۱۴** م. کال د اګست په لومړۍ نېټه پیل شوه او د دواړو ترون هېوادونو هیله درلوده چې په چټکۍ سره به بریالي شي، البته ټول په دغه وړاندوینه کې تېروتي وو. روسان په چټکۍ سره منسجم شول. فرانسې فکر نه کاوه چې المان به د بلژیک له لارې حمله وکړي. ایټالیې د المان او اتریش سره په اتحاد کې له جګړې سرغړونه وکړه. اتریش د خپلې ځانځانۍ له امله ونه توانېد چې پر وړوکي صربستان بریالی شي.

امریکا له اروپا څخه د جلاوالي سنت وساته. او خپله بېطرفي یې اعلان کړه. ختیځې او لوېدیځې جبهې د جګړې اصلي میدانونه وو. لوېدیځه جبهه د سوېس له سرحده پیل او د فرانسې په خاوره کې د شمال تر روده ادامه درلوده. ختیځه جبهه د لهستان په خاوره کې تر روسیې پورې غځېدلې وه. په **۱۹۱۶** م. کال کې ختیځه جبهه په بالکان کې پرانېستل شوه.

متفقینو په **۱۹۱۵** م. کال کې هڅه وکړه چې د عثماني امپراتورۍ په ماتولو سره په دردانیل کې د پښې اېښودو ځای پیدا کړي. د متفقینو په زرګونو کسانو چې ډېرۍ یې استرلیایي ځوانان وو، د هغو غرونو په لمنو کې چې عثماني ترکانو په توپونو او وسلو ترې دفاع کوله، خپل ځانونه له لاسه ورکړل. د عثماني امپراتورۍ عربي اتباعو په **۱۹۱۶** م. کال کې د ترک د حاکمانو پر ضد پاڅون وکړ. دغه پاڅون د ملک فیصل په مشرۍ چې په هاشمي اصلي کورنۍ پورې یې اړه درلوده، له عربستان څخه یې فلسطین او سوریې ته خپور شو. انګلستان او فرانسې دواړو د عربي پاڅون کوونکو غوښتنې پوره کړې چې په پایله کې عثماني امپراتوري له مینځه ولاړه د عثماني خلافت له مینځ تللو سره مسلمانانو خپل د سیاسي یووالی سمبول له لاسه ورکړ.

المانیان د **۱۹۱۶**م. کال په فبرورۍ کې له اقتصادي ستونزې سره مخ شول. د المان د قومندې مرکز د دې لپاره چې له دې ستونزې ووځي، وېې غوښتل، چې په فرانسه کې د وردن پر ښار یرغل وکړي،

البته دا يې نه ګڼله چې په جبهه کې به د متفقينو ځواک لوی بری تر لاسه کړي، بلکې دا هيله يې درلوده چې د دفاع په ترڅ کې به د فرانسې ځواکونه په تدريجي توګه له منځه يوسی.

ساتونکو له وردن څخه د فشار د له منځه وړلو لپاره له انګليسانو او فرانسويانو څخه يو مرکب ځواک جوړ کړ او د سوم سيند په اوږدو کې يې يوه درنه حمله پيل کړه. د سوم سيند د جګړې په لومړۍ ورځ انګليسانو د **۶۰۰۰۰** په شاوخوا کې تلفات ورکړل. په لومړيو **۲۴** ساعتونو کې په هره دقيقه کې **۱۵** انګليسان مړه او **۳۰** کسه ژوبل شول. انګليسانو د سوم(Somme)[1] په جګړې کې نوې وسلې واردې کړې. جګړې تر دسمبره پورې دوام وکړ. په دې جګړه کې المانيانو **۳۳۰۰۰۰** او فرانسويانو **۳۵۰۰۰۰** کسه تلفات ورکړل. د اېټاليا په جبهه کې د تلفاتو شمېر له **۳۰۰۰۰۰** څخه ډېر شو. په ختيځه جبهه کې ښايي د **۲،۱** ميليون کسو پورې په جګړې کې وژل شوي وي. جګړې له يو ميليون څخه ډېر زخميان درلودل.

د **۱۹۱۵** کال د مې په **۷**مه يوه المانې تحت البحري کښتۍ پر لوسی تانيا اقيانوس پيما نومې کښتۍ چې د ايرلېنډ په سيند کې د حرکت په حال کې وه، يرغل وکړ او دا کښتۍ په چټکۍ سره ډوبه شوه او **۱۲۰۰** کسه په کې مړه شول. له **۱۰۰** څخه ډېر غرق شوي، امريکايان وو. لوسي تانيا انګلستان ته په پټه وسله وړله.

د لوسي تانيا غرقېدو المان او متحده ايالات د جګړې ډګر ته راښکېل کړل. لس مياشتې وروسته ترنځتيا ډېره شوه. د **۱۹۱۶**م. کال د مارچ په **۲۴**مه المانيانو فرانسوي ولاړه کښتۍ د مانش په سمندرګي کې غرقه کړه او يو ځل بيا د امريکا خلک ووژل شول.

لومړۍ نړيواله جګړه د نړۍ د تاريخ لومړنۍ هوايي جګړه وه. د جګړې په لومړيو مرحلو کې ډېرو هېوادونو د دښمن د واحدونو موقعيت د معلومولو لپاره له الوتکو څخه ګټه اخيسته.

متحده ايالاتو او متفقينو يې د سمندري مراقبتي نظام په وسيله د المانيانو يرغلو ته ځواب ورکړ. يو شمېر کښتيو د ځارنې لپاره يو له بله سره حرکت کاوه.

د **۱۹۱۸**م. کال په مارچ کې د برست ليتوفسک تر ټرون **۱۸** ورځې وروسته المانې ځواکونه دې ته اړ

۱-سوم(Somme) د فرانسې په شمال ختيځ کې د مانش د سمندرګي په نامه يوه سيمه ده.

شول چې له روسيې څخه لوېديځې جبهې ته راشي. المانيانو په لوېديځه جبهه کې وحشتناکه حمله پيل کړه. د درنې توپخانې په بمبارد او ګازي بمونو سره يې حمله وکړه. انګليسي، فرانسوي او بلژيکي واحدونه يې د سيند لوري ته په شا کړل. د **۱۹۱۸**م. کال په سپتمبر کې بلغارستان له موقتې ډزبندۍ سره موافقه وکړه. عثماني امپراتوري د اکتوبر تر پايه تسليم شوه. د **۱۹۱۸**م. کال د نوامبر په درېيمه اتريش، مجارستان د ډزبندۍ منل لاسليک کړل چې په جګړې کې د هغوی د لاسوهنې د پای معنا يې لرله.

د **۱۹۱۸**م. کال د نومبر په **۱۱**مه سهار سر تا سري ډزبندي وشوه او په لوېديځه جبهه کې د توپونو درزا غلې شوه. په پای کې تر څلورو کلونو وروسته لومړۍ نړيواله جګړه پای ته ورسېده.

د رسمي شمېرنو له مخې په لومړۍ نړيواله جګړه کې د ځمکنيو او سمندري قواو **۹،۱** ميليونه سرتيری ووژل شول او يا يې له ژوبلېدو او ناروغيو له امله ژوند له لاسه ورکړ. تر **۲۱** ميليونه ډېر پوځيان ژوبل، **۷،۴** ميليونه کسه بنديان يا ورک شول. دغه شمېرنه د ملکي خلکو په برخه کې نه ده.

د جګړې اقتصادي پايلې

د فرانسې، لهستان(پولنډ)، سربستان ډېرې شمال ختيځې برخې او د اېټاليا شمال ختيځې سيمې په کنډوالو بدلې شوې. يوازې په فرانسه کې **۴۸۰۰** کيلو متره څنګلي ځمکه وسوځېده او د **۱۲۸۰۰** کيلو متره مربع په شاوخوا کې کرنيزه ځمکه يې له منځه لاړه. د وردن په شاوخوا کې تر جګړې وروسته تر يوه نسله پورې مېکانيزه کرنه ناشونې وه، له دې امله چې ټوله ځمکه د اوسپنو ټوټو نيولې وه. مادي زيان کليوالي او ښاري خلک دواړه له اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړل. بزګرانو تر يو ميليون ډېر څاروي او حيوانات له لاسه ورکړل. په ښارونو کې تر **۶۰۰۰۰۰** ډېرې ودانۍ ورانې او يا زيانمنې شوې. پلونه، لويې لارې، تونلونه، د اورګاډي پټلي د تلګراف او ټېلېفون مزې له منځه لاړل.

لومړۍ نړيواله جګړه د بشريت په تاريخ کې تر ټولو ورانوونکې او د ډېر لګښت لرونکې جګړو څخه شمېرل کېږي. دې جګړې د روسيې، المان، اتريش، مجارستان او عثماني ترکيې امپراتوري له منځه

یووړه. د رومانوف، هونسولرن او هاپسبورګ لړۍ له واکه لرې شوې. د اروپا او سویل لوېدیځې اسیا د نقشو ډېرې برخې له سره وکښل شوې. فرانسوي امپراتوري د فاتحینو تر منځ ووېشل شوه.

جګړې فرانسه او روسیه ورانه کړه. المان، بلژیک او انګلستان یې هم زیانمن کړل. د امریکا متحده ایالات انزوا او ګوښه والي ته ستون شو. لوېږې او ناروغیو او جګړې ډېر تلفات را منځته کړل او د اروپا پخوانۍ امپراتورۍ یې یو له بله سره بېلې کړې. تر څلورو کلونو اوږدې جګړې وروسته سوله منځ ته راغله.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ټولګي کې پر دووجلا ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د جګړې پر علتونو او دویمه ډله دې د اروپایي هېوادونو د سیالیو په اړه یو له بله سره خبرې وکړي.

پوښتنې

۱ــ لومړۍ نړیواله جګړه په کوم کال کې پېښه شوه؟

۲ــ په دواړو جلا اتحادونو کې کومو هېوادونو ګډون درلود؟

۳ــ په دې جګړه کې کومو هېوادونو ډېر تلفات ولیدل؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د جګړې د پایلو په اړه د منابعو په مرسته معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

دویمه نړیواله جګړه



آډولف هټلر

په دې لوست کې به د دویمې نړیوالې جګړې څخه د مخه د بحرانونو په اړه او همدارنګه د جګړې د لاملونو او پایلو په اړوند معلومات تر لاسه کړئ.

اقتصادي بحران او رکود د ۱۹۲۹- ۱۹۳۳م. کلونو تر منځ په المان کې په ډیره چټکتیا سره پراختیا ومندله. او دې بحران درې کاله دوام وکړ، په صنایعو کې پر سلو کې ٤٠ ټیټوالی راغی. د بیکارانو شمېر ۷.۵ میلیونو تنو ته ورسېد، واقعي مزد له ۲۵ څخه تر ٤٠ په سلو کې را ټیټ شو. کرنه د حوادثو قرباني شوه او یو شمېر بانکونه له ماتې سره مخامخ شول اقتصادي ناورین د ویمار جمهوري جوړښت متزلزل کړ او د هیټلر د رامینځ ته کېدو لپاره یې په سیاسي ډګر کې زمینه برابره کړه.

اډولف هیټلر په ۱۸۸۹م. کال په اتریش کې زیږېدلی او د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته یې د نازي ګوند جوړ او په ۱۹۲۰م. کال کې همدې ګوند مشري یې تر لاسه کړه چې ملي پالنه، افراط پالنه، نژاد پالنه او پر یهودو تیری د هغه له اصولو څخه وو. نوموړی په لومړۍ نړیواله جګړه کې څو واړې ټپي شوی و د نازیو له شعارونو څخه یو هم دا وه (نن آلمان سبا جهان)، هیټلر عقیده در لوده هر څوک چې په منځنۍ اروپا مسلط شي کولای شي پر ټوله اروپا او نړۍ تسلط پیدا کاندي.

د اروپا قدرت غوښتونکي واکمنان د سولې لپاره ګوابښ ګټل کېدل. په شوروي اتحاد کې ستالین غوښتل

چې خپله واکمني پراخه کړي. د موسولیني په مغزو کې د روم د لرغونې امپراتورۍ خیال ګرځېده.
په **۱۹۳۶م**. کې د ملتونو ټولنه بېخي بې باوره شوې وه. د همدې کال په اکتوبر کې هټلر او موسولیني د روم - برلېن محور جوړ او هغه یې (پولادي تړون) ونوماوه. لږ وروسته جاپان او ایټالیا د کمنټرن تړون لاسلیک کړ چې موخه یې د کمونېزم د پراخوالي مخنیوی و. د جاپان امپراتورۍ د **۱۹۳۷م**. کال په دوبي کې د چین پر شمال یرغل وکړ. د ملتونو ټولنه یو ځل بیا ونه توانېده چې سوله وساتي. هټلر په **۱۹۳۸م**. کې اتریش له آلمان سره یو ځای کړ او وروسته یې د سودت آلماني سیمې چې د وارسای دتړون له مخې د چکوسلواکیې برخې ګرځېدلې وې، ببرته د آلمان سره یو ځای کړې. هټلر او موسولیني دډسمبر په میاشت کې د انګلستان او فرانسې د لومړیوزیرانو سره د میونیخ په ښار کې وکتل.
د آلمان پوځ د **۱۹۳۹م**. کال د ډسمبر د میاشتې په لومړیو کې پر لهستان(پولنډ) یرغل وکړ. د المان پوځ له پوځي تاکتیک څخه ګټه واخېسته او په چټکۍ سره یې د لهستان پوځ دړې وړې کړ.
انګلستان او فرانسې په **۲۴** ساعتونو کې آلمان ته د جګړې اعلان وکړ او له دې سره بیا دویمه نړیواله جګړه پیل شوه. پخوا له دې چې په اروپا کې جګړه پیل شي، د ایټالیا دیکتاتور موسولیني ایتوپیا نیولې وه. د افریقا په شمال کې د مصر او سویز کانال پر سر جګړه ونښته. د سویز د کانال په نیولو چې هر یو بریالی شوی وای، له دې لارې یې کولای شول چې په مستقیمه توګه خپلې جنګي بېړۍ د اسیا جبهې ته ورسوي. هر هېواد چې شمالي افریقا نیولې وای، د منځني ختیځ ټولې د تیلو ذخېرې سیمې یې تر ولکې لاندې راتللې.
د متفقینو ځواکونو د مصر په العلعین کې د نازیانو پرمختګ ودراوه او په **۱۹۴۲م**. کې یې د هغوی پر ضد یرغل پیل کړ او **۹۰۰۰** آلماني پوځیان یې اسیر کړل. دویمه نړیواله جګړه چې په اروپا کې پیل شوه، نو المانیان ورته په بشپړه توګه تیار وو، جګړېز وسایل یې نوي او پوځیانو یې ښه زده کړه کړې وه. د **۱۹۳۹م**. کال په ډسمبر کې د المان لښکرو پر لهستان یرغل وکړ او د لهستان پوځ یې په څلورو اوونیو کې د ننه دړې وړې کړ. په دې وخت کې شورویانو د هغه پټ تړون له مخې چې له آلمانیانو سره یې کړی و، د لهستان ختیځ یې ونیو. له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته فرانسې له المان سره خپله پوله پیاوړې کړې وه او په ختیځ کې یې د یرغل د مخنیوي لپاره د **۳۲۰** کیلو مترو په اندازه اوسپنیز استحکامات جوړ کړل. دغه استحکامات د یوه سیاستوال په نامه، د ماژینو د خط په نامه ونومول شول. د دغو استحکاماتو ډېره

برخه د ځمکې لاندې جوړه شوې وه.

المان پر لهستان یرغل وکړ. فرانسوي ځواکونه د ماژینو په خط ځای پر ځای شول او انګلیسان د مانش له سمندرګي څخه تېر شول او د فرانسې په شمال کې دېره شول. دانګلیسانو سمندري ځواکونو د المان بندرونه محاصره کړل.

د جګړې په اوږدو کې شورویانو په ختیځ کې د لاتویا، استونیا او لېتوانیا دولتونه د بالتیک په حوزه کې اتحاد ته اړ کړل. شوروي واحدونو د فنلاند پوځ ته ماتې ورکړه او د روسیې پخوانۍ پولې یې پرانیستې.

د ۱۹٤۰م. کال د اپریل په نهمه آلماني ځواکونو د هوا او ځمکې له لارې په ډنمارک او ناروې یرغل وکړ. ډنمارکیو پوځ نه درلود او فوراً تسلیم شول. نارویژانو غوښتل جګړه وکړي خو د دریو اوونیو په اوږدو کې تسلیم شول.

د **۱۹۴۰**م. کال د اپرېل پر لسمه نازیانو پر بلژیک او هالنډ یرغل وکړ. آلمانیانو له سمندري ځواک، پیاده، ټانک، بم غورځوونکو الوتکو او کوماندویي ځواک څخه ګټه اخیسته او د ماژینو د خط په شاو خوا کې ځای پر ځای شول.

آلمانیانو د همدغه کال په جون کې د لوېدیځ په جبهه کې خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل او وروسته یې د شمالي دښتو له لارې پر فرانسې حمله وکړه. د ماژینو له خط څخه تېر شول او له شپږو اونیو څخه په لږه موده کې پاریس ته ورسېدل.

فرانسه د **۱۹۴۰**م. کال د جون په **۲۲**مه آلمان ته تسلیم شوه. مارشال هانري پتن د لومړۍ نړیوالې جګړې سپین ږیري او اتل نوی حکومت جوړ او له آلمان سره یې د ډزبندۍ ټرون لاسلیک کړ. د تسلیمي د شرایطو پر بنسټ د فرانسې پوځ بې وسلې شو. آلمان د فرانسې په شمال کې پاریس ونیو. د فرانسې دولت د فرانسې سویل ته چې اشغال شوی نه و، انتقا ل شو.

د انګلستان د خلکو مشري د وېنستون چرچل په نامه نوي صدراعظم په لاس کې واخیسته، انګلیسانو غوښتل چې جګړې ته دوام ورکړي.

د جګړې لمنه د بالکان شبه جزیرې ته هم ورسېده. موسولیني د **۱۹۴۰**م. کا ل په مني کې پر یونان یرغل وکړ. د **۱۹۴۰**م. کال د مني په پای کې مجارستان او رومانیه د محور له ځواکونو سره یو ځای

شول. د **۱۹۴۱**م. کال په لومړیو کې بلغاریا له فاشیستانو سره یو ځای شوه. **۱۹۴۱**م. په پسرلي کې نازیانو پر یوګوسلاویا یرغل وکړ او پر یونان پوره بریالي شول. په افریقا کې په مصر او سومالیه کې د ایټالیا ځواکونه له انګلیسانو سره وجنګېدل. د **۱۹۴۱**م. کال د پسرلي پورې ټوله شمالي افریقا د جګړې په صحنه بدله شوه.

له انګلستان سره جګړه اوږده شوه. د لوېدیځې جبهې د بریالیتوب په برخه کې هټلر ناهیلی شو، د دې پر ځای یې ختیځ ته پام شو او کمونېزم یې خپل اصلي دښمن وګانه. نوموړی په دې عقیده و چې پر شوروي اتحاد بریالیتوب پر نړۍ د تسلط یو ګام دی او د جولایي پر **۲۲**مه المان د روس په ضد عملیات پیل کړل. د آلمان واحدونو د **۳۲۰۰** کیلو مترو د جبهې په اوږدوالي د بالتیک له سیند څخه تر تور سمندرګي پورې پر شوروي یرغل وکړ. آلمانیانو د لهستان په ختیځ، د بالتیک سیمې او وروسته یې پر روسیې او کراین یرغل وکړ او په **۱۹۴۱**م. کې د لېننګراد ښار محاصره پیل شوه، چې سل ورځې اوږده شوه. نازیانو د اکتوبر په میاشت کې اوکراین ونیو او کریمه ته داخل شول.

د **۱۹۴۱**م کال په نوامبر کې آلماني ځواکونه او تدارکاتي خطوط یې ډېر پراخه شول. د آلمان په لوی جګړیز ماشین کې شنیدلی حالت رامنځ ته شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي لومړۍ ډله دې د جګړې د لاملونو او دویمه ډله دې د آړولف هیټلر د ونډې په اړه په خپل منځ کې مباحثه وکړي او پایلې دې ټولګي ته وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱- دویمه نړیواله جګړه په کوم کال کې پېښه شوه؟

۲- محور ګروپ کومو هېوادونه ته ویل کېدل؟

۳- آلمان په کوم کال په شوروي اتحاد تېری وکړ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت:

زده کوونکي دې د خپلو ښوونکو او منابعو په مرسته د محور هېوادونو د ماتې په اړه معلومات تر لاسه او بیا دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پر هند او چين باندې د جاپان يرغل



په دې لوست کې به د جاپان يرغل د هندوچين په جزايرو، د محور ماتې او د دويمې نړيوالې جګړې د پايلو په اړه ورسره آشنا شئ.

په داسې حال کې چې د هټلر پوځ په ټوله اروپا کې خپرېده، جاپانيانو په ختيځ کې خپلو پر مختګ ته دوام ورکاوه او غوښتل يې چې پر پراخه سيمه مسلط او له ځمکې او منابعو څخه يې ګټه واخلي. جاپان په **۱۹۳۲م**. کال کې منچوريا ونيوله. په **۱۹۳۷م**. کال کې د جاپان او چين واحدونو د پيکن په شاوخوا کې يو له بله سره په جګړه بوخت وو. د جاپان پوځ ښار ونيو او وروسته يې د سويل په لور حرکت وکړ او تر **۱۹۳۹م**. کال پورې يې د چين څلورمه برخه ونيوله، خو چينايان تسليم نه شول او خپله پلازمېنه يې يانګ تسه ته يووړه او په خور وورو جګړو يې لاس پورې کړ.

جاپان په **۱۹۳۹م**. کال کې د هانيان جزيره او هندوچين ساحل ته نژدې نورې کوچنۍ جزيرې ونيولې. دغه بريالیتوب د انګلستان تدارکاتي مسير له هانکانګ څخه تر سينګاپوره پورې په خطر کې واچاوه. دغو يرغلونو د امريکا متحده ايالات پريشانه کړل. د **۱۹۴۱م**. کال په لومړيو کې يې له جاپان سره خپلې ټولې اړيکې پرې او په امريکا کې د دې هېواد پانګه ضبط شوه. د همدې کال په ډسمبر کې جاپانيانو په هاوايي او فلپين په جزيرو کې د امريکا پر مرکزونو او هم په هانګ کانګ او ملايا کې د انګلستان

پر پوځي مرکزونو يرغل وکړ. جاپان د امريکا پرالوتکو او هوايې هډو چې د آرام اقيانوس په پرل هاربر کې يې لنګر اچولی و، بمباري وکړه. جاپاني پيلوټانو **۱۸** جګړيزې امريکايي کشتۍ او **۱۸۰** امريکايي الوتکې له منځه يووړې او د **۳۵۰۰** کسو په شاو خوا کې يې ووژل.

جاپانيانو په آرام سمندرکې د **۱۹۴۱**م. کال د ډسمبر د حملو په ترڅ کې ډېر لوی امتيازات لاس ته راوړل. د **۱۹۴۲**م. کال په لومړيوکې د هغو موخو د لاس ته راوړلو لپاره چې هغه د آسيا د ختيځې برخې نيول وو، پر مخ روان وو. دجاپان امپراتوري د برما په جګړې کې پر مخ لاړه. ګورم، د ويک جزيره او د فلپاين جزاير يې ونيول. هانګ کانګ، سينګاپور، او د شرقي هند جزايرو هم سقوط وکړ. جاپاني ځواکونو پر بريتانيوي هند يرغل ته ځان چمتو کړ. په استراليا، نيو زيلانډ او د هاوايي په جزيرو کې يې هم پر مختګ وکړ. داسې ښکاره کېده چې هټلر او موسوليني بريالیتوب تر لاسه کړ. د دې په مقابل کې د متفقينو د ځواکونو مشرانو (د انګلستان د صدراعظم چرچل، د شوروي رهبر ستالين او د امريکا د جمهور رئيس روزولټ) په مشرۍ د تهاجمي يرغل لپاره يو له بل سره يو ځای شول. پرل هاربر له يرغل څخه وروسته د امريکا ګوښه والی پای ته ورسېد. د **۱۹۴۲** م. کا ل په می کې د امريکا او آسټراليا هوايي او سمندري ځواکونو په آرام سمندر کې د جاپانيانو پرمختګ ودراوه. يوه مياشت وروسته د امريکا متحده ايالاتو د جاپان لويه کشتۍ چې ختيځ لوري ته د ميدوي پر جزيرې د يرغل لپاره د حرکت په حال کې وه، ودروله. د امريکا متحده ايالاتو او جاپان د درېو ورځو لپاره د ميدوي د جزيرې په شمال کې په هوا او سمندر کې سره وجنګېدل چې په پای کې د امريکا متحده ايالات بريالی شو.

د محور ماتې

د ۱۹٤۲م کال د نوامبر په مياشت د شوروي کلکو يرغلو المان شاتګ ته اړ کړ. هټلر خپلو پوځونو ته امر وکړ چې وجنګېږي، خو د **۱۹۴۳**م. کال په جون کې د آلمان پوځونه تسليم شول.

د **۱۹۴۳**م. کال په دوبي کې انګليسي ـ امريکايي ځواکونو سيسلي ونيوله. د همدې کا ل په وروستيو مياشتو کې متفقينو ورو ورو شمال ته پرمختګ کاوه. په آرام سمندر کې يې جاپانيان جزيره په جزيره شا تګ ته اړ کړ.

د **۱۹۴۳**م. کال په نوامبر کې روزولټ، چرچل او سټالين په تهران کې سره وکتل. هغوی پر فرانسې د متفقينو د يرغل پر نقشې سره خبرې وکړې. د دې نقشې پر بنسټ د متفقينو ځواکونه بايد د مانش له

سمندرڅخه تېر شوي او د نرماندي په سواحلو کې پياده شوي واى.

په دې يرغل کې څه د پاسه له ۱۷۵۰۰۰ سرتيرو، او هم له ډېرو تجهيزاتو څخه کار واخستل شو. په نرماندي کې د ځواکونو تر پياده کېدو ۱۰۰ ورځې وروسته، د ۲ ميليونو په شاوخوا کې سرتيري فرانسې ته داخل شول او د ۱۹۴۴م. کال د اګست په ۲۵ مه يې پاريس آزاد کړ.

شوروي پوځ د ۱۹۴۴م. کال په جون کې ستوني، ليتوانيا، ليتويا، رومانيه او بلغارستان ونيول او همدارنګه انګليسانو آلمانيان د يونان له خاورې وويستل. د ۱۹۴۵م. کال په فبروري کې روزولټ، چرچل او ستالين په ايټاليا کې د تورې سمندرګي د څنډې په آرامځاى کې يو له بل سره وليدل. همدارنګه مشرانو د دې هڅه وکړه چې په اروپا کې تر جګړې وروسته د مسايلو د حل لپاره توافق وکړي. هغوى د آلمان د وېش نقشه د نيول شوې سيمې په توګه وکښله. د فرانسې سرتيرو يې د متفقينو د مهمو ځواکونو لپاره سيمه مشخصه کړه. هغه اروپايي دولتونه چې له نازيانو څخه خپلواک شوي وو، بايد د ځانونو لپاره يې حکومتونه انتخاب کړي واى. همدارنګه روزولټ دا ومنله، چې شوروي د ملګرو ملتونو له ټولنې سره يو ځاى شي، نو په ختيځه اروپا کې به د دې هېواد امتيازات تضمين کړي.

د ۱۹۴۵ م. کال د مى په لومړيو کې د برلين د ښار په سړکو کې تر خونړيو جګړو وروسته، دغه ښار د روسانو پر وړاندې سقوط وکړ. د هټلر ژوند د هغه تر ځمکې لاندې پټنځاى کې پاى ته ورسېد. د جاپان سره لا جګړه روانه وه. د ۱۹۴۵م. په اپرېل کې روزولټ ناڅاپه مړ شو. هري ترومن چې جمهوري رياست ته ورسېد، د مهنتن له پټې طرحې خبر شو چې يو شمير پوهانو او مهندسانو د دغه نامه لاندې د لومړنۍ اتومي وسلې په جوړولو لګيا وو.

متفقينو د جولايي په ۲۶مه د جاپان حکومت ته التيماتوم ورکړ او له هغه هېواد څخه يې وغوښتل چې تسليم شي، خو جاپان التيماتوم ونه مانه.

د ۱۹۴۵م. کال د اګست په۶ مه د امريکا د اوږده واټن الوتکې د جاپان د هيروشيما پر ښار بم وغورځاوه. دې بم د ښار تر ۶۰ مې برخې ډېره ورانه کړه او تر ۱۵۰۰۰۰ ډېر کسان يې ووژل. خو سره له دې بياهم جاپان تسليم نه شو. د ۱۹۴۵م. کال د اګست پر نهمه ـ B ۲۹ ډول الوتکې پر ناګاساکي بل بم راوغورځاوه او ۴۰۰۰۰ کسان يې ووژل. پاتې ۷۰۰۰۰ کسه په ډېره وحشتناکه توګه سوي وو.

جاپان د ۱۹۴۵ م. کال د سپتمبر پر دويمه تسليم شو. د تسليمۍ خبر ټولې نړۍ ته مخابره شو. د

متفقینو ډېرو پلویانو د ډېرو لویو غونډو په ترڅ کې په لویو ښارونو کې خوشحالۍ او جشنونه پیل کړل. په وروستیو اوونیو کې روسیې منچوریا ونیوله. په اندونیزیا او ملایا کې جاپاني ځواکونه انګلستان ته تسلیم شول. د امریکاه متحده ایالاتو ځواکونو جاپان ونیو او چین یې آزاد کړ او په دې توګه په تاریخ کې د بشرتر ټولو خونړۍ جګړه پای ته ورسېده.

د دویمې نړیوالې جګړې پایلې

دویمې نړیوالې جګړې ډېر مالي او ځاني زیانونه رامنځ ته کړل. په دې جګړه کې له **۴۰ ـ ۵۰** میلیونو پورې انسانان ووژ ل شول. د امریکا متحده ایالاتو خپل **۳۰۰۰۰۰** ځواکونه له لاسه ورکړل. د جګړې لګښت تر یو ټریلیون ډالرو ډېر و. **۲۳۰** میلیارده ډالر د محور هېوادونو ولګول. د امریکا متحده ایالاتو له **۳۱۷ ـ ۳۴۱** میلیاردو ډالرو پورې ولګول. لویو ښارونو لکه وارسا، لندن او برلېن ډېر درانده زیانونه ولیدل. هېروشیما او ناګاساکي کابو ببخي له منځه لاړل. د اروپا او آسیا ټولو خلکو خپل کورونه، کروندې او همدارنګه دندې له لاسه ورکړې. کلیسا ګانې، کارخانې، سړکونه، د اوسپنو لارې او بندري تاسیسات د بمبارېو او د توپونو د اور له امله وران شول. د نړۍ د ډېرو هېوادونو پرمختګ او وده د خپل اصلي مسیر څخه منحرف شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ویشل شي لومړۍ ډله دی د رهبرانو وندې لکه روزولت، چرچل او ستالین د محور هېوادونو په ماتې کې او دویمه ډله دې د جګړې د پایلو په اړه په خپل منځ کې مباحثه وکړي او پایلې دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱ـ د امریکې متحده ایالاتو څرنګه په جګړه کې ګډون وکړ؟

۲- جاپان ولې په دویمه نړیواله جګړه کې امریکې ته تسلیم شو؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د اروپا نقشه رسم او پرمخ دې د محور او متفق هیوادونه په نښه کړي.

د ملګرو ملتو جوړېدنه



په دې لوست کې به د ملګرو ملتونو د سازمان د رامنځ ته کېدو او د هغه د ضرورت په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د ۱۹٤۵م. کال په اوږدو کې د متفقو هېوادونو استازو له جګړې څخه وروسته د نړۍ د موقعیت په اړه د تصمیم نیولو لپاره لیدنه وکړه. هغوی په دې توافق وکړ چې داسې نړیوا ل سازمان جوړ شي چې ټول خپل ځانونه د هېوادونو په منځ کې د سولې او همکارۍ لپاره متعهد وساتي او هم د هغو خلکو په برخه کې چې د محور هېوادونو ځواک یې جوړاوه، د سرنوشت په اړه یې تصمیم ونیسي. متفقینو ملګري ملتونه جوړ کړل. د متفقو پنځوسو هېوادونو استازیو په سانفرانسیسکو کې د **۱۹۴۵**م. کا ل له اپرېل څخه تر جونه پورې سره ولیدل. هغوی د نړیوال سازمان د منشور په برخه کې توافق ته ورسېدل. دا منشور په **۱۹** فصلونو او **۱۱۱** مادو کې تدوین شو او د لاهې د نړیوالې محکمې د دېوان اساسنامه د دغو **۵۰** هېوادونو لاینفک برخه شوه. غړیو هېوادونو په دې توافق وکړ چې د سولې د ساتنې او پرمختلنې لپاره به د ټولو ملتونو حقوق او حاکمیت په مساوي توګه په پام کې ساتي او نړیواله همکاري یې هم تضمین کوي.

د ملګرو ملتونو سازمان لویه شورا لري. عمومي شورا د ټولو غړیو هېوادونو له استازیو څخه جوړېږي،

خو رښتنيني ځواک د امنيت له شورا سره دی. د امريکا متحده ايالات، انګلستان، فرانسه، روسيه او چين په دې شورا کې دايمي څوکۍ لري. شپږ نور هېوادونه په دوراني توګه ټاکل کېږي.

د امنيت د شورا رايه په اکثريت ولاړه وي. د پرېکړې د تصويب په صورت کې د پنځو دايمي هېوادونو رايه د اکثريت رايې يوه برخه وي. په دې توګه له دغو پنځو لويو هېوادونو څخه هر يو د دې شورا د پرېکړې د وېټو حق لري. اقتصادي او اجتماعي شورا، نړيواله محکمه او سرمنشي، د ملګرو ملتونو اصلي جوړښت تشکيلوي. متفقينو پرته له ملګرو ملتونو، د جګړې د وضعيت د ژر اداره کولو او په راتلونکې کې د پراختيا او ودې لپاره نورګڼ شمېر سازمانونه هم جوړ کړل، چې بېلابېل فعاليتونه د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې تر سره کوي.

د ملګرو ملتونو د سازمان په جوړېدنه کې د ډېرو اقداماتو لاس دی، چې هر يو په کې اغېزمنه ونډه اخيستې ده. د دې اقداماتو له جملې څخه کولای شو چې په زماني ترتيب سره د بين المتحدينو د اعلاميې خپرېدل، اتلانتيک منشور، د ملګرو ملتونو اعلاميه، د مسکو او تهران کنفرانسونه، د دامبارتن اوکس او بالتا کنفرانس او په پای کې د سانفرانسيسکو کنفرانس ته اشاره وکړو.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د نړيوالو سازمانونو او دويمه دې د دې سازمان د موخو په برخه کې يو له بله سره خبرې او مشاجرې وکړي او پايله دې په ټولګي کې ووايي.

پوښتنې

۱ـ د ملګرو ملتونو ټولنه څنګه جوړه شوه؟

۲ـ څو هېوادونه د امنيت د شورا دايمي غړي دي؟

۳ـ د ملګرو ملتونو ټولنه په کوم کال کې جوړه شوه؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د ديرشو هيوادونو ليست ترتيب کړي چې د ملګرو ملتونو غړيتوب ولري او په ټولګي کې دې ووايي.

په يوه صنعتي ځواک باندې د جاپان بدلون



آیا پوهېږئ چې جاپان څرنګه په يو صنعتي هېواد واوښت؟ په دې لوست کې به د دې پوښتنې ځواب تر لاسه کړئ.

پخوا تر دې چې د جاپان پر صنعتي بدلېدنې خبرې وکړو، ښه به دا وي چې د هغه هېواد د تېر تاريخ په برخه کې څه پوه شو. تر ميلاد ۶۶۰ کاله پخوا د جاپان لومړنی امپراتور پر تخت کېناست. په هغه وخت کې د مذهبي قوانينو (شينتو) له مخې امپراتور له فوق العاده ځواکه برخمن و. په منځنيو پېړيو کې ساموريان پر جاپان مسلط شول. پخوا د امپراتور د ګارد کسان د سامورايي په نامه يادېدل. په دې وخت کې جاپان په يوه فيوډالي، کمزوري او وروسته پاتې هېواد بدل شو.

د جاپان معاصر دوران د امپراتور (موتسوهیتو) له تخت ناستې ۱۸۶۸م. څخه پیلېږي. د هغه د امپراتورۍ مودې تر ۱۹۱۲م. پورې دوام درلود، چې د (میچي) د دورې په نامه یادېږي. په اداري او پوځي برخه کې ډېر اصلاحات رامنځ ته شول او جاپان په یوه نړیوال ځواک واوښت. د چین او جاپان او جاپان او روس په جګړې کې یې چین او روس ته ماتې ورکړه او په همدې وخت کې وتوانېد چې پر کوریا، تایوان او سخالین پر ټاپو تسلط پیدا کړي.

د جاپان هېواد له یو شمېر وړو او لویو ټاپوګانو څخه جوړ شوی دی او په لرې ختیځ کې پروت دی. سره له دې چې ځمکه یې لږه ده، د وګړو شمیر یې یو ۱۴۰ میلیونو ته رسېږي. تر لومړۍ نړیوالې جګړې او د آلمان تر ماتې وروسته، جاپان د صنعتي او لوی ځواک کېدنې لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې او له آلمان او اروپایی هېوادونو څخه د فني زده کړې په لړ کې په چټکۍ سره له اقتصادي او پوځي پلوه په یو سیمه ییزه ځواک بدل شو. هغه وخت تر دویم نړیوال جنګ د مخه د تخنیکي همکارۍ له املې له آلمان سره نږدې شو او د دویم نړیوال جګړې په پیل کې له آلمان او ایټالیې سره په (محور) دولتونو کې د متفقینو پر ضد شامل شو. په دویمې نړیوالې جګړې کې یې په پاسفیک (آرام) سمندر کې خپل ډېر متصرفات له لاسه ورکړل او د (هېروشیما او ناګاساکي) تر اټومي بمبارد وروسته پرته له کوم قید و شرطه امریکا ته تسلیم شو.



د جاپان د پارلمان ودانۍ

تر جګړې وروسته او د سولې په راتلو سره یې د نویو اندونو او قوي مدیرانو په مټ د صنعتي کېدو او د خپل اقتصاد په جوړونه لاس پورې

کړ او د امریکې متحده ایالاتو ته یې کار پیژندونکي، تکنیشنان او اهل فن د زده کړې لپاره ولېږل او تر څنګ یې په هېواد کې معقولې، خصوصي او نوې پروژې پلې کړې. له امریکایي نوبو طرحو څخه اقتباس ورځ په ورځ جاپان ته د پرمختګ لارې خلاصې کړې او تر اوسه یې دغه سیاست دوام لري.

جاپان له سلو کالو وروسته په دې وتوانېد چې د نړۍ په یوه ستر صنعتي هېواد بدل شي. که چېرته د صنعتي کېدو نېټه د انګلستان د صنعتي انقلاب د رامنځ ته کېدو نېټه وګڼو، نو پاتې ټول لوېدیځ هېوادونه دې مرحلې ته دوه سوه کاله وروسته رسېدلي دي او که چېرې وغواړو چې علت یې پیدا کړو چې جاپان څنګه دا موده لنډه ووهله چې په یوه صنعتي هېواد بدل شو، نو ځواب یې ښایي داسې وي:

صنعتي کېدنه یې په کرار او تدریجي ډول پیل شوه. لومړی ساده صنایع، وروسته لږې پېچلې، سپکې صنایع، منځنۍ ټکنالوژۍ، وروسې درنې او لوړې ټکنالوژۍ په کې رامنځ ته شوې. په ۲۰۰۵م. کا ل کې جاپان د (۴،۵) ټریلیونو ډالرو تولیداتو په ارزښت تر امریکا وروسته د نړۍ په اقتصادي ځواک کې دویم او په اسیا کې یې لومړی ځای درلود. که څه هم جاپان محدودې صنایع لري، خو د دولت په همکارۍ سره چې د پرمختللې ټکنالوژۍ په برخه کې پانګه اچونه کوي، جاپان د صنعت او تکنالوژۍ له پلوه یو مهم هېواد ګڼل کېږي. امریکا د ۲۲،۷٪ چین ۱۳،۱٪ سویلي کوریا په ۷،۸٪ سره د جاپان ډېر مهم سوداګریز شریکان دي او اوس جاپان په لنډه موده کې په چټکۍ سره د نړۍ په یوه پرمختللي هېواد بدل شوی دی.

د جاپان مهم صادرات، د حمل ونقل وسایل، موټرې، برېښنایي صنایع، ماشین الات، کېمیاوي صنایع، فولادي صنایع، غیر اوسپنیز فلزات، کشتۍ جوړونه، نساجي او نور دي.

دا هېواد څو نړیوال موټر جوړونکي شرکتونه، لکه، ټویټا، هنډا، سني، نیسان، میتسوبیشي او داسې نورې کمپنۍ چې معتبر مارکونه لري، خاوند دی.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړنۍ ډله دې د جاپان د تاریخ او دویم ډله دې د جاپان د صنعتي کېدنې پر لاملونو یو له بله سره خبرې وکړي او پایله دې په ټولګي کې ووایي.

پوښتنې

۱ـ د جاپان لومړنی امپراتور څه وخت پر تخت کېناست؟

۲ـ د جاپان معاصر دوران له کومې تاریخي پېښې څخه پیلېږي؟

۳ـ جاپان په دویمه نړیواله جګړه کې د کومو هېوادونو په ګټه او پلوی په جګړې کې داخل شو؟

۴ـ د جاپان سوداګریز شریکان کوم هېوادونه دي؟

۵ـ د جاپان د لویو کمپنیو نومونه واخلئ؟

له ټولګي څخه د باندی فعالیت

زده کوونکي دې د جاپان د چټکې پرمختیا په اړه د ښوونکو او منابعو په مرسته معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې ووایي.

د شوروي اتحاد له منځه تلل


د بارنتز سیند
د کارا سیند
د تایمیر شبه جزیره
د لاپتف سیند
د سیبری نوی جزایر
د سیبری سیند
د ختیځ سیبری سیند
د جوکچی سیند
سیبري
روسیه
مسکو
د لادوگا جهیل
د بایکال جهیل
د اختسک سیند
د برینګ سیند
د کورېل ټاپوګان
قزاقستان
مغولستان
اوکراین
تور سیند
د آرال سیند
د کیسپین سیند
د اورال سیند
د اوب بند
د ګاز کانونه
د نفتو کانونه
د ډبرو سکرو کانونه
د اوسپنې کانونه
د سرو زرو کانونه
د مسو کانونه
د نکل کانونه
د کرومیټ کانونه
د مانګانیز کانونه
د الماسو کانونه
د سرو سکرو کانونه
د ټنګسټن کانونه
د مولیبډن کانونه
د کوبالټ کانونه
د ټیټانیم کانونه
د ویناډیم کانونه
د زیرکونیم کانونه
د بوکسایټ کانونه
د فاسفورایټ کانونه
د پوټاشیم کانونه
د سلفر کانونه
د ګرافیټ کانونه
د ایسبسټوس کانونه
د ګوګړو

هېواد واکمن کړی و، له شدید کنټرول او د ډول ډول ټکولو او اختناق سره سره، په پای کې د میلیتونو د اعتراضاتو په وړاندې چې کلونه کلونه یې د مرکزي حکومت د واکمنۍ لاندې ژوند تېر کړی و، ټینګار ونه شو کړای او هغه پراخ ټولنیز بدلونونه، په ځانګړې توګه هغه زاړه فردي روشونه او وېشنه چې ټولنه ترې جوړه شوې وه او د کمونېست ګوند منشي تطبیقوله، د ۱۹۸۰م. د لسیزې بدلونونه یې چټک کړل چې په پای کې د میلیتونو د زندان ور پرانیستل شو.


ریګن او ګورباچوف

پر شوروي اتحاد حاکم نظام چې د کمونېزم د نظریو تر رهبرۍ لاندې په ځانګړې توګه د ستالین په وسیله رامنځ ته شو، پخپله د دې نظام د له منځه تلنې سبب و. داسې نظام چې پر اداري او اقتصادي چارو یې بشپړ امرانه کنټرول درلود، د ټیټو او منځنیو طبقو فردي ګټې له منځه وړلې او د انسان د فطرت ځانګړتیاوې یې نه منلې. د شوروي اتحاد د صنعتي لاس ته راوړنو سره سره یې د خلکو عادي ورځنۍ اړتیاوې نه شوې پوره کولای او هغه اقتصادي او انساني منابع یې چې درلودې، له هغوی څخه یې په پوځي برخو کې ګټه واخیسته.

د امریکایانو فشار او له پردیو څخه وېره چې په روسي ټولنه کې یې ریښه درلوده، د داخلي ناخوالو د پټولو لپاره به یې په افراطي توګه ورته پاملرنه کوله. فلړالي نظام به ادعا کوله چې د ټولو میلیتونو او قومونو بشپړ حقوق په پام کې نیول کېږي، خو په عمل کې یې توپیر درلود چې دغه تبعیض په میلیتونو کې ناخوښي او نارضایتي رامنځ ته کړه. سره له دې چې

گورباچوف ډېره هڅه وکړه چې دا تبعیض له منځه یوسي، خو بریالی نه شو، تر دې چې د نظام د له منځه تلنې زمینه په تدریج سره تیاره شوه.

په پای کې په ۱۹۹۱م. کال د شوروي سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام سره د دې چې ۷۴ کاله یې ډېرې هڅې وکړې، خو د سویالېزم پر تداوم او عملي کېدنه بریالی نه شو په پایله کې له منځه لاړ.

ب ـ بهرني لاملونه

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته، سوړ جنګ پیل شو، ځکه په دې وخت کې کومه نړیواله جګړه رامنځ ته نه شوه. او لویو ځواکونو یو د بل پر ضد تبلیغات پیل کړل او تسلیحاتي سیالۍ پیل شوې او هر یوه هڅه کوله چې ورانوونکې وسله جوړه کړي. لوېدیځو هېوادونو د امریکا په مشرۍ د کمونېزم د خپراوي پر ضد پراخه تبلیغات پیل کړل او په شوروي اتحاد کې یې کمونیستي نظام تخریباوه.

فضایي سیالۍ او رقابتونه هم د شوروي اتحاد د له منځه تلنې سبب ګڼل کېږي، ځکه چې د هرې فضایي ېږۍ لپاره په میلیاردونو امریکایي ډالر لګول کېده او د شوروي اتحاد لپاره د هرې مصنوعي سپوږمۍ جوړول او توغول ورته ډېر ګران تمامېده.

شوروي اتحاد افغانستان په ۱۹۷۸م کې اشغال کړ، شوروي اتحاد دا فکر نه کاوه چې دا جګړه به اوږده شي او د غیرتمنو افغانانو له داسې مقاومت سره به مخامخ شي. د روسانو تر یرغل وروسته د افغانستان خلکو او مبارزینو سره اسلامي او لوېدیځو دولتونو مرسته کوله او شوروي اتحاد په دې جګړې کې ډېر لګښتونه وکړل چې د هغه کمزورۍ اقتصاد یې لا پسې کمزورۍ کړ. د شوروي اتحاد په له منځه وړنې کې ځاني تلفات هم له سترو عواملو څخه ګڼل کېږي، ځکه د ځوانانو وژنه او معیوب کېدنه د خلکو د کرکې سبب شوه او له افغانستان څخه د قواوو د ویستلو غوښتونکي شول. په پای کې شوروي اتحاد

په افغانستان کې ماتې وخوړه او خپل ځواکونه يې له افغانستان څخه بهر کړل.

پورتنيو کورنيو او بهرنيو لاملونو د شوروي اتحاد د له منځه وړنې لپاره مناسب شرايط برابر کړل چې حاکم نظام په خپلو ټولو هڅو سره په دې ونه توانېد چې مخه يې ونيسي چې په پای کې د کمونست ګوند تر اوږده حاکميت وروسته پر پنځلسو جمهوريتونو، شوروي اتحاد وپاشل شو. سوسياليستي نظام له منځه لاړ او ډېرو جمهوريتونو خپله خپلواکي اعلان کړه.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د سوسياليستي نظام پر ماهيت او دويمه ډله دې د شوروي اتحاد د له منځه تلو پر عواملو خبرې وکړي او پايله دې په ټولګي کې ووايي.

پوښتنې

۱ـ د روسيې کارګري انقلاب په کوم کال کې رامنځ ته شو؟

۲ـ شوروي سوسياليستي نظام په کوم کال کې له منځه لاړ؟

۳ـ په ۱۹۸۰م. لسيزه کې په شوروي کې کوم بدلونونه رامنځ ته شول؟


۴ـ شوروي نظام څو کاله دوام وکړ او څو جمهوريتونه يې لرل؟

۵- د افغانستان مسلمان ملت د شوروي او کمونيزم په نابودۍ کې څه ورنده درلوده په لنډه توګه يې ووايئ.

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې له مشرانو او فرهنګي شخصيتونو څخه د شوروي اتحاد په له منځه تللو کې د بهرنيو لاملونو په اړه معلومات تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې ووايي.

د آلمان فډرالي جمهوريت



آیا پوهېږئ چې د آلمان جمهوريت څو ایالتونه او څه ډول سیاسي جوړښت لري؟

د آلمان فډرالي جمهوريت د نړۍ د پرمختللو صنعتي هېوادونو له ډلې څخه دی. دا هېواد چې په اروپا کې پروت دی، په شمال کې له ډنمارک او بالتیک سمندرګي، ختیځ کې يې له پولنډ او چک جمهوريت، په سویل کې يې له اتریش او سویس او لوېدیځ کې له فرانسې، بلژیک، لوکزامبورک او هالنډ سره پولې لري.

آلمان یو ډېموکرات فډرالي جمهوريت دی او شپاړس ایالاتونه لري. دغه ایالات کولای شي چې په ځینو چارو کې خپلواک عمل وکړي. آلمان له فرانسې او روسیې سره د جګړې پر مهال په ۱۸۷۱م. کې د یوه ملت په توګه متحد شو.

د دولت اجرايي قدرت د فډرالي صدراعظم سره وي. بوند سرات (فډرال شورا) صدراعظم ټاکي. جمهور رئيس د يو ګډې ناستې د بوندسرات او د ايالتي استازو(بوند ستاګ) د مساوي غړو په ګډون د پنځو کالو لپاره ټاکل کېږي. سره له دې چې په ۱۹۹۰م. کال کې برلېن پلازمېنه وټاکل شوه، خو د آلمان پارلمان، وزيران، جمهور رئيس او فډرال صدراعظم د بن په ښار کې اوسي.


انګلا مرکل د آلمان لومړۍ وزيره

د آلمان فډرالي جمهوريت د ملګروملتونو د سازمان، د شمالي اتلانتيک د ټرون، د اوو هېوادونو له ډلې، د لوېديځې اروپا د پنځو هېوادونو د اتحاديې، د امنيت او همکاريو کنفرانس په اروپا کې د همکارۍ او هم د اروپايي اتحاديې د بنسټ ايښودونکو څخه دی.

تر امريکا او جاپان وروسته، آلمان د نړۍ دريم صنعتي ځواک دی. له دويمې نړيوالې جګړې څخه وروسته د آلمان اقتصادي ودې او پرمختګ ته د (آلمان اقتصادي معجزه) ويل شوې ده.

آلمان داسې يو هېواد دی چې ګڼ شمېر سياسي ګوندونه په کې فعاليت کوي چې مهم يې په لاندې ډول دي:

- سوسيال ډېموکرات ګوند (سوسيالېست).
- ډېموکرات مسيحي ګوند (محافظه کار).
- سوسياليستي مسيحي ګوند.
- آزاد ډېموکرات ګوند (لېبرال).
- شين ګوند (د چاپېريال ساتنه).

ـ سوسیالېزم ډېموکرات ګوند (د ختیځ آلمان پخوانی کمونیستي ګوند).

آلمان په بهرني سیاست کې یوازې لوبغاړی نه دی. د آلمان سیاست د هغه بلوک تقویت دی چې (لوېدیځ) ورته ویل کېږي. آلمان له فرانسې سره ځانګړی نږدېوالی لري. د امریکا له متحده ایالاتو سره د آلمان نږدېوالی او همکاري د هغه د بهرني سیاست یو بل رکن دی. د آلمان بهرنی سیاست په ټوله نړۍ کې د سولې د ټینګښت، د درېمې نړۍ سره د دوستانه اړیکو د پراختیا او د هغوی د اقتصاد د ودې، او د بشر د حقوقو د رعایت پر ستنو ولاړ دی.

آلماني ژبه د هندو جرمن د ډلې یوه برخه ده. دا ژبه د ډنمارکي، ناروېژي، سویډني، هالنډي او همدارنګه د انګلیسي ژبې سره په کورنۍ کې شریکه ده. په آلمان کې په مختلفو لهجو خبرې کېږي. د آلمان د خلکو له اغلبو لهجو څخه کولای شو چې محلي مبدایې ومومو. په لومړیو کې د اوسني آلمان په ځمکه کې مختلف قبایل لکه، فرانکانو، زاکس، شوابان، او بابریان اوسېدل. نن ورځ دغه قبایل په خپله لومړۍ بڼه نشته، خو رواجونه او لهجې یې د سیمې په مختلفو ډلو کې ساتلي دي.

د آلمان مهم صنایع الکټرونیکي وسایل، کېمیاوي مواد، منسوجات، غذایي او ترانسپورتي وسایلو څخه عبارت دي. همدارنګه آلمان د ډبرو د سکرو ذخیرې، د اوسپنې، مسو، قلعي، نکل، سپینو زرو او مالګې کانونه لري، خو د آلمان د صنعت لپاره بسنه نه کوي او وارداتو ته یې ډېره اړتیا لري.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډلې دې د آلمان د موقعیت او دویمه ډلې دې د آلمان د پارلماني نظام په اړه په خپلو کې خبرې وکړي او پایله دې په ټولګي کې ووایي.

پوښتنې

۱ـ د آلمان صدراعظم څنګه ټاکل کېږي؟

۲ـ د آلمان پارلمان څو مجلسه لري؟

۳ـ ختیځ او لوېدیځ آلمان په کوم کال کې سره یو ځای شول؟

۴ـ د آلمان د مهمو ګوندونو نومونه یاد کړئ؟

له ټولګي څخه د باندې فعالیت

زده کوونکي دې د آلمان د اقتصاد او ژبې په برخه کې له خپلو ښوونکو او فرهنګي شخصیتونو څخه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې ووایي.

د فرانسې جمهوریت



فرانسه یو اروپایي هېواد دی، چې ډېر لرغونی او پخوانی تاریخ لري، چې په دې لوست کې به په لنډه توګه ورسره آشنا شئ.

فرانسه د اروپا په لوېدیځ کې پرته ده چې شمال لوري ته یې د مانش سمندرګي، سویل ته یې د مدیترانې سمندرګي، ختیځ ته یې بلجیم، سویس، ایټالیه، لوکزامبورګ او موناکو، لوېدیځ ته یې د بیسکای خلیج او سویل ختیځ ته یې اسپانیا پروت دی.

د دې هېواد اوسېدونکي فرانسوي سپین نژاده دي چې د فرانسې ۹۳٪ وګړي تشکیلوي. د دې هېواد ۹۲٪ خلک د عیسوي دین پیروان دي. همدارنګه ۹۷٪ اوسېدونکي یې په فرانسوي ژبه خبرې کوي.

فرانسه داسې یو هېواد دی چې د لرغوني تاریخ په لړلو سره له میلاد څخه پخوا د ګل Goul په نامه یادېده. سلیتیک، باسک او جرمنیان په کې اوسېدل. د ۱۲۵ ق. م. په شا وخوا کې رومیانو پر ګل حمله وکړه او د مدیترانې د سمندرګي شاوخواوې یې ونیولې.

په شپږمه او اوومه زیږدیزه پېړۍ کې په ګل کې مختلفو شاهانو واک درلود او خونړۍ جګړې یې تر منځ پېښې شوې. هغه تمدن چې رومیانو یې بنسټ ایښی و، له خطر سره مخامخ شو.

په ۷۷۱ میلادي کې شارلمان د فرانسې پاچا شو او د واکمنۍ په ۵۰ کلنه موده کې يې فرانسې ډېر ځايونه ونيول. په ۷۷۴م. کال کې يې ايټاليه ونيوله، جرمني قبايل يې مات او د اسلام له سرښندونکو سره يې چې د فرانسې تر سويله رسيدلي و کلکې جګړې وکړې. په ۸۰۰ م. کال کې د مسيحيانو رهبر (پاپ،) د روم د امپراطورۍ تاج د فرانسې د حکمران شارلمان پر سر کېښود. د شارلمان د واکمنۍ په پای کې د هالنډ، بلجيم، المان، سويس، اتريش، چک، سلواک، هنګري، يوګوسلاويا، ايټاليا او د اسپانيا سيمې د فرانسې په واک کې وې.

تر لسمې ميلادي پېړۍ وروسته د فرانسې د شاهانو واک په تدريج سره ډېر شو. د کليسا رهبران له شاهانو سره يو ځای شول. سوداګري پراخه شوه او په صليبي جګړو کې د فرانسې ونډه ډېره شوه چې د فرانسې اعتبار يې په لوېديځ کې زيات کړ.

په ۱۳مه ميلادي پېړۍ کې فرانسه په اروپا کې يو قدرتمند هېواد ګڼل کېده، سره له ډېرو جګړو چې له انګلستان سره يې وکړې، په فرانسه کې مدني او قضايي اداري جوړې او څلورم فليپ د هنر، فلسفې او کلتور په برخه کې غوره خدمتونه وکړل.

د څوارلسم لويې واکمنۍ پر وخت د فرانسې کلتور ډېر پرمختګ وکړ، خو د پنځلسم لويي پر وخت فرانسه له ناورين سره مخامخ شوه او په تدريج سره د فرانسې لوی انقلاب ته لاره اواره شوه.

په ۱۷۸۹ ميلادي کې د فرانسې لوی انقلاب بري ته ورسېد چې د فرانسې او اروپا په تاريخ کې نوی څپرکی پرانيستل شو. د فرانسې اساسي قانون تدوين شو. ولسي جرګې په کار پيل وکړ. د باستيل مشهور زندان پرانيستل شو او انقلابيونو ونيو، بنديان آزاد او شپاړسم لويي اعدام شو. د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه اعلان شوه. شاهي نظام رنګ او د فرانسې د جمهوريت بنسټ کېښودل شو.

په ۱۸۰۴ ميلادي کې ناپليون د فرانسې د نظام مشر شو او د وفاداريۍ لوړه يې وکړه چې د نوموړي د حاکميت پر وخت فرانسې ډېر ځايونه ونيول.

په معاصر وخت ۱۹۴۰ميلادي کې فرانسه المانې ځواکونو ونيوله، خو د متفقينو د فشار له امله يې په ۱۹۴۴ ميلادي کال کې له فرانسې بېرته شا تګ وکړ. تر دويمې نړيوالې جګړې ۱۹۴۵م.کال وروسته فرانسې په تدريجي توګه خپلې مستعمرې له لاسه ورکړې. لومړی سوريه، وروسته ليبيا، لږ وروسته

تونس، المغرب، مدغاسکر، ، وېتنام، لاوس، او کمبودیا تر خونړیو جګړو په ترڅ کې په دې وتوانېدل چې خپلواکي تر لاسه کړي. په ۱۹۶۲ میلادي کال کې ورستنی افریقایي هېواد الجزایر خپله خپلواکي تر لاسه کړه او د فرانسې څلورم جمهوریت له منځه ولاړ.

په ۱۹۶۰ م. کال کې فرانسې خپل لومړنی اټومي بم د افریقا په دښته کې وازمایه او په چټکۍ سره يې د پرمختګ لاره ونیوله. نن ورځ فرانسه د جرمني او نورو اروپایي هېوادونو تر څنګ د اروپا د وحدت او یووالي لپاره هڅه کوي.

د فرانسې جمهوریت ۲۲ ولایتونه او ۹۶ ولسوالۍ لري. د فرانسې د نفوس ۷۵٪ خلک په ښارونو او ۲۵٪ يې په کلیو کې اوسېږي. په فرانسه کې جمهور رئیس د خلکو له خوا د پنځو کالو لپاره ټاکل کېږي.

په فرانسه کې صدراعظم د ګوندونو د ائتلاف له لارې چې په پارلمان کې ډېرې چوکۍ تر لاسه کړي، ټاکل کېږي. د فرانسې پارلمان دوه جرګې لري، لومړی ولسي جرګه National assembly چې ۵۷۷ غړي لري، چې د خلکو له خوا ټاکل کېږي او دکار موده يې پنځه کاله ده. دویم د مشرانو جرګه Senate ده چې ۳۲۱ کسه غړي لري. د مشرانو د جرګې د غړیو انتخاب د یوه انجمن له خوا چې Electoral college نومېږي, د ۹ کالو لپاره ټاکل کېږي. په فرانسه کې ولسي او مشرانو جرګه هر یو خپل مستقل رئیس لري. جمهور رئیس کولای شي چې ولسي جرګه منحله کړي. د مشرانو جرګې رئیس د دې واک لري چې د جمهور رئیس په نه شتون کې د هغه چارې سر ته ورسوي.

په فرانسه کې ګڼ شمېر ګوندونه فعالیت کوي. د بېلګې په توګه د فرانسې کمونېست ګوند، رادیکال چپ ګوند، جمهوري غوښتونکي، د فرانسې جنبش، ملي جبهه، ملي غورځنګ، د اصلاح غوښتونکو جنبش، سوسیالېست ګوند او نور.

فرانسه د نړۍ د اوو صنعتي هېوادونو له جملې څخه ده . پرمختللی اقتصاد لري او ټولو اقتصادي سکتورونو يې په متوازي ډول پرمختګ کړی دی.

نن ورځ په فرانسه کې د اقتصاد په برخه کې د دولت ونډه لږېږي، خو له دې سره هم د فرانسې دولت د اوسپنو د کرښو،برېښنایي تاسیساتو، هوایي کرښو او مخابراتو په برخه کې پانګه اچونه کوي. غواړي

چې په بنسټيزو اقتصادي پروژو کې چې عام المنفعه بڼه لري، خپل شتون خوندي وساتي.

د صنعت په برخه کې فرانسه زراعتي ماشين الات، د اوسپنې پټلۍ، ميراژ، جګوار، ترانسال، کانکورد، ايربس، الوتکې، هيلوکپټرې، موټرې، د ترانسپورتي وسايلو پرزې، د بربښنا د توليد ټکنالوژي، سامان الات، ساختماني وسايل، کمپيوټر، راډيو، تلويزون، کيمياوي مواد، ځمکني وسايل، عطرونه او نور توليدوي.

فرانسه د هغه اروپايي هيوادونو له ډلې څخه ده چې په ۱۹۹۹ م. کال کې يې د اروپا پولي واحد (ايرو) د خپل هيواد د پولي واحد په توګه منلی دی.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د فرانسې د تاريخي سابقې په برخه کې او دويمه دې د فرانسې د موقعيت، نفوس، مذهب او د فرانسې د خلکو د ژبې په برخه کې يو له بله سره خبرې وکړي او پايله دې په ټولګي کې ووايي.

پوښتنې

۱ـ په تېرو وختونو کې فرانسه په کوم نامه يادېده؟

۲ـ په اتمه ميلادي پېړۍ کې د کوم واکمن پر وخت فرانسې ډېر اروپايي هيوادونه ونيول؟

۳ـ د فرانسې لوی انقلاب په کوم کال کې پېښ شو؟

۴ـ په دويم نړيواله جګړه کې فرانسه د کوم هيواد ځواکونو ونيوله؟

۵ـ د دويمې نړيوالې جګړې وروسته فرانسې خپلې کومې مستعمرې له لاسه ورکړې؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې د فرانسې د لوی انقلاب په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

د انګلستان شاهي دولت



په دې لوست کې به د انګلیستان د تاریخ او د دې هېواد نورو مهمو مطالبو سره پېژندګلوي تر لاسه کړئ.

انګلستان د انتلانتیک سمندرګي په شمال کې پروت دی. په سویل کې د انګلنډ له کانال، په ختیځ کې له شمال سمندرګي او په لوېدیځ که له ایرلنډ سره ګډه پوله لري.د طبیعي جوړښت له پلوه انګلستان پر درېوو برخو وېشل کېږي.

لومړی په شمال کې د سکاټلنډ سیمه: دا سیمه د انګلستان په شمال کې موقعیت لري او غرنۍ سیمه ده.

دویم شمالي ایرلنډ یا اولستر : د اولسټر سیمه د ایرلنډ د جزیرې په شمال ختیځ کې واقع ده چې مرکز یې بلفاسټ نومېږي.

دریم د انګلنډ او وېلز سیمه ده: انګلنډ او وېلز د انګلستان د جزیرې سویلي برخه جوړوي.

انګلستان داسې یوه ځمکه ده چې له وړو او لوېو ټاپوګانو څخه جوړه شوی ده او په همدې توګه ځینې انګلستان ته د ټاپوګانو هېواد وایي.

د انګلیستان د ۷۲٪ خلکو دین مسیحي دی. ۲۵٪ خلک یې د نورو دینونو پیروان دي.

له اداري پلوه انګلستان په څلورو لوېو ولایتونو انګلنډ، وېلز، سکاټلنډ او شمالي ایرلنډ وېشل شوی دی.

د انګلیسانو ځمکه له پخوا څخه د اوسېدو وړ وه. د یخچال تر دورې وروسته دوه ډلې قبیلې له خپلو څارویو سره یو ځای له اوسنۍ اسپانیا څخه انګلېنډ یا انګلیستان ته مهاجرت وکړ. لرغون پېژندونکي دا قبیله د ایبري په نامه پېژني.


ډیوید کمرون، د انګلستان لومړی وزیر

په ۶-۴ ق .م پېړیو کې د سلت قومونه د ځمکو او څارویو د تر لاسه کولو لپاره له اسپانیې څخه انګلېنډ ته راغلل او ایبریان یې له هغه ځایه وشړل او پر انګلېنډ باندې د سلت د قومونو اخرنی یرغل په ۷۵ ق.م کې تر سره شو.

له میلاد څخه پنځه پنځوس کاله مخکې سزار ژویوس د ځمکو د نیولو په هیله پر انګلېنډ حمله وکړه، خو د رومیانو یرغلونه په ۴۳ میلادي کې پر انګلېنډ سختې شوې.

په پای کې په پنځمه میلادي پېړۍ کې د رومیانو قدرت کمزوری شو، ځکه نود جرمني له خاورې د انګلو او ساکسون قومونو پر انګلېنډ یرغل وکړ. د انګلو او ساکسون قومونو په ۸۲۹ میلادي کې د انګلېنډ یوالي تامین کړ. او اوسېدونکي یې پر یوه پاچا راضي شول. وروسته جرمنانو پر انګلېنډ حمله وکړه او له کلک مقاومت سره مخامخ شول او یوازې یې د انګلېنډ ختیځې او شمالي برخې ونیولې.

د پېړۍ په لومړیو کې د انګلېنډ پاچاه یو شمېر مدني او سیاسي حقوق په رسمیت وپېژندل او داسې فرمانونه یې صادر کړل چې له ننیو مدني بنسټونو سره یې ورته والی درلود. اشرافو، فیوډالانو او روحانیونو خپل ملاتړ له پاچا څخه اعلان کړ. د اشرافو د جرګې تر څنګ د عوامو جرګه هم جوړه شوه. په ۱۴۸۵ م کې هانري د تیودور له کورنۍ څخه پر انګلېنډ حاکم شو. د تیودور شاهانو پر انګلېنډ ۱۲۰ کاله حکومت وکړ. ډېر دیني او ټولنیز اصلاحات یې رامنځ ته کړل. د روم له کلیسا څخه یې خپله کلیسا جلا کړه او ایرلېنډ یې له انګلیستان سره یو ځای کړ.

په ۱۵۵۸ م کې ملکه لومړۍ الیزابت د انګلیستان حکمرانه شوه او انګلیستان یې د خپل وخت یو اقتصادي او پوځي ځواک وګرځاوه.

انګلستان د پېړیو په اوږدو کې د ډېرو تاریخي ټیټو ژورو او دوه معاصرو نړیوالو جګړو سره مخامخ شو. د دویم نړیوال جنګ تر پای وروسته په ۱۹۴۹م. کې انګلستان او امریکا د کمونېستانو د ورځ په ورځ ډېرېدونکي قدرت د مقابلې لپاره د شمالي اتلانتیک (ناټو) پیمان رامنځ ته کړ او په ۱۹۵۷ م. کې یې

خپل لومړنی اټومي بم وازمایه او په ۱۹۷۶م. کې یې د اروپا دګډ بازار غړیتوب تر لاسه کړ.

د انګلستان حکومت مشروطه شاهي constitutional Monarch دی او د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر تصویب شوی واحد قانون نه لري، خو اساسنامې، لوایح او د ولسي جرګې پرېکړې لري چې د اساسي قانون په څېر کار ترې اخیستل کېږي. ځکه نو ویلای شو چې د انګلیسانو اساسي قانون داسې یو ټولګه ده چې د سیاسي شرایطو سره سم په کې بدلونونه راتلای شي او ولسي جرګه یې ځینې برخې لغوه یا نوې کولای شي.

د انګلیس پارلماني نظام د کوم تدوین یا ترتیب شوي قانون په وسیله منځ ته نه دی راغلی، بلکې د پېړیو تدریجي تکامل بلل کیږي.

په انګلیستان کې پاچاهي میراثي ده، سره له دې چې په تېرو څلورو لسیزو کې ولسي حاکمیت، د اولسي جرګې له لارې د سلطنتي مقام امتیازات او قدرت محدود او را لږ کړی، خو بیا هم شاهي کورنۍ ډېر امتیازونه لري.

په ننني انګلیستان کې ملکه د یو شمېر صلاحیتونو په لرلو سره د ملي وحدت د ساتنې، د دولت د رهبرۍ، د نظام د تنظیم او د نهایي پرېکړې سمبول ګڼل کېږي. د قوانینو توشیح، د سولې او جګړې د حکم صادرول، د حکومتونو په رسمیت پېژندل، د قراردادونو او کنوانسیونو قبلول یا رد ول، ولسي جرګه ځنډول او د صدراعظم په مشوره یې رد ول، لویو او مهمو سیاسي، قضیو او ملکي دندو ټاکنه، د اشرافي القابو توزیع او د صدراعظم ټاکل. د کابینې وزیران د صدراعظم په غوښتنه د ملکې لخوا ټاکل کېږي. ډېر انګلیسي وزیران د ولسي جرګې غړیتوب لري او پاتې یې د مشرانو جرګې غړي وي.

د انګلیستان پارلمان دوه جرګې لري. لومړۍ ولسي جرګه چې ۶۵۹ غړي لري چې ټول یې د پنځو کالو لپاره د ټولټاکنو له لارې ټاکل کېږي. دویم د مشرانو جرګه ده چې ۵۰۰ کسه اشراف مادام العمر Life Peers غړي لري. دغه ارګان درې اصلي څانګې لري. ملکه، د اشرافو جرګه او د عوامو جرګه چې هر یو یې خپلواک دي. د قانون د ترتیب او تدوین په وخت کې د درې واړو توافق لازمی او حتمی ګڼل کېږي. انګلیسي پارلمان په هېواد کې د قانون جوړونې ډېر لوړ ارګان ګڼل کېږي.

په انګلېستان کې مختلف سیاسي ګوندونه فعالیت کوي، چې د ببلګې په توګه د متحد محافظه کار ګوند

Conservative and Unionist Party، ډيموکرات متحد ګوند Party Democratic Unionist، کارګر ګوند Labor Party د وېلز ګوند Party of Wales او د سکاټلېنډ ملي ګوند Scotland National Party نومونه يادولای شو.

انګلیستان د نړۍ د لوېو صنعتي هېوادونو څخه ګڼل کېږي چې مهمې صنايع يې لوېې او کوچنۍ فابريکې، مختلف ماشين الات او د هغو پرزې، اتومات سامان الات، نقليه سامان الات، الوتکې، لوېې او وړې بېړۍ، کرنيز وسايل، د اورګاډي پټلۍ، د انرژۍ توليد او د هغې تاسيسات، د مخابراتو وسايل، کېمياوي او غير کېمياوي توکي، ساختماني او نور وسايل دي.

انګلیستان د ۱۹۴۵م. کال د اکتوبر په ۲۴مه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا غړيتوب تر لاسه کړ او د ويتو حق لري.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې په انګلېنډ کې د لومړنيو اوسېدونکو په اړه او دويمه ډله دې د انګلیستان د اداري تشکيلاتو او ټاپوګانو په اړه يو له بله سره خبرې وکړي او د هغې پايله دې په ټولګي کې ووايي.

پوښتنې

۱ـ انګلیستان په څو ولايتونو وېشل شوی دی؟

۲ـ ۱۳مه ميلادي پېړۍ کې انګلستان له کومو بدلونونو سره مخ شو؟

۳ـ په انګلیستان کې ملکه کوم واک او صلاحيتونه لري؟

۴ـ په انګلیستان کې صدراعظم کوم واکونه لري؟

۵ـ د انګلیستان د مهمو صنايعو نومونه يادکړئ؟

له ټولګي څخه د باندې فعاليت

زده کوونکي دې له فرهنګي شخصيتونو او منابعو څخه د انګلیستان د پارلماني نظام په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې ووايي.

د څلورم څپرکي بياکتنه

د دولسم ټولګي د تاريخ درسي کتاب په څلورم څپرکي کې د شلمې پېړۍ د مهمو پېښو تر سرليک لاندې ځينې مطالب او موضوګاني تاليف شوي دي لکه: لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه او د هغوی لاملونه، د ملګرو ملتونو جوړښت، په يو صنعتي ځواک د جاپان اوښتنه د پخواني شوروي ټوټې کېدل، د آلمان، فرانسې او انګليس سياسي جوړښت چې په دې کتاب کې د امکان تر حده پورې دغه عنوانونه په پام کې نيول شوي دي چې د ۱۹۱٤- ۱۹۱۸ او ۱۹۳۳- ۱۹٤٥ميلادي کلونو تر منځ اقتصادي، سياسي ناورينونه پکې څېړل شوي او ګټور معلومات وړاندې شوي دي. همدارنګه هغه زيانونه، ناوړې اغېزې، او بشري تلفات چې د دوو نړيوالو جګړو رامنځ ته کړي پکې انعکاس مومي او هم په دې توګه لنډ معلومات د آلمان، فرانسې او انګليس د تاريخ، فرهنګ، ژبې او سياسي جوړښتونو په اړوند وړاندې شوي دي. بله موضوع چې د زده کونکو ذهن ته وده ورکولای شي: د پخواني شوروي ټوټې کېدل دي چې د قوي حاکميت په درلودو سره ټوټه کېږي. بل په لنډه موده کې په يو صنعتي ځواک باندې د جاپان بدلېدل، همدارنګه د ملګرو ملتونو جوړښت د دويمې نړيوالې جګړې وروسته چې څرنګه نړيوالې اړيکې تنظيم کېږي او له انساني فاجعو او کړليچونو څخه مخ نيوی کوي. دغه ټول مطالب زده‌کوونکو ته د انګيزو په را مينځ ته کولو او د مهارتونو په لوړوالي کې مرسته کوي.